www.momandpublictiions.com

(ناول)

www.momandpublications.com

# یو گام د سولې پر خوا

لیکوال:
پوهنیار داکتر عبدالعزیز موج

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

## د کتاب ځانګړنې:

**د کتاب نوم:** یو ګام د سولې پر خوا

**لیکوال :** پوهنیار داکتر عبدالعزیز موج

۰۷۸۹۶۹۱۴۰۵

**خپرندوی:** مومند خپرندویه ټولنه – جلال اباد

**برېښنالیک:** Momand.books@gmail.com

**ډیزاین چارې:** ایملیار ساجد

**چاپ کال:** ۱۳۹۵ لمریز – ۲۰۱۶ میلادي

**چاپ وار:** لومړی

**د چاپ شمېر:** ۱۰۰۰ ټوکه

**چاپځای:** د مومند خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه

**پتې**

**د چاپ ټول حقوق له خپرندویې ټولنې سره خوندي دي.**

ننګرهار: عبدالمجید مومند کتاب پلورنځی – مخابراتو څلورلاری

اړیکې: ۰۷۰۰۶۲۶۱۶۱ – ۰۷۷۷۶۲۶۱۶۱ – ۰۷۸۱۶۲۶۱۶۱

کابل: اصلاح افکار کتابپلورنځی / خیبر کتابپلورنځی / دارالسلام کتابپلورنځی / مستقبل کتابپلورنځی / پکتوس کتابپلورنځی./ پکتیکا: مجاهد کتابپلورنځی/ کندهار: امیر کروړ کتابپلورنځی / افغان کتابپلورنځی./خوست: غرغښت کتابپلورنځی / رحیمي کتابپلورنځی/ لمر کتابپلورنځی / سباوون کتابپلورنځی./ هلمند: سیدجماالدین کتابپلورنځی / عرفان کتابپلورنځی / تاج منور کتابپلورنځی./ پکتیا: علمي کتابپلورنځی./ غزني: قیومي کتابپلورنځی

www.momandpublications.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دليکوال خپلې خبرې

دا چې په سوله کې هم ژوند شته هم خوند نوڅکه دنړۍ سوله غوښنوکي هيوادونه او انسانان دسولې په خوا ليوال دي . هر انسان پوهيږي چې جنگ دتوپک له خولې وځي او توپک دپيسو دخاوندانو په لاس کې ده چې دخپلو گټونه پر ي دفاع کوي ، محکومه طبقه پرې ځپلي . بيا نو هغه هيوا چې له ډيرو کالو دجنگ څپو ځپلې وي خلک يې له ولږې ، بيکارۍ ، فقر سره مخامخ وي سوله ورته دجنت نه غوره ښکاري. ددې ناول [يوکام دسولې په خوا] په پا ڼو کې دسولې په اهميت ، قوت او ضرورت خبرې شوي دي .په اولو پاڼوکې دسولې دضرورت په باب معلومات ورکړل شوی دی دا چې خلک څومره له جنگه په تنگ دي او سولې ته ليواله دي ښکاره ده په دې پاڼو کې به يې ولولئ چې په هيواد کې دسولې دراوستو لپاره يوه کميټه جوړه شوه او تکل يې وکړ چې دسولې يو کاروان جوړ کړل شي.دکميټې دهر غړي فعا ليت بيل بيل تر شترگو کولی شئ .خصوصا دفاتوکۍ[مور] چې ورته ويل شوی ده دهغې هلې ،ځلې دقدر وړ دي او تاسوبه هم دهغې هڅو ته په درنه سترگو وکورئ دا چې مور څنگه دسولې پيغام په کليو ،ښارو او ښوونځيو کې دښځو او انجنو ته رسول او بيا دياغيانو له خوا نيوله کيږي ، وهله کيږي ، په ونه ځړوله کيږي دا حالت به ستاسو تر سترگو شي.همدا رنگه دروف کليوال او مخور فعاليت چې دبزگرانو په منځ کې پيل کړ کليوال يې دسولې له کاروان سره يوځای کړل او هم دوهاب ښونکي فعاليت په ښوونځی کې دهغه بيان زده کونکو ته لکه فيلسوف چې چاته دژوند لار ښيي،دواحد هلې،ځلې به هم مطالعه کړئ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی دیاغیانو له مشر سره خبرې کوي او یاغیان سولې ته را بولې په ځغرده به یې له سترګو تیر کړئ بیا چې دکمیټې غړي خپل مشر [عزیز] ته راپور ورکوي هم دستار کارګر تصمیم نیول دسولې په خاطر دکارګرانو په منځ کې به په پوره اطمنان ولولئ .په اخر کې چې دکارګرپه ورځ کې دسولې کاروان مارش کوي او په ټول هیوادوالو غږ کوي چې د سولې له کاروان سره یوځای شئ هغه یاغیان چې دسولې سره خپل پیوستون اعلانوي توپک په ځکه اږدي او دسولې بیرغ رپوي په دې پاڼو کې یې لوستی شئ خو هغه صحنه به تر ټولوتاسو ته خوندور وي چې عزیز بیان ورکوي او مور یې په خوا کې ولاړه ده دخپل دزوی په مبارزې فخر کوي خوله یې له خندا ډ:که او دسولې بیرغ رپوي ستاسو بدن به هم وپاره وي . او بیا به هم ولولئ چې خلکو دعزیز اودهغه مور [فاتوکۍ] ،او دسولې دکمیټې غړو په ټېر دغازي امان الله خان دسولې مډال ټمبي .او مور ته دګلو غنچه په لاس ورکوي دا مواداد به په وا صحیح توکه مطالعه کړی تا سو ته به دیوې اینې پشان ټولې برخې روښانه کړل شي.

په مینه

پوهنیارډاکتر عبدالعزیز موج

www.momandpublications.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

سر مې دجانان شو خو تنه مې له وطنه جار
څوک وايې د مينې په رقم زه نه پوهيـــږم؟

## (۱)

انسان سوله غواړي ، نړۍ سوله غواړي همدا دوه کلمي به تل د عزيز په خوله کې و عزيز چې دنړۍ له جنګ جکړې نه خبر شوپه دې هم پوه شو چې په جنګ ، جکړه کې انسان وژل کيږي عزيز ته فکر راغی .[سوله څه ده او دچا په ګټه ده؟جنګ څۀ ده او دچا په ګټه دهٔ؟سوله څۀ غواړي ؟ او جنګ څۀ غواړي ؟ ] نوځکه عزيز تصميم ونيوچې دنړۍ انسانان خبر کړي له ځانه سره يې يوځای کړي په هغه لار يې وخوزه وي چې دسولې نړۍ ته يې سر وتلی ده.جنګ ددوه متضادو قطبو څخه منح ته راځي يو يې دپيسو خاوندان دي دا بل يې روحانيت اوډير مزهبو نه دي.دا دواړه دجنګ عامل دي.دټولنې اکثر شته دپيسو دخاوندانو په لاس کې دي او مزهب دهغه ساتونکی دی .بې وزله خلک وهل کيږي ،رټل کيږي ،وږي کيږي .لوڅيږي غريبان دخپلو دګټو لپاره مبارزه کوي خو قمچينې او چړې دپيسو خاوندانو په لاس کې دي او مزهب دتوپک پشان استعمالوي.عزيز چې دير کتابونه لوستي و په دې ښه پوهيده چې هيواد او ټولنه دجنګ له کبله نباه کيږي دخلکو وينې بهول کيږي ، انسان وژل کيږي او په سوله کې انسان ارام وي،عدات وي، وروروليۍ وي ،نو ځکه عزيز کامونه پورته کړل او دسولې لپاره يې مبارزه پيل کړ.عزيز داول ځل لپاره يوې فابريکې ته لاړ تر څو له کار ګرانو سره يې وکوري.عزيز په دې پوهيده چې کارګران تر ټولو زيات استثماريږي .او تر ټولو ژر پوهيږي،بيداريږي .دظلم په مقا بل کې پاڅون کوي .فابريکه په پراخه ځمکه کې جوړه وه.دماشينو غرهار پورته کيده.تور او خړ لوګي به لکه چتر دفابريکې له پاڅه ليدل کيده.هرڅوک پوهيده چې کارګرانو ماشين په حرکت راوستی دی .دشنه اسمان لاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

دخړو وريځو پشان ګرد او غبار دکارګرانو دمټ،دخوزښت نتيجه وه عزيز په دقت ليده چې دکارګرانو څيرې انقلابي دي هغه پوهيده چې انقلاب نظم منح ته راوړي.زاړه مناسبات خوري او نوې زيره وي .دهر کارګر په سر کې شور موجود و.عزيز دهر کار ګر له متو الهام اخستو په تن کې به يې قوت پيدا شو.کارګران په خپلو کارو مشغول وو. خو عزيز قدم ، قدم تلو دکارګرانو ننداره يې کوله.لمر تودې وړانګې خپره ولې کرمي دځمکې تندی په قمچينو واهه.خړه خاوره به دباد ظالمو څپو په هوا پورته کړه.دفابريکې فضا يې خړه ګرځولې وه.څانښت تير شو غرمه شوه.کارګران ډوډۍ خوړو ته وزکار شول څه ښه ښکاريدل ديو ستر لاندې خړه او قوي کارګران.قطار ، قطار ناست وو.په اتفاق کې له نورو انسانانو ښه و. دميز دواړه خوا ته کارګران لکه دملک مشر چې تصميم نسي همدا سې ښکاريدل .عزيز دهغې چوکۍ له پاسه ځای ونيوچې ټول ميزونه يې مخکې ايښودل شوي وو.او دکار کرانو دواړه قطارونه يې په موازې توکه سترګو ته برابريده.عزيز چې دکارګرانو څيرې له سترګو تيرې کړې وپوهيده چې کارګرانو سوله غوښتونکي دي کارګران هيڅکله دجنک لار نه غوره کوي .هغوی پوهيږي چې ګټۀ په سوله کې ده،کار په سوله کې ده ، خوند په سوله کې ده، تعليم په سوله کې ده . نو ځکه کار ګران سوله غواړي .لا ډوډۍ نه وه خوړله شوې چې دکارګرانو خپل منځي خبرې روانې وې.نعيم کار ګر له خپل ژوند نه شکايت وکړ.[عجب وخت او عجب ملک دی کار موږ کوو ګټۀ دبل چا په جيب کې وليږي ] سرور پرې غږ کړ:په شکايت څه نه کيږي مبارزه په کار ده .په ټولنه کې فساد شته، په حاکمانو کې فساد شته،. که نړۍ دمطالعه لاندې ونيول شي په ټوله نړۍ کې جنګ ده.دهيوادو تر منځ جنګونه ، دکارګر و او فابريکو دخاوندانو تر منځ جنګو نه شتون لري دبزګر او ځمکو خاوندانو تر منځ جنګ دوام لري سرور زياته کړه:دا چې زموږ په ملک کې جنګ دي پوهيږي ؟دزوره ورو هيوادو دسيالۍ په نتيجه کې جنګ زموږ په هيواد کې پيل شوی دی .زموږ هيواد يې دجنګ ميدان ګرځولی دی .دسرور خبرې لا خلاصې نه وې ډوډۍ راوړله شوه.ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو گام د سولې پر خوا

کارگرانو په چپه خوله ډوډۍ وخوړه.خو يو ،يو خبرې به له يو خوا اوريدل کيدې عزيز هر څه اوريدل او ليده يې په دقت يې څارل.چې ډوډۍ خوړل پای ته ورسيد عزيز خپلې خبرې پيل کړي :_دکارگرانو قوت څمکه خوزه وي ، غرونه ړنکوي ، فاسد رژيمونه چپه کوي ،که چيرې دنړۍ کارگران سره يو ځای شي فساد له نړۍ ورکولی شي. په ټوله نړۍ کې به سوله حکم چلوي .زموږ هيواد خو تر ټولو سولې ته ضرورت لري ځکه چې ډير کالونه وشول [۳۰_٤۰کالو] چې نړيوالو بيا همسايه هيوادو[پاکستان، ايران سعودي عرب] پر موږ جنگ تپلی دی .زموږ په هيواد کې سوله مړه ده،تمدن مړ دی،نهضت خفه کړل شوی دی ، تورې ارتجاع ، سرمايدارې رژيم له موږ نه هر څۀ اخستي دي هره ورځ دافغان اولادونه مړه کيږي .زموږ هيواد لکه بټۍ داسې ده ددې بټۍ دسوخت مواد افغانان دي .بيگانه هيوادو نه دخپلو گټو لپاره افغانان په دې بټۍ کې سوزه وي .ښځې، ماشومان، بوډاکان ، ځوانان دا هريو داور دلمبو مړۍ گرځول شوی دی عزيز په نيغو سترگو کارگرا ته وکتل.تالار چپتيا نيولی وخو عزيز دا چپتيا په دې خبرو ماته کړه:_څه بايد وشي چې انسان مړ نشي؟څۀ بايد وشي چې هيواد مو زرغون شي،؟څه بايد وشي چې دوينو بهول ودرول شي؟[چپتيا] عزيز بيا دوام ورکړ:_بايد سوله وشي،بايد دټولو افغانانو تر منځ خبرې پيل شي،بايد دتوپک په عوض قلم او کتاب په لاسو کې واخلو.دټولو خولې بايد وازې کړو.ژبه په حرکت راولو،په يو غږ ووايو [موږ سوله غواړو] په نړيوالو غږ وکړو چې موږ ته دتوپک په ځای قلم او کتاب را وليږئ.زموږ اولادونه توپک ته ضرورت نه لري بلکه قلم او کتاب ته ضرورت لري . عزيز موتی پورته کړ:دا سوله به څوک راولي ؟په داسې حال کې چې دعزيز اننگې احساساتو پوښلی و په لوړ اواز يې وويل: دا سوله به کارگران او بزگران راولي. دا سوله به پرکنې او ولسونه راولي.[جيجک او شعارونه] _ژوندي دوي دخلکو تر منځ يوالی ،موږ سوله غواړو ، له جنگ نفرت کوو،نابود دوي جنگ، جنگ وينې بهوي ، سوله نړۍ اباده وي .دعزيز اواز لکه اسماني تندر دکارگران په غوږو ولکيد. عزيز وويل_ زه ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو ګام د سولې پر خوا

داول ځل لپاره دکارګرانو دکار ځای ته راغلم چې دسولې کاروان له همدې ځایه په حرکت راولو. دسولې بیرغ چې دکارګرانو په لاسو پورته شي هغه بیا څوک نشي ټیټولی پر مخ به ځي دسولې بیرغ دهیواد په غرو،دښتو کلیو باندې، ښارو کې به په رپا وي عزیز په کار ګرانو غږ وکړ:ـ تاسو دا کاروان پر مخ بیولی شئ ؟ دا کاروان خپل هدف ته رسولی شئ؟خلیل کارګر په بریتو کوتې ووهلې په داسې حال کې چې کارګري دریشي یې په تن و اوچکش یې په موټې کې نیولی و وویل- موږ په کامل ایمان او قوت سره دا دسولې کاروان پر مخ بیا یوو. دښمن ته به اجازه ور نه کړو چې یو کا م مخکې راشي. او زموږ په هیواد کې دجنګ اور بل کړي . موږ به افغانان په دې وپوهه ووچې بیګانه هیوادونه په چل او فریب غواړې موږ افغانان په خپلو کې په جنګ واچوي او نه غواړي چې موږ دا دسولې کاروان پر مخ یوځوو. خلیل کارګر وروځې پورته واچولې زیاته یې کړه:ـ کارګران چې سیندونه مهارولی شي، غروه ړنګولی شي، سوله هم راوستلی شي.

سلیم کار ګر پورته شو په داسې حال کې چې دسولې سپین بیرغ یې رپاو وې ویل- دا سپین بیرغ چې دسولې بیرغ ده دا دوه سپینې کوترې چې په خوا کې وینئ دا به دهیواد په کوڅ ، کوڅ کې ورپاوو.هو! دا به دکارګرانو په متو ورل کیږي .خلک به دځان پسې دسولې لپاره په حرکت راولي. جبار کارګر موټی پورته کړغږ یې ټولوکار ګرانو اوریده ـ دښمنان دپه دې پوه شي چې افغانان به هیڅا ته سر ټیټ نه کړي موږ له ټولو انسانانو سره په سوله کې ژوند غواړو. موږ له ټولې نړۍ سره په سوله کې رابطه غواړو. او که بیا څوک زموږ هیواد ته جنګ راولي داسې غاښ ماتونکی ځواب به وکوري چې بچیان یې په ځانکو کې په چیغو شي. دچنګ اوربلونکي د وپوهیږي څوک چې چیرې اور بلوي دده لمن هم پکې سوزي .مخ یې په لوګي توریږي ډیرو کار کرانو خپلې خبرې وکړي هریو دسولې لپاره خولې وازې کړې وې دخبرو اخره وه چې عزیز دسولې شعار وغوړاوپه منځ کې دسولې سمبول چې دوه کوترې په خلاصو وزرو دپرواز په حال کې و په خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

کې دقلم او کتاب نصوير انځور شوى و.دفابريکې په لويه دروا زه يې وځړاو تصميم ونيول شو چې دپنجشنبه ورځ به دسولې کاروان دمارش په شکل ښار ته روانيږي .ترڅو چې خلک دسولې لپاره په حرکت راشي.دا ورځ ډيره کرمه ورځ وه له فضا نه دتودوښي غونډاري ويشتل کيده دځمکې مخ تودو څپو پوښلى وله بلې خوا نه دخلکو زړونه داسې په چوش راغلي و چې دچا خبره ترې اورونه باديده.هر چا له جنګ نه نفرت کاواو زړونه يې دسولې په وزرو پروازونه کول په ښار کې ګڼه کونۀ ډيره وه دښار دسرکو غاړو، پلي لارو ، پارکو کې دسولې بيرغونه په رپا وهمغه دوه سپينې کوترې دخلاصو وزرو سره هرچاليدې لکه چې دسولې زيرى يې دښار خلکو ته غوږه ولى و.لکه چې دهيواد خلک يې دسولې له کاروان سره يو ځاى کول ښار په شعارو ښايسته و.ددوکانو ددرواز له پاسه دسولې کوترې دالوتو په شکل انځور شوي وو.دا دجلال اباّد ښارو چې دهميشه بهار په نوم يې شهرت درلود شين او ښايسته ښار او په دې ښار کې کارګري نهضت او انقلابې سرونه چې دسولې لپاره يې خوزول .په دې ښکلي ښار کې خلکو دسولې پيغامونه يو بل ته ورکول دلمر وړانګو چې دغرو په منارو وزرونه خلاص کړل او په ورووړو لمر داسمان په شين تندي لار وهله بيا نو دهر چا په زړه کې همدا هيله په ترپاوه چې دسولې دکاروان سره دسرک په مخ کامونه پورته کړي اته بجې به وې چې دښار شکل بل ډول شو په چيپو ، چيپو کارګران دسولې له بيرغو سره دمارش لپاره دښار په لور دحرکت په حال کې و ددرونټې کارګران اوله څپه وه چې دښار څنډۀ يې لاندې کړه دکار ګرانو سره کليوالي خلک هم ملا تړوومارش يې بدرکه کاو.دوهمه څپه چې دښار لمن يې ونيوه داډې کارګران و دريمه څپه دثمر خيلو کارګرانوچې دتوپانې څپو پشان په سمندر و رګډ شي.او سمندر په ګډآ راولي.ښار دنندار چيان دتماشو ځاى ګرځيدلى وټول ښاريان دمارش کوونکو سره يوځاى شول تا به ويل چې اوس به غرونه ولرزيږي ، تا به ويل چې اسمان به دځمکې خلکو ته دسولې پيغامونه ووره وي.،تا به ويل چې دښار خلکو وزرونه پيدا کړي اوس به والوزي چيرې چې جکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

کونکی دی ، چیرې چې دسولې دښمن دی ، چیرې چې بم اچونکی دی ،لاسونه به یې پرې وترې دهر چا خولې به دسولې لپاره خلاصې شي.غبرک ، غبرک اوازونه اوریدل کید [مونږ سوله غواړو ، مونږ په خپل هیواد کې سوله غواو،زمونږ هیواد دسولې هیواد دی نه دجګړې ،ټولې نړۍ ته مونږ دسولې کوتر استوو، نړۍ نه مونږ سوله غواړو.،ژوند په سوله کې دی ، خوند په سوله کې دی ] له داسې شعارو سره خلک په چوس او خروش روان وو.دمارش کوونکو له منځه یو کس را پورته شو دهغه چې رسۍ تر ملا تړلی ولاسونه یې په هوا کې خوزول ناري یې وهلې [ سوله ، سوله ، سوله ] بیا په جک ځای کې ودرید ټولو لیده چې کنجی سر یې وپه ټاپو، ټاپو ځای کې یې لنکړي ویښان شنه و.مخ یې په خاورو سپیره خو متې او پنډې یې قوي وي هغه په ډاکه وویل:په سوله کې دهر چا ژوند ښه وي،کارګرانو ، مزدورانو ته وخت وي چې کار وکړي هغه ورځ چې په ښار راکتونه ددښمن له خوا ونه اوریږي مونږ مزدوران ډیر کارکووخوچې په پیسو خرڅ شوي کسان،دپردو مزدوران، په ښار راکتونه ووره وي او یا ځان وژونکې ځان والوزه وي څوک کار نشي

کولی کنجي سړي په ډاکه وویل: دروغ نه ده،ربښتیاده،تیره هفته چې په ښار راکتونه راغلل او یو کس ځان وژنه وکړه بیا په ښاروالۍ حمله وشوه.په ښار کې څوک نه لیده کیده زه دجنګ په میدان کې بند پاتې وم.دپله لاندې پروت وم دوه سپیان هم زما خوا ته پراته وویوه هفته مې کار ونه کړوماشوم مې وږي ویده کیدل دپیسو خاودانو مرسته نه کوله کنجي سړي لاسونه موټی کړ وویل: راځي چې داسې سره یو ځای شو لکه زما دا دواړه پنچې چې سره یوځای دي .دسولې لپاره منډې ووهووکنجي هلک دوه سپینې کوترې هواته والوزولې غږیې کړ:لاړې شئ ټولې نړۍ ته زمونږ پیغام ورسوئ.ورته ووایې چې دا ځپلې خلک نور جنګ نه غواړي.دتوپک په ځای مونږ ته قلمونه واستوئ.دا وخت دنارنجوګلانو دجلال اپآد ښار ښایسته کړی،دهر ګل دشونډونه دسولې پیغام پورته کیده په هر ه پاڼه کې خوښبوي په ګډاو دانګورو لښتې سندرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

ويل.توتيانو او بلبلو دمستۍ ترانې غږولې فضا،هوا ، ځمکه دسولې بيرغو ښايسته کړی و،دچا په ماغزو کې دتوپک اواز نه برېنګيده.دغرو له څوکو دراکت دفير لوګی چا نه ليدو.خلک داسې په مستۍ و چې کنې جنګ خپله خوله بنده کړې ده.اوسوله په نڅا، نڅا دهر چا کور ته ، دهر چا حجري ، ديرې ته او دهر چا غيږ ته راځي.مارش کوونکو بې له دينه چې دبم له انفجار نه وويريږي اوږه ، په اوږه له هيجانه ډک روان وو.لکه چا ته چې څوک دخوشالۍ زيری را وړي .هغه ځای ته ورسيدل چې دبيان لپاره ستيج جوړ شوی و.دا دجلال اباد دښار منځ و دپښتونستان دڅلور لاري په نامه ياديد مارش کونکي چې دی ځای ته ورسيدل دهر چا په زړه کې دپښتونستان نوم ژوندی شوهغه سيمه ، هغه دغروروراو د بدبوخاوره چې دښمن ته يې سر ټيټ نه کړو.دهغو پښتنو يادونه تازه شول چې مغل، انګريزبيا دپنجابې حکومت سره يې دخپل دمټ قوت ازمويل.هغه پښتانه چې شمله ور پښتانه وچې دخپلو وينو په قيمت يې دازادۍ ، خپلواکۍ ،او دسولې لپاره دانساني ژوند لپاره ، دحقيقت لټون لپاره،مبارزه کولو. همدا څلور لارې دهمغو ميړنو په ياد نومولول شوی و. نه يوازې دا مارش کوونکي په همدې تاريخې څلو رلاري چاپير ولاړ دي دتاريخ خاطرې تازه کوي بلکه دټولو ملي ورځو لمانځل دهمدې څلور لار ي په لمن کې ادا کيدل دسولې کوترو او بيرغو فضا روښانه کړې وه هلته چې دافغانستان درې رنګ بيرغ وزر رپاودسولې بيرغ په خلاو وزرزوچې کوترې پرې له پاسه انځور شوې وې هم په رپا و.دچيچکو په منځ کې يو انسان چې دسولې سمبول يې په ښي اوږ:ه ټمبلی و دستيج له پاسه وليده شو.نری ځوان هلک لا يې دسر سپين زلفان په نقد په ځوانۍ نه وه بدل کړي دمستې ځوانۍ په څوپو کې وهغه لکه دپسرلي ګل چې تازه هواته غاړه وحوزه وي او دده حرکته نه انسان دنوي ژوند په لور حرکت وکړي دده له خوښبوۍ نه انسان مستي واخلي.همداسې دځوان هلک دحرکت نه به خلک په حرکت راغلل.لکه چې مرغه هواته پرواز کوي او داوږده مزل لپاره وزرونه خلاص کړي دا ځوان هلک [عزيز] نوميده عزيز هغه انسان و چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

حقيقت پوه و.هغه ډير هغه کتابونه لوستي وو.چې انسان ته پکې احترام پروت و.دانسان عزت ، کرامت ته په درنده سترګه کتل کيده.عزيز ټولنه نړۍ دعلمي جهان بيني له کبله ښه مطاعله کړې و.دعزيز په وينه کې دانسان محبت نقش ونو ځکه يې هغه کاروان رهبري کاو چې سولې ته يې سر وتلی و .عزيز پوهيده چې سوله دانسان لپاره خوښبختي راولي.ژوند يې سمبالوي.عزيز چې دستيج له پاسه ودريد دواړه لاسو پنجې يې موټی کړل په هوا يې ښوراو.يو هيجانې حالت په ښار کې خورو.نارې اوريدل کيدې [موږ سوله غواړو، موږ دسولې کار وان پسې روان يوو،سوله انسان ته عزت ده سوله ،سوله ۰۰۰ ]له هرې خوا دسولې کوتر ې هواته پورته شوې ازادې شوې.ملاقي شوې .کوترو دسولې او ازادۍ غمپر وهلواو خلکو تماشا کولو.دټولو خلکو په خوله کې خندا په نڅا وه .عزيز چې غبږ پورته کړفضا چيتيا ونيوه.دهر چا سترګې دعزيز په خوا وې دهر چا غوږو نه دعزيز په خوا څرک و.عزيز چې يوه سپينه کوتره په موټي کې نيوه هواته يې پورته کړه او دسولې اوازونه له هر خوا اوريدل کيده.عزيز چې موټی پورته کړ دخلکو خولې بندې شوې _ وطنوالو!ښاريانو!دکليو او بانډو خلکو! زموږ حرکت ، زموږ مارش دسولې په خوا ده زموږ خلک جنګ نه غواړي ، بلکه سوله غواړي ،موږ جنګ کونکو ته دا پيغام استووچې ژوند په سوله کې ده خوند په سوله کې ده.په جنګ کې دانسان وينې بهيږي هغه انسان چې له ټولو ژونديو موجوداتو نه نجيب مخلوق دی دعقل خاوند دی ،دحرکت او برکت خاوند دی ،دوی حق لري چې ژوند وکړي دوی حق لري چې ژوندي ووسي.جنګ ټولنه دنابودۍ په خوا کشوي.په کډ اواز وويل شو:[نابود دوي جنګ،ای دپسسو ، زرو او زور خاوندانو!، ای چې دمزهب په حلقو کې مو انسانان را چاپير کړي دي !پري:ږديځ چې دهيواد ماشومان وخاندي،په سوله کې ژوند وکړي ، ژوندی دوي سوله] چيچکو او نارو فضا په سر اخستې وه دنارواو غالمغال په منځ کې دعزيز غږ پورته شو هغه وويل _ای دسرمايې خاوندانو! ای پردو مزدورانو! ای دجنت په تمه دروغجنو مزهبي کسانو!راشئ له موږه سره په سوله کې ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړئ.انساني کرامت ته غاړه کيږدئ حقيقت ومنئ او حق ته تسليم شئ.چيچکې [حق دهر انسا برخه ده]عزيز هوا واخست اوږد نفس يې وويست په تيزو او زيړ رنګو سترګو يې نيغ، نيغ دمتېنګ بررخوالو ته وکتل دعزيز په سترګو کې چې دمهربانۍ احساس پروت و په شونډو کې يې پسته او نرمه لحجه خوزيده خو چې کله به په هيجان راغی دخلکو دردونه او وينه بهيدل به يې په زړه را چپه شوهغه مهربانه سترګې به يې په قهري او توپاني سترګو بدلې شوې هغه نرمه ژبه به يې دفولا پشان کلکه او انقلابي شوه هغه ځيره چې به دخلکو په زهن کې ښه بريښيده اوس لکه مست ځوان چې دځوانۍ په نيشه کې مست شوی وي داسې به يې دځوانۍ په چوش خبرې کولې.هر خبره به يې لکه اور لبمه داسې توده وه.دخلکو زړو ته به ټکر ورکاو.عزيز دوام ورکړ:چا موږ ته جنګ راوړی ؟چا له موږ سوله واخسته؟ايا دانسان لپاره کار کول ګناه ده؟، دهيواد اباده ول جرم ده؟تعليم ته تکامل ورکول جرم ده؟عزيز زياته کړه:موږ خو تاسو ته ډيوې بلې کړې وې موږ خو ستاسو په لاې کې څراغونه بل کړي ووموږ خو دکارګرانو ، بزګرانو او خواريکښانو په قوي متو تاسو لپاره ديموکراتيک نظام را وستی واو ديموکراتيکه ټولنه مو جوړه کړې وه موږ په همسايه هيوادو کې هم دا ډيوې بلې ساتلې.تر څو خلک هغه لار ومومي چې چې انساني نړۍ ته يې سر وتلی ده، تر څو خلک په نس ماړه شي،دا خو نه جرم دی نه ګناه.نو ولې ياغيان ، ولې کاونډ هيوادونه زموږ کورته جنګ را بلي.زموږ کلي ، کورونه ، ښوونځی ، روغتونونه ، لارې او پلونه ورانوي زموږ دتنګيو ماشومانو په ستوني تيغ اړدي،زموږ دسپيڅلو ښځو تيونه پريکوي .بوډاکانو ، ماشومان ،ښځې او ځوانان مو په بمو وژني ؟.عزيز چې دجزبې په حال کې و په اننګو کې يې احساساتي څپې چورلکي وهلې.خپلې خبرې يې داسې اوږدې کړې :_ياد يې ولرئ !څوک چې دچا کور ته اور اچوي دهغه کس کور ، ړيره او لمن هم په اور کې سوزي.اور دچا مخه نه کوي اور خپل او پردی نه پيژني لکه توپک چې دچا په لاس کې وي دهغه ده. توپک چې دبل لاس ته راشي بيا خپل اول څښتن ته خوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

واړه وي .اور هم داسې ده.زمان به راشي زموږ په هیواد کې به سوله وغوړیږي .موږ دسولې کاروان روان کړی دی دا کاروان په کلیو، باندو، ښارو، دښتو ، غرونو ګرځي خلک ویښه وي.په حرکت یې راولي.له کاروان سره یې شریکه وي.دغونډې خلکو هلته دلته  په خپلو منځو کې خبرې کولې .بي بي ګل چې پخه ښځه وه ځوی یې دبم په انفجار کې شهید شوی وپه خوا کې ولاړې ښځې  ته یې په نرمه لهجه وویل_داهلک هوښیار ده ټولې خبرې رښتیا کوي .دبي بي ګل زړه غوټه ، غوټه شو مړه اوښکه یې له غمجنې سترګې وښویده.دمخ په کنځو یې لار وهله لکه بې کوره مسافر چې دکلي لار ورکه کړې وي په پټو کې کوږ وږ روان وي او نابلد کلي ته دشپې تیرولو لپاره روان وي خانم ګل د بي بي ګل په سینه دلاس سپیړه کیښوده هغې
چې وچه ژبه په خاورو ککړو شونډو وګرځوله وې ویل:_لکه ته چې غمجنه یې زه هم دجنګ په اور سوزیدلې یم.خانم ګل زیاته کړه:_یوازې زه او ته نه یوو دهیواد خلک یو هم بې داغه نه دي پاتې .دچا پلار دجنګ مړی شو،دچاځوي ، دچا مادینه، دچا پلار دچا مور ، وروراو خور .له هر کوره یو یادو کسان دپردو په تپل شوي جنګ کې مړه شوي دي .داسې هم شوي چې یوه کورنۍ ټوله دجنګ داور په بټۍ کې دلرګو پشان سوزیدلي دي .هډونه یې ایرې شوې  یا خو یې دخپل دمړي اندامونه هم نه دي لیدلي.خانم ګل ادامه ورکړ:دوه میاشتې به کیږي لا کم ، زیات.وروړمې ښار ته تللې و خپلو بچو ته یې داختر لپاره جامې اخستې ددوکان مخکې ولاړ وچې یو چا دجومات په دروازه کې ځان وژنه وکړه دوکان مخامخ دسرک بل اړخ ته جوړ و وروړمې هلته ولاړ وپه ځان وژنه کې ډیر مسلمانان چې دعبادت لپاره راغلي و مړه شول مړه څه چې اندامونه یې په هواکې پارچه ، پارچه شول یوچا د بل چا لاس  یا پښه نه پیژندلو.زما ورور هم ددې انفجار قرباني شو تر هغو یې چې  روغتون ته انتقالوسا یې ورکړه دهغوو دواړو ښځو خبرې دوام درلودې چې صابرو په څنګل ټیله کړه: غلي شئ ! موږ ستاسو خبرو ته غوږ شو یا دهغه ځوان هلک خبرو ته ؟ نه کوري څه ښې خبرې کوي.صابرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

خپل ويښتان کيدی کړه زياته يې کړه: هغه هلک رښتيا وايې ولې زموږ په هيواد کې جنګ ده؟ولې افغانان مړه کيږي ؟ عزيز چې په تورو غټو بريتو کوټې ووهلې دوام يې ورکړ: په ډاکه او بربنډه توکه يې وايم: زموږ هيواد [افغانستان] ته جنګ زموږ کاونډ هيوادو راوستی .[پاکستان، او ايران] دوی نه غواړي چې افغانان په کيډ ماړه شي په پښوکې يې دمنډو توان پيدا شي، په متو کې يې دناروا او تپل شوې کربښې [ډيورن] دماتولو توان پيدا شي.ځکه: چې په قوي پښو ځغلي او په قوي متو دا تور ه کرښه ماتولی شي.هغه افغانان چې دې تورې کرښې سره جدا کړي دوباره يې يوځای کوي.قوي او فولادي لاسونه ځينې جوړه وي .خپله خاوره به خلپه کړي دپردو له يوغ نه به ازاد وي .همدا علت دی چې ناولې ،تيټ همته کسان په پيسو اخلي خپل ځان پرې ژوندی ساتي زموږ هيواد ورانه وي ، زموږ خلک پرې وژني .هغه ډيوه چې موږ دديموکراتيک ټولنې لپاره روښانه کړې وه خفه کوي يې او وژني يې.دوی غواړې چې موږ په تيارو کې وساتي دتيارو زهن خاوندان روښانه لار او روښانه نړی نشي ليدای نو ځکه ځان په پردو خرڅ کړي دبل غلام شي.بيا خپل هيواد ورانه وي او خپل خلک وژني .خو په دې نه پوهيږي چې دا داور لمبې ددوی کور هم سوزوي .دا جنګ ددوی دکور دروازې هم ټکوي .کډ اواز پورته شو[موږ هيچا ته اجازه نه ورکوو چې زموږپه خاوره کې يو کام کيږ دي.هيچاته به اجازه ورنه کړو چې دجنګ اور زموږ دکور په نغري کې بل کړي ] عزيز لاس پورته کړ[چپتيا] هغه زياته کړه:ددې جنګ ، ددې اور په بلولو کې دنړی سرمايداري هيوادونه لاس وهنه کوي دنړی توره ارتجاع، او دمزهبي کسانو ناوړو کړيو پښې غزيدليدي ځکه چې دسرمايداري رژيم دنړيدو امکان دديموکراتيک نهضت په فعال کيد او تکامل کې شته. دارتجاع دا تورې ځيرې همدا ديموکراتيک نهضت خلکو ته ښکاره کوي او دمزهبې اخوندانو ، شيخانو ږيرې سوزوي .دوی به ونشي کولی چې خلک په خپلو دروغجنو حلقو کې را چاپير کړي .عزيز ټولو کډونکونکو ته سترګې وغړه ولې ـ ټولو مزهبو دخلکو زهنو ، فکرو اوعقل ته ځنځيرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو گام د سولې پر خوا

اچولې دي اجازه نه ورکوي چې دورکو او زهني شيانو په هکله عقلي فکر وکړي ، اجازه نه ورکوي چې عقل خپلواک وي .کله چې فکر ، زهن، ماغزه،دورکو او مبهو شيانو دبربنډولو آويا نه موجوديت په هکله کار کوي وايې چې ستا دفکر توان تردې حده ده نور پورته نشي فکر کولی.يا وايې ستا دفکردقوت وزر نشي کولی چې والوزي پټې خبرې روښانه کړي چې دا رښتياده او يا دزهن په چوکات کې ددروغو په پردو کې پيچلی شوی دی ددې لپاره چې سرمايدار خپله سرمايه وسا تي دروغجن کسان چې خپله کيده مړه کړي اوتوره ارتجاع په همغه تيارو کې دخلکوو له ګټونه ځا ته ژوند جوړکړي دا درې واړه پديدي ]مزهب، سرمايه،او ارتجاع] په کډه کارکوي ديموکراتيک نهضت، کارګري جنبش، ازادي ښښونکې جنبش چې په هر هيواد کې سر پورته کړي او وړانګې يې لارې روښانه کړي دخلکو زهنونه نوی کړي خفه کوي يې.دا خفه کيدل دجنګ له لار کيږي عزيز غاښونه سر يوځای کړل خلکو ته يې کتل همدا وخت کې د مير حسين کار ګر غور او ډډ اواز پورته شو_ نه يې منم ، نه يې منم ،نه يې منم نه يې سرمايداې منم نه يې دروغجن ملااو نه توره ارتجاع.زموږ کار ګرانو متو ته څوک نشي دريدای .دکارګرانو نهضت لکه دتوپا ن پشان به دستمګرو زور مات کړي خليل کارګر ورسره خبره غبرکه کړه::موږ يوازې نه يو دنړۍ کارګران [دلندن، اطريش، دامريکا، داشيا ، اروپا ] دا ټول کارګران زموږ ملګري دي خليل کارګر وويل: دجنګ اور بلونکو ته موږ په ډاکه وايوو[دا دسولې کاروان ، دا ديموکراتيک نهضت،کاروان چې موږ روان کړی دا به ځي دا کاروان سرحد نه پيژني .ځکه چې سوله دټولې نړۍ دزحمتکښانو غوښتنه ده.په سوله کې ژوند خوندي ده،له جنګ نه نفرت موږ سوله غواړو.دا خبره په کډ اواز ټولوکډونکونکو وويل.دمتېنک په څنډه يو ډنډو غوندې سړی ولاړ ودهغه جامې کارګري جامې نه وې او نه يې کارګري خصلت درلودلکه چې داشرافو نه و.دخواسړي سره دشونډو په منځ کې غړيده_ همدا تاسو ځوانانو انقلاب وکړوپه وطن کې مو داور شغلې وشندلې ملامت څوک شو؟جک قدی ځوان چې غنم رنګه څيره يې وه دکونګرو پشان

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو گام د سولې پر خوا

دسر ویښتان یې غوټۀ ، غوټۀ ښکاریده هغه چې همدا نن بریت او ږیره خریلي وه اشرافي سړي مخې ته نیغ ودریدپه داسې غږ چې دعزیزخبرې اخلال نشي وویل _:لکه چې داشرافیانو له ډکلې یې که څنګه؟هغه زیاته کړه : ټولواشرافیان او باداران له انقلاب نه څنګ کوي .ډارلري ځکه ډارلري چې انقلاب عدالت منځ ته راوړي.نظم په ټولنه کې برابروي.دانقلاب مانا همدا ده چې نظم راوړي.ځوان هلک چې په کوتو خپل ویښتان ږمنځ کړ دوام یې ورکړ:اشرافیان او باداران هسې له انقلاب نه ډار لري.انقلاب داشرافیانو او بادارانو غاړې نه پریکوي.دهغوو لپاره هم انساني ژوند برابروي.اوس چې یاغیان دنهضت په ضد جنګیږي دټولو لپاره مضر دی دتوپک کوګۍ اشراف او غریب نه پیژني .دهر چا په سینه چې برابر شو اشرافي سړی خجالت غوندې شوخو ځان یې ملامت نه ښوده په وجدان کې یې تغیر راغلی و.په دې ښه پوه و چې دعزیز خبرې دسولې لپاره دي خو اشراف او بادار کله ځان چا ته ټیټ ښکاره کوي .دلاس سپک یې په وتلي کیده کش کړ :نه یې منم هر څه له بیخ نه خراب شو.په خوا کې سړی چې کارګري جامې یې په تن وې پیکداره خوله یې په تندي کشه کړه _ اشرافیان او باداران کله ښه خبره مني؟که ورته ووایې چې غریبان له تیغ نه تیر کړل شي دستي یې درسره مني.پښې به ور پسې دربوې وایې به :دا غریبان چټل خلک دي له بدن نه یې دخولو بوۍ پورته کیږي باید نابود شي.اشرافیان او باداران غولان دي په دې نه دي خبر یا خو ښه خبر دي ځانونه ناګاره اچوي که همدا غریبان کار ونه کړي ، بزګران غلې دانې ونه کرري اشرافیان او باداران به څه وخوري ؟کارګر پسې .زیاته کړه:که زه ماشین په حرکت رانه ولم ستا بدن به لوڅ وي هغه جدي شو وویل : ستا دمیرمنې په سینه چې دسرو زرو لونګین ټالوونه وهي دا دکارګر دلاس حا صل دی هغه خولې تویه وي خو ستا میرمن دعطرو په چینو کې لامبي ،کارګر په کوته اشاره وکړه:دا ځوان چې همدا اوس خبرې کوي دا یو دیموکراتک ځوان دی دیموکراتان ، کار ګران ، بزګران په یو لار روان دي .هغوۍ غواړې دټولو خلکو لپاره اجتماعي حقوق په تول برابر ورکړل شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو ګام د سولې پر خوا

.باداران دهم کار وکړي ، کارګران او بزګران دهم کار وکړي.بیا به نو په هیواد کې نه جنګ وي نه جکړه.دا وخت کې دعزیز جزبه ناکه اواز پورته شو:موږ دچا په مری تیغ نه اړدو.انسان وژنه ګناه ده ، جرم ده.موږ په کاونډ او لري هیوادو غږ کووچې دسولې نړۍ جوړه کړئ په سوله کې ژوند وکړئ، له جنګ نه نفرت وکړئ، پریږدئ چې په نړۍ کې دماشومانو خولې وازې وي، زده کړه وکړي ، تعلیم وکړي تعلیم او زده کړه په سوله کې کیږي .ددې تنکیو ماشومانو غاړې مه پریکوئ!دمور کانو ستوني مه خفه کوئ!پریږدئ چې مورکانې په خپله سینه کې نازولي لوی کړئ ، پریږدئ چې پیغلې په خپلو اوږو دچینې یخې اوبه خپلو مورکانو او پلارو ته راوړئ!، پریږدئ چې کودر په پیغلو ښایسته ښکاره شي! پریږدئ چې نازنینې پیغلې دپسرلي په ورځو کې له دښتو ، دغرو له لمنو دغاټول ګلونه غنچه کړي!په وربل یې وټمبي . پریږدئ چې پیغلې په خپلو سرو منکولو دکورکورو او مامانو دانې را ټولې کړي !دعزیز له بریتو دوطن پالنې احساس پورته کیده د وینو سره رکونه یې دغمبورو په سر هر چا لیده هر چا لیده چې څومره دسولې امیدونه دده ارمان دی .هر چا به ویل : نارینه ځوان همداسې وي..عزیز چې له سږمو نه هوا وویسته وویل: ای دنړۍ خلکو! مه وژنۍ دا ښایسته ګلان مه وژنۍ!دا دپیغلو ښایسته صورت په وینو مه لړۍ!دا دځوانانو دهوس مرغه دسپیرو خاورو لاندې مه کوئ!دا دکوه قاُ دښاپیرو وزرونه مه لندوئ!پریږدۍ چې ازاد پروازونه وکړي ! عزیز موټی پورته کړ::ولې زموږ بوډاکان وژل کیږي ؟ولې زموږ جوماتونه په بمو ورانیږي ؟ولې زموږ په ښونځیو داسپنو باران اوریږي ؟هغه ټول ته نیغ وکتل وې ویل:دا څوک کوي ؟دا ولې کوئ؟هغه زیاته کړه : _اخره خبره مې تاسو ته داده:موږ به ټول دسولې له کاروان سره ملګري کیږو.دجنګ په اور به خاورې اړه وو.سوله به په هیوادکې راولودادی زموږ اول او اخر هدف.دغونډې برخه وال او ښاریان به په کډه دسولې لپار مارش کوو. مارش دښار په سرکو لار پرانیسته خلک په هیجان روان وو.دتخته روان په دواړوخوا سپینې کوترې دالوتو په حال کې انځور شوې وې .عزیز دځو تنو کارګرانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

سره دتخت روان له پاسه ولاړو.عزيز دخپلو بريتو سره ښه کاريده.دهغه نرى جک قد او روښانه څيره دخلکو خوښيده.ځوانان دځوانى له هيلو سره دتخت روان شاو مخې ته تلل په لوړ اواز به يې نارې وهلې_[سوله، سوله ، ژوند په سوله کې ده ، خوند په سوله کې دى] بوډۍ ښځه دتخت روان مخې ته ووته دمخ له کنځو يې معلوميده چې داويا[۷۰] کالو به وه دهغې سپين او اودل شوي ويښتان دزمان بدې ورځې انځوره ولې.بوډۍ چې دواړه پنچې سره يوځاى کړې دزوړتوب په زور يې وويل[:_ .

اى دانسانانو ربه !جنګ زموږ له هيواد نه لرې کړې. !زموږ هيواد زرغون کړه!دسولې دښمنان په سيند لاهو کړه!] په خلکو يې غږ وکړ_ راشئ دسولې په لور کامونه پورته کړئ!پرېږدئ چې انسانان په سوله کې ژوند وکړي !ډېرو ښځو او نارينه وو چې په لاسو کې يې دسولې کوترې نيولې وې هواته پورته کړې .کارګرانو په قوت سره نارېې وهلې [ کار په سوله کې ده، روغتيا په سوله کې ده،سوله دټولو خلک لپاره شتمنى ده.] عزيزخو له خلاصه کړه_ که عدالت غواړى دسولې لمن لاندې را غونډ شئ.که برابري او وروروليى غواړې له سولې نه يې وغواړئ يانې هر څه په سوله کې شته يو عينکي سړي عزيز ته په کوته اشاره وکړه_نارينه او باتور هلک دى .په يو غږ يې ټول ښار په حرکت راوستى دى.لکه چې دديموکرتانو نه وي .!هغه سړى چې لنګړى ږيره يې په زيړ مخ شنه وه دتايد سر يې وښوراووويل_ ښه غږ پسې هر څوک روانيږي .دا چې خلک سولې ته را بولي دا غږ انساني غږ دى .نو خود به خلک را ولي هغه دعينکي سړي مټ چکونډي کړزياته يې کړه:دټولو ديموکراتانو غږ په خلکو ښه لکيږي خودا غږ په دښمن بد لکي.دديموکراتانو په غږکې عدالت پروت وي ددوى اواز له مينې نه ډک وي .دوى سر ښندنه کوي.ړندو ته لار ښيې.او بې لارو کسان لارې ته سموي.پسې يې دوام ورکړ:همدغوى دي چې دظ لم په مقابل کې پورته شويدي دا هيوا به دهمدغوو په لاسو اباد او زرغون شي.دجنګ لمن به ددوى په نارو ټول کړل شي.دسولې لمر به دغرو له څوکو را پورته شي.جنګ کوونکي به خلک وپيژني سر ټيټې به ژوند کوي خلک

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

به يې سلام هم نه اخلي. لنکړی ړيره سړی په فابريکه کې سوهان کار و.هغه ښه پوهيده چې زموږ هيواد ته جنګ چا راوستی دی.جنګ دچا په ګټه دهی،دچا په تاوان،لنکړي ړيري سړي خپل خبرې اوږدې کړې :لکه چې دکوم سياسي کوند غړی به وي .!زموږ دهيوا دښمنۍ او دخلکو ښمنۍ دڅو کسانو له خواچور او تلا شول چې سوله وي ددې کسان محاکمه حتمي ده.ځکه چې ددوی ګټې او پردو هيوادو [پاکستاناو ايران] ګټې سره شريک دي.همدا سبب ده چې دوی په جنګ کې دخپل دژوند اوږد والی غواړي .عينکي سړي ورسره ومنله. _ رښتياد وويل.په اصل وطلب دخبرې وکړې.زما په زهن کې همدا خبره وه خوتا اول نوبت واخست.هغه چاچې دهيواد ښمنۍ چورکړی دهغه سرمايه اوس په پردو بانګو کې پراته دي اولادونه يې هلته تعليم کوي دا چې په خپله دلته ناست دی دجنګ اور ته پکی وهي. چې شغلې يې دغريبانو بچي وسوزوي.ددوی خبرې دوام درلودې يو کار ګر چې ږيرې يې ټول مخ ور پوښلی و دتخت روان له پاسه ودريد هغه لاسونه پورته کړ تور مټ يې ښکاره شوپه جرءت يې وويل_زموږ خلک نور دجنګ تحمل نه لري.ډير کالو نه شول چې دښمن موږ ته جنګ راوستی ده موږ که دهر قوم . هرې ژبې او دهر ميلت يوو که تور يوو او سپين ، که خړ يوو او زيړ ، که هندويوو او که مسلمان ديو ملک يوو.يو مو لار ده يومو هيواد په کډه به دا دجنګ اور تر خاورو لاندې کوو.[چيچکې ] _ موږ جنګ نه غواړو،نفرت له جنګ نه، موږ دسوولې پسې کامونه پورته کوو.مارش دتالاشي له څلور لارې تاوشوهغه تور مخه سرک چې دتور خم په لور تللی ومارش کوونکو په همغه سرک کامونه پورته کول تلل.او نارې يې وهلې [پاکستان دنور زموږ هيوادته جنګ کونکي نه را ليږي .موږ به هغه خاوره هم خپله کړو او دسولې ډيوې به پرې بلې کړوچې ستمګرو په زور او غير قانونې توکه له موږ نه بيله کړې ده.[، يو هيواد يوه خاوره ، يو افغان يو پښتون] همدا غږونه پورته کيدل مارش په خپلو درنو پښو روان و.دصحت عامې دڅلور لار ې چې راتاو شول دا وخت دمازيګر سرې وړانګې دغرو په مناروغوړيدلې وې لکه دپيغلې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هسکه غاړه چې دسرو زرو اميل ليده شي.مارش هم خپله لار لنډه کړه هر يو په خپله لار لاړ،عزيز هغه وخت خپل کور ته ورسيد چې دلمر اخره ځريکه دغره تيږي ځلولې

## (۲)

عزيز دستومانۍ په حال کې خپل کور ته ورسددعزيز بريتونه په خاورو سپره او دلمر دتودو ځپو له کبله لکه دژمي په وخت چې دونې پاڼې ځوړندې شي.هسې يې دشونډو له پاسه ځوړندې وي .دا خو اسانه هم نه ده چې دسهار نه تر لرمل پورې دسوزان وړانگو لاندې ولاړې يې او دعدالت نارې وهې،خو چې دکور په انگړ ننوت دهغه کټ له پاسه ړنگ بنگ پريوت چې دشيشم ونې لاندې ايښودل شوی و.کټ دعزيز راحت لپاره ځلور واړه پښې کلکې کړې وې لايې ميرمن[ناجيه] نه وه خبره چې عزيز لکه دا وبو مړې په کټ پروت دی هغه دبريتو له منځه هوا ويسته دکټ په بازوکانو يې دواړه لاسونه ارتې ،برتې وې.دنفس سره يې کيډه ه ښکته پورته کيده .سړی پوهيدی شو چې ژوندی دی سا يې په حرکت کې ده ه نور خودعزيز او مړي فرق نه کيده سره له دې چې عزيز جسما ستوکانه و خو روح يې خوشاله و.زهن يې دکايناتو منځ کې پټې لټولې دهغه خدای په فکر کې ډ و ب و چې نړۍ يې پيدا کړی و دعزيز روح دهغه دروغجن ملا سره په جکړه کې وچې ستمگران يې په دوروغو دخلکو خدايان کړي واو ټول غريبان يې دهغو شتمنو خدايانو تابع گرځولي و.عزيز دا نه منله چې د ده فکر چا په ځنځيرو تړلی ده.هغه خپل فکر ا زاد او خپلواک کڼله عزيز به له ځانه سره ويل:_همدا کارگران دي چې ځنځيرونه جوړه وي. په همدې ځنځيرو دکارگرانو لاسونه تړل کيږي .په فکر به لاړ[ځنگه ولولی شو چې دا ځنځيرونه مات کړل شي؟دا پړي وشليږي؟ ]بيا به يې ويل [هغه ځوک چې دا پړي او ځنځيرونه جوړه ولی شي ماتولی يې هم شي]هغه لاسونه چې دپيسو خاوندانو ته ماڼۍ جوړه وي ورانولی يې هم شي خو چې اراده قوي وي او عظم فولادي ] عزيز له روحانينو ډيره کرکه کوله هغه به تل همدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

خبره كوله[روحانينو لوې مخلوق ددسرما يې دشاهانو په خدمت كې غلامان كړي دي هغوی په دروغو پركنې دپيسو دخاوندانو لپاره كماري بيا وايې [دهر چا نصيب]] عزيز په هيبت او هيجان سترګې وښورولې ـ ملا دروغ وايې همداپسې دې چې بل يې د پيسو خاوندانو ته غلامان كړي دي خو ددې ظلم دماتولو لپاره دخلكو يوالى او پاڅون ضروري ده.اول بايد سوله راشي بيا عدالت تامين شي.عزيز دشونډو په منځ كې همدا خبره تكراروېل[خلک به ځانو ته دسولې دنيا جوړه كړي دا جنګ به دسولې په نړۍ بدل كړل شي.خلک به هوسا ژوند ولري ماشومان به بيا ښوونځۍ ته لاړ شي.دټولو خلكو زهنونه به خوشاله وي ، انجنې اوهلكان به په يو ټولګي كې زده كړه وكړي .كروندې به وغوړيږ ي،دسيند مستې څپې به ددښتو تږې زړونه تازه كړي ، باغونه به له ګلو ډک وي.زه به دخپلې ميرمن[ناجيه] سره دګلو په منځ كې قدم وهم.دهغې زلفې به زما په اوږو ټالو نه وهي .كله چې دګلاب دګل په تماشا كې ولاړيو يوه خوږه مچه به ځينې واخلم هغه به وخاندي زموږ مينه به نوره هم تازه شي.] عزيز په همدې خيالو كې وچې ناجيه دپخلنځۍ نه را ووته.دهغې چې شندلې زلفې په اوږو پرتې وې دحويلۍ منځ ته شوه خو چې په عزيز يې تورې ، غټې ، مينه ناكې سترګې ونښتې په مسكا شوه.دعزيز په خوا راغله خو چې دعزيز په سينه يې ورغوی كيښودعزيز سترګې خلاصې كړې خنجري بارخوكان يې چې دسترګو له پاسه پورته كړپه ناجيه يې سترګې ولكيدې مسكى شو.ـ ستړی شوې؟ [ناجيه وويل] دستړيا پسې راحت شته خوچې راحت دهغه چا په برخه شي چې ستړياې وباسي.مزه داره وي.او كه دستړيا راحت دبل چا شي ستړيا نور هم زيات شي.دروحي شګنجې لاندې راځي عزيز دكارګرانو او بزګرانو دستړيا په فكر شوـ وكوړ ! كاركران ځانو نه ستړي كړي توليد وكړي خو دتوليد ميوه دبل چا كام تازه كړي .بزګر هم داسې وبوله.له يوې خوا ستړيا له بلې خوا روحي شكنجه دمزدورانو دژوند موده لنډه كړي . ناجيه خبره واخسته:مارش مو خونده ورو؟ ـ ماته يې خو ډير خوند راكړو[عزيز وويل] ټول ښاريان له خوشالۍ نه په هيجان راغلي وودا چې جنګو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو گام د سولې پر خوا

ډیرکورونه یې خراب کړي واو کورنۍ غړي یې له لاسه ورکړي ودسولې غږ پرې ښه لکیده.دهر چا په زړه ه دا خبره وه چې [دتوپک خوله دبند کړل شي]او زموږ دماشومانو له خولې دسولې ترانې پورته شي.لکه چې وایې
[چې نه جنګ او نه جګړه وای زمو ملک کې ـ یو دسولې دنیا کې وای ښونځی وایې]
.ماشومان تر ټولو سولې ته ضرورت لري.عزیز چپه خوله و یوازې سترګې یې رپولې دشنه اسما مخ به یې په ستومانوسترګو لیده.په زړه به یې نوي ، نوي هیلې وبرکیدې .ویل به یې : شین په شي،زرغون به شي،دسولې وطن به شي،ـشین چای په ترموز کې لرې!؟ [عزیزسوال وکړ] ـ خود یې لرم کله چې یې غواړې لرم یې . ماغوندې میرمن لري.[ناجیه وویل]
ناجیه خپل صفت ډیر وکړهغې وویل: که دمیرمنو لښکرې له تاسو نارینه وو سره یوځای نشي دادسولې لښکر به تاسو نارینه یوازې هدف ته ونشی رسولی. ځکه چې ښځه دټولنې نیمایې برخه ده.باید له نظره ونه غوزیږي.عزیز دناجیه خبرې دسر په اشاره تایدې کړې .بیایې شونډې دوچې او تږې خولې په منځ کې وکرځوله.ـ نیما برخه دښځو له مارش کوونکو سره یوځای و.هغو چې به شعارونه ویل نارینه وو به ه ورسره یوځای ویل لکه دموسقي الې چې سره یوځای شي او خوندور اواز ځینې پورته شي.همدارنګه له خوند نه ډک: اواز به دښاریانو غوږو ته رسیده.ښاریان به په هیجان شول عزیز دوام ورکړ:ښځې چې په جګړه کې دنارینه وو سره یوځای شي نارینه په چوش راشې بې له ډار په مرجل پورته شي.خو چې په شونډو شپیلۍ سپره کړي دننګ سندره پکې پف کړي کوم زلمی به وي چې په دښمن ونه دانګي ؟ عزیز په ګټ نیغ کیناست لکه چې له بدن نه یې ستړیا په وتو وهغه دپلار دخولې کیسه راواخسته[ پلار مې داردو منصبدارو زه کوچنی وم چې دهغه په اوږو دمنصب سره نښانونه ټمبل شوي و کله چې به له دندې کور ته راغی زه به یې غیږ کې ونیوم ما به دهغه داوو نښانونه کشول پلار به مې ویل[مه کوه چې دا نښانونه دوطن دازادۍ او ابادۍ نښانون دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

]پلار مې زياته کړ:يوه ورځ مو دپاکستان له پوځ سره جګړه وکړه هغوئ زموږ په خاورې تيرى کړى وخو چې زموږ پوځ سرحد ته ورسيداو دکارتوسو باران مو پر ې پيل کړدهغې سيمې يوه پيغله چې [نانکه]نوميده د پوځ له سر بازانو سره يوځاى شوه شپيلۍ يې په شونډو کيښوده دغيرت او ننګ سندره يې پکې پف کړه سربازان په نڅا شول له توپکوسره کډيدل.په چوش راغلل په دښمن يې يرغل وکړهغوئ وتښتيدل برى زموږ په برخه شونو ځکه مې وويل چې دښځو له شعار او نارو سره په مارش کونکوکې چوش پيدا شوپه کړ اواز به يې دسولې نارې وهلې.:ته دفکر سم کړه زه چاى راوړم[ناجيه وويل] عزيز بالښت ته څنګل تکيه کړ د هغه چرکانو بچو ته يې پام شو چې دشنو کبلو له پاسه يې واړه ، واړه کامونه يې پورته کول چرکې دخپلو بچو ته دلار تک ښوده.خو چې په مښوکې دځمکې مخ وټکوي بچې يې په سرو او نازکو پنچو دمور خواته منډه کړې دمور شا وخوا را تاوشي مور خپلو بچو ته ددانو پيدا کولو چل ښيې.څنګه يې په کار اچوي او دکار لار ور ښيې. ؟مور پوهيده چې بچې يې اخر ځان ته ژوند غواړي او خپل نس په خپله مړه وي .بيا به چرکې خپلې پنجالې په ځمکې بندې کړې لکه څوک چې ورک شى لټوي دا بله لار وه چې مور خپلو بچو ته ښوده يانې دځمکې سينه ولټوئ ستاسو روزي پکې شته.لکه بزګر چې دځمکې سينه څيرې کړې غلې دانې ځينې را وباسي.عزيزدچرک ژوند ته په جرتو تللى و.بيا چې چرکه يوځاى کې ټسته کيناسته او بچې يې دسينې لادې کړل وزرونه يې پرې وغوړول لکه مور چې په خپلو اولادو بړستن اواره کړي چرک همداسې خپل بچيان دوزرو لاندې کړل بچې به يې له پاسه پورته شول له مور سره به يې مينه کولو عزيز دمور او بچو تر منځ دمينې او محبت اړيکې ښه ليدل ويل به يې : هره مور مهربانه وي .هر چا ته خپله مور ګرانه وي.او دمور دلمن لاندې خپل ژوند په مينه تيره وي .کوچنى وي ځوان شي، دمنډو شي، دکار شي ، دوطن داباد ولو لپاره متې پورته کړي همدا ښه ژوند دى چې په مينه او کار سره وي.خو چې کوم ظالم دمور او بچو داسې خوږ ژوند ديوه کولۍ سره تباه کړي دا نو بيا دبښلو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو گام د سولې پر خوا

ده.ټول انسانان باید په ګډه لاسونه پورته کړي دظالم لاسونه لنډ کړي .او دوطن اولادونه دسولې په غیږ کې لوی کړي.ویې روزي .عزیز سر ته حرکت ورکړ: زموږ لار مقدسه ده.هغه څوک چې غواړي دسولې نړۍ جوړه کړي داحترام وړ دی عزیز لا دسولې له سمندر نه نه ووتلی چې ناجیه ښکاره شوه پطنوس یې په دواړو لاسو نیولی ودعزیز تر خوا کیناسته._ ستړیا به د وباسي.دا دقندو څو پارچې په خوله کړه دچای غړب پرې پاسه کوه انرژي به دپه بدن کې پیدا شي._ ژوند داوړد غواړو [عزیز وویل] _ له تاسره[ناجیه وویل]ناجیه زیاته کړه:ژوند بې له نارینه خوندور نه وي.دښځې نیم اړخ نارینه ده.همداسې دنارینه اړخ وبوله.ناجې پر مخ ولیدلې ویښتان پورته کړه عزیز ته نزدې شوه دعزیز دپنډۍ په مښلویې پیل وکړ: اوس به دستړیا ورکه شي هو !دښځې پاسته منګولې چې په نارینه ولګیږي په ستړیا نه پوهیږي .ناجیه نور هم عزیز ته نزدې شوه: رښتیا مارش خوندورو؟ تا به ځان ښه خولې کړی و. ناجیه نوره هم مخکې لاړه:خلکو څه ویل؟ دمارش په مانا پوهیدل که هسې روان وو؟عزیز یو پیاله چای په یوه سا وڅښل وویل: ټولنه لکه ځنګل داسې ده.ښه بوټي ، بیکاره بوټي ، میوه لرونکي ونې او بې میوې ونې او اغزر لرونکې دا ټول پکې شتون لري. ځناور هم غټ واړه ، قوي ، صعیف هم لري قوي ځناور په ورو ځناورو خولې لکوي دهغو غوښې او وینې خوري ټولنه همدا سې د ه دپیسو خاوندان دغریبانو ستونی خفه کوي باداران مزدوران دخپل خدمت لپاره ځغلوي. دمارش په باب دهر چا نظر ځان ته وي .دسترګو لاندې مې خلک څآرل چا به دزړه له کومې په مارش کې برخه اخسته دسولې لپاره به یې غږ پورته کړخو ځینو به دمارش په هکله بد نیت درلودغږ به مې غوږو ته راغی [دا هلکان مست شوي دي دوی له خدایه غیر دي دوی دیموکراتان دي په خبرو یې څوک نه غولیږي ] خو ځینې چې پوهیدل ویل به یې [دا جنګ پاکستان زموږ په ملک پیل کړی دی هغوی دډیورن له کرښې ویره لرې پاکستان دافغانانو بیا دپښتنو په نیت ښه پوهیږي چې دډیورن کرښه نه مني نو ځکه جنګ دهمدې هدف لپاره دی ]دیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو گام د سولې پر خوا

سړي غږ ډېرو کسانو واوریدهغه په زړه ورتیا وویل:[چې یو افغان هم ژوندی وي دډیورن کرښه به ونه مني ] .اوکه نن د ورسره ومنله چې دا دا خاوره ستا شوه جنگ ختم ده.عزیز دناجیه په اوږه لاس کیښود ځان ته یې نږدې کړه ښکله یې کړه.: اوس پوه شوې گرانې !؟خپله خاوره لکه دچا میرمن چې چاته گرانه وي که پردی دچا میرمن ته کوتې وړاندې کړي میړه به یې څه وکړي؟ ناجیه دواړه شونډې یودبل سره منښلې سریې دروند ، دروند وښوراوـ رښتیا چې سخته ده.میړه تحمل نشي کولی .عزیز بله پیاله چاې په سرواړاوـ همداسې دهیواد میړ ونه خپل په هیواد سر ورکوي دا چې زموږ هیوادوال هره ورځ لس ، شل تنه خپله وینه ورکوي دا دهیواد ددفاع په خاطر دی.خو چې زموږ دسولې کاروان خپل هدف ته ورسیږي جنگ به خپله خوله بنده کړي دټولو لپاره به ښه ژوند وي یاغیان به دپردو له دام نه ازاد شي.دددروغجن ملا خبره به څوک نه ني .مزهبې ، روحاني کسان به نور د پردو په پیسو خپلې کډې نه مړه وي. هغوی چې زموږ دسولې له کاروان سره یوځای شي دهغوو ژوند به هم ښه شي.عزیز خپلې سترگې شاوخوا تاوې کړې ـ زمو غږ دټولو انسانانو لپاره دی حتا چې دنړۍ انسانان هم دسولې په خوا را بولو. ناجیه په خبرو کې ولویده:ایا ته په دې ایمان لري چې مزهبي کسا ن به ستاسو دسولې له کاروان سره یوځای شي؟ناجیه چې په شونډو کوتې ووهلې په خپله یې ځواب ورکړـ کمان نه کوم.ځکه کمان نه کوم چې دهغو زهن تور دی .دتور زهن سپینیدل دا هم اسانه کار نه دی دپیسو خاوندان ، باداران دهغو زهن په پیسو تور کړي دي دمزهبي کسانو سترگې روښانه دنیا نه کوري دهغوو زهن په تیارو کې بندي ساتل شوي دي هغوی دخپل تور زهن نه روښانه جهان نه کوري.عزیز ورسره ومنله.ـ ستا خبره فلسفي ته لاړې.خو پوه شه چې دمادیې په وجود کې متضاد قطبونه شتون لري ماده په خپل حال نه پریږدي .په حرکت یې راولي او دحرکت نتیجه تکامل ده.همداسې چې په ټولنه کې متضاد فکرونه ، زهنونه شتون لري دا فکرونه او زهنونه هم په ټکر کې دي دټکر په نتیجه کې زوړفکر له منځه ځي خپل ځای نوي فکر ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو گام د سولې پر خوا

پرېږدي .چې نوی بیا مترقي وي زموږ کاروان چې په حرکت کې دی دده کاروان مخه ځوک نشي نیولی خنډونه به یې مخکې پیدا شي مشکل به وکوري ددې کاروان ډیر کسان به دتورې ارتجاع قرباني شي خو بری به زموږ په برخه شي. او دارتجاع مخ به تور وي.خلک به دگلونو میله کوي ځکه چې زموږ لار دحق لار ده ناجیه مسکه شوه لکه همدا اوس چې لاس په لاس دعزیز سره دگلو په بازارکې ده ناجیه سترگگه ووهله دعزیز مټ یې ونیو:چې د اسې ده نو په تشناب کې په د ولمبوم چې ښایسته شې.او دبازار خیرې دله بدن نه وڅنډم .عزیز دچای اخر غړب وکړو په داسې حال کې چې په تندي یې دخوشالي نښي لیدل کیدې دناجیه پنچه یې په ورغوي کې نیولې وه روان شو.ناجیه په دوه کوتو دتشناب دروازه ټپله کړه هر څه دعزیز دلمبا لپاره تیارو.عزیز ځان لوڅ لپر کړناجیه سترگې بلې خوا ته واړه ولې.عزیز تحریک شو ناجیه یې په غیږ کې ونیوه ښکل یې کړه.بیا نو ناجیه ته نور دشرم ځای نه و پاتې په سپین او پراخ ورغوي یې دعزیز ملا سلوله_ دا دی تا چې دغرییانو لپاره چیغې وهلې اوس یو غریبه دهغو چیغو عوص درکوي.عزیز شین خندل په پنچه یې دناجې پوست ورون نیولی و.: ته څه غریبه یې؟ما غونډې تکیه میره لري.عزیز خپله خبره اوږده کړه: ځوک چې په خپله خوښه میره لري هغه ښځه غریبه نه ده.دهغې میرمن ژوند لکه شهزادګۍ چې دبل چا په اوږو تیریږي همدې ته دسولې ژوند وایې .عزیز زیاته کړه:په کور کې دخاوند او میرمن ژوند خوږ وي مینه ددواړو په زړوکې په نڅا وي دا ده سوله او چې سوله وي داده خوږ او له مینې ډک ژوندعزیز وخندل : داسې ژوند به دپاچاهانو هم نه وي.ناجیه خپلې پستې شونډې دعزیز پر مخ کیښودې چې تر ډیره دناجیه دشونډو داغ دعزیز په مخ ښکاریده.وویل: زه هم ستا په مخ دملکې دمهر پشان نښه اږدم.شیبې لا ډیرې نه وې تیرې چې دعزیز سپین بدن دصابون په سپین ځک کې وبرینښیده.عزیز چې په دیوال ځړیدلې اینې ته مخامخ ودرید ځان ورته ښکلی ښکاره شو.په ناجیه یې عږ وکړ: دا دی ښکلا.ناجیه مسکه شوه: زما دلاس برکت ده ناجیه له خنداسره دا خبره وکړه.:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

زما لاس چې چيرې ولکيږي هغه ځاى په ښکلا بدل شي. عزيز او ناجيه په تشناب کې ټوکې ټکالې ډيرې وکړې .وخت يې ښه تير شو.په ژوند کې چې ښې خبرې وي هغه ژوند خوندوروي. او روح تازه وي .عزيز په خرپ او ترپ له تشناب نه ووت.دهغه دماغ تازه و هغه هيڅکله چا ته نه په غوسه کيده ځيره يې دخوښۍ دسمبول پشان و.چې له چا سره به په خبرو کې و هغه کس به دعزيز له خبرو لزت وړو.اوس چې تازه دمه له تشناب نه وتلی و خوښې يې په ځيره کې په ګډا وعزيز وويل : دغرمې څه پروکران لرې او څه به پخوې ؟[عزيز وويل] ناجيه خبره واخسته: چې څه غواړې پرې به واوړې .چرک کباب ، بادنجان بولاني چې ستاډير خوښ ده ناچيه زيات کړه : څوک چې ټولنې ته سوله راړي او خپلو خلکو ته دسولې ژوند په برخه کوي قدر يې په کار ده.په ليمو به يې خلک قد ر کوي په شونډو به يې ورته دنيشي شربت وڅخوي .عزيز هغه وخت په کوټو دسر ويښتان ږمنځاوچې جميل او نازو دکور په دروازه نوتلل.څومره ښکلي ښکاريدل لکه جوړه کوترې په هوا کې په ملاقو وي .بيا دبام له پاسه جوړه کيني. جميل او نازو دعزيز اولادونه ووهغوی دواړه له ښونځۍ نه کور ته راغلل.عزيز ورته په دوه پښو کيناست غيږ کې خلاص کړدواړه يې په غيږ کې جوړه ونيول پورته يې کړل اول يې نازو ښکل کړه بيا يې جميل. دواړه يې په غيږکې نيولي وو برنډې ته پورته شو.عزيز داسې ښکاريده لکه سيمرغ چې دوه بچيان دوزرو لاندې نيولي وي له ځانه سره يې انتقالوي کله چې عزيز په برنډه کې دکوچ له پاسه کيناست جميل او نازو يې په خوا کې وون مو کوم سبق وويل؟ [عزيز پوښتنه وکړه] جميل وويل_ پلار جانه ! له ښار نه دسولې غږونه پورته کيده موږ ته ښوونکي دسولې ترانه وويل.

[سوله کې ژوندون ښه ده__زموږ منځ کې تړون ښه ده ]

[ موږ سبق ، سبق وايوو _ دسولې مضمون ښه ده ]

همدا ترانه وه.نازو غږ کړ: پلار جانه !موږ هم ترانه وويل

[ سوله کې مو کورده _ خپل وطن مو مور ده]

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو گام د سولې پر خوا

[ خپل وطن به ساتو _ دا مو ورورواوخور ده]

عڅزیزیوه مچه له جمیل او یوه یې له نازونه واخسته یو یو قلم یې ورته انعام ورکړ.

٥٥٥٥

نازو په خیال تللې وه هغې چې غټې ،تورې ، کردې سترګې تاوې را تاوې کړې پلار ته یې وکتل غوښته یې څۀ ووایې خو دخبرو په ځای یې خوله له خندانه ډکه شوه.له خندا وروسته یې بارخوکان په سترګو واړه ولې خوچې بل ځل یې بانۀ پورته واچول خبره یې په خوله راغله._ پلار جانه! ولې خلکو په ښار کې نارې وهلې؟ دځۀ لپاره یې ویل سوله غواړو؟، سوله څه ته وایې؟عزیز لاخبره نه وه پورته کړې چې جمیل نوبت واخست_نه پوهیږې ؟ سوله یانې جنګ نه وي .نازو دجمیل شونډانو ته کوتې واچولې لکه په کوڅه کې چې ماشومانو بنډار جوړکړی وي چې په اخر کې سره خپه شي یوبل ته شونډې اچوي.دماشومانو عجب له خونده ډک ژوند وي یوه شیبه په جنګ شي بیا ژر په مینه خبرې کوي .عزیز غلی وچې جمیل او نازو خپرې ولکولې.جمیل وویل_پلاره ! زه دروا‌غ وایم؟سوله همدې ته نه وایې؟چې جنګ نه وي .نازو پرې خیز کړ_ ما له پلار جانه پوښتنه کړې وه پر تا یې څه !عزیزنازو په اوږو سپره کړه په حویلۍ کې یې کنج ، په کنج وګرځوله.په نس یې وتخنوله.په خندا یې کړه.له اوږو یې کوزه کړه

_ جمیل ورورډرښتیا وایې.چې جنګ نه وي هلته سوله وي.او س خو زموږ په هیواد کې جنګ دی .او دا جنګ زموږ کاونډ هیوادو لکه[پاکستان ، اوایران ] موږ ملک ته راوړی دی .تاسو چې لوړ ټولګیو ته پورته شوۍدتاریخ په کتاب کې به یې ولولۍچې څنګه پرعلګرو زموږ په خاوره یرغل وکړو؟، مغلو څه وکړل ، او انګریزانو څه وکړل.؟او دا اوس دپا کستان حکومت څۀ کوي ؟او دایران حکومت څۀ کوي؟عزیز جدي غوندې شوه _ نیمه خاوره زموږ پاکستان لاندې کړی او دهلمند په اوبو ایران دعوه لري.عزیز دنازو دغوږ نرمه ونیوه_ په جغرافیه کې به یې ولولۍچې زموږ هیواد ترکومه ځایه و؟اوس تر کوم ځایه ده؟پس جنګ همدغو موږ ته راوړی دی.په ښار کې چې خلکو دسولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو ګام د سولې پر خوا

نارې وهلې او تاسوپه ښوونځی کې دسولې ترانې غږولې دا په دې مانا و چې موږ جنګ نه غواړو.له ټولې نړۍ نه زموږ دا غوښتنه وه چې موږ ته سوله راولئ ځکه: چې ماشومان په جنګ کې سبق نشي ويلی.خلک په جنګ کې کار نشي کولی،په جنګ کې خلک وژل کيږي ،ماشومان بې پلاره کيږي ،جميل پرې ټوپ کړ_رښتيا وايې که پلار ځوک مړکړي موږ ته به ځوک ډوډۍ راکوي؟جامې به مو ځوک منځي ؟نازو کوټۀ په شونډو کيښوده په حيرت يې کتل لکه چې په رښتيا دچا پلار ، مور دبم په انفجارکې مړه شوي وي .او دپلار ،مور دجنازې با زو ته ولاړ وي .اوښکې يې وچې وې دحيرت په دنيا کې ولاړ وي .خو چې کوته يې له شونډ پورته کړه_که مور ، پلار نه وي موږ به غله وتښتوي .په چا به مو خرڅ کړي.دنازو په شونډو کې دسولې په خاطر مسکا وځليده_ په هيجتان يې وويل_ موږ سوله غواړو.نه جنګ اې دنړۍ خلکو!موږ ته سوله راوړئ چې خپل سبقونه ووايو.عزيز اوړه وښوره وله _ دا دی اوس پوه شوې.دخلکو نارې دهمدې لپاره وې .ناجيه په داسې حال کې چې لاسونه يې په غوړو و له پخلنزي ووته.غږ يې پورته شو_دلاس منځلو اوبه تيارې کړئ.جميل دپخوا پشان کوزه ، چلمچي راوړو اول يې پلار ته کيښود هغه دواړه لاسونه په صابون او اوبو ومنځه نازو همداسې وکړ پلار وويل_هر کله چې ډوډۍ خورئ مخکې دډوډۍ خوړونه لاسونه په صابون او اوبو ومنځئ .عزيز زياته کړه _ په ناپاکو لاسو ډوډۍ خوړل انسان ناروغه کيږي.ناجيه پطنوس په لاس ولاړه وه غږ يې پورته کړ_ دسترخوان اوار کړئ.هغې چې پطنوس په ځمکه کيښودو _ دا دی کباب ، دا دی بولاني .وبه يې خورۍ په چالاکۍ.دناجيه دګريوان ټنۍ چې په پخلنزي کې خلاصيې پاتې وې همغسې وې .دتيو پنډې غوښې يې دګريوا له ترازو ښکاريدې .عزيز چې سترګې په دسترخوان ولګيدې غږ يې وکړ_دکوترو په ځآل کې دواړه کوترې دالوتو په حال کې دي ناجيه ژر ځانانه متوجه شوه دګريوانه ټنۍ يې وتړلې.ناجيه وپوهيد چې عزيز څه وايې ؟_ دنارينه وو خو همدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو ګام د سولې پر خوا

حساس ځای ته سترګې وي ډوډۍ په ټوکو ، ټوکو وخوړه شوه لا لاسونه نه ومنځل شوې چې دانفچار غږ تر غوږ، شو دهندوانو په کوټه کې بم انفجار کړی و.

.. .عزیز په حیرانونکي څیره ناجیه ته وکتل او له غوسې نه یې وروځې الوتل دمخ په سپین پوستکې کې یې سره خطونه پیدا شول چې داحساساتو نښې وې .په هیجان اوتحریک کې دهرچا په څیره کې تغیر راځي.اننګي یې سره شي دزړه حرکت یې له نورمال حال نه ووځي .عزیز چې په کوټو دسر ویښتان ږمنځ کړ وویل_موږ څه غواړو یاغیان څه غواړي ؟.،په نړۍ ګې سوله غوښتونکي څۀ غواړي دجنګ اور بلونکي څۀ غواړي ؟انسان وژنې ته بهادرۍ وایې.کوم وجدان به وي چې دا خبره ومني چې دانسان وینې د وبهیږي؟دانسان سر ددهغه تنې نه جدا کړل شي.عزیز دغم له تاوه پورته شوپه داسې حال چې دواړه لاسونه یې تر شا نیولي وپه حویلۍ کې یې قدم واهه_ دخوړونکو لیوانو او اسان وژونکو انسانانو تر منځ څه فق کیدای شي؟لیوه دبل حیوان ستونی خفه کړي ځان موړکړي دپیسو اوتور زهنو خاوندان دخپل دګټو دلاس ته راوړو په خاطر دیو سپیڅلي انسان وینه تویه کړي.عزیز کوته وښوراو وویل_بس دکړنې له کبله دواړه یو شان دي.یو فرق شته چې ځناور په څلورو پښو لار کوي او انسان په دوه پښو..ناجیه عزیز سره په حویلۍ کې جوړه کامونه پورته کول دهغه دتسل لپاره به یې په جنایت کارانو یوه یوه خبره غورزوله.دهغوو عملونه به یې غندل .دناجیې څیره هم سره شوې وه.هغې چې خپلې زلفې په موټې ونیوې دشا په تخته یې وشندل _ بیا به دچا مور بوره شویوي ؟، بیا به کوم ماشوم بې پلاره شوي وي ؟ځمکې به بیا دبې کناه انسانانو په وینو سرې جامي په تن کړي وي .عزیز خبره

واخسته_که دهر چا وینې بهیدلې وي دیو افغان به وي .ددې وطن بچی به وي .عزیز زیاته کړه _ نه دمزهبي بچی مري نه دپیسو دخاوندانوبچی .او نه دارتجاع اولاد .همدا دغریبو خلکو اولادووه دي چې قرباني ورکوي.په تود بټۍ کې زموږ دخلکو هډونه سوزي.عزیز چې برنډې ته مخامخ ودرید دخپلو اولادو څیره یې په سترګو کې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو ګام د سولې پر خوا

شوپه لوړ اواز یې وویل_داخلک به جنایت ګاران ونه بښي.، دا ماشومان به له جنایت کارانو نه دخلکو دوینو انتقام واخلي.دعزیز سترګې له غوسې‌نه کږې وږې شوې _دوی په د ې نه پوهیږ ي چې له ځاځکو نه ویالې جوړیږي او دویالو نه سندونه جوړ شي بیا له سیندونه سمندر جوړ شي. سمدر دچا پروا نه کوي هر څه په خپل سینه کې ډوب کړي .دا ماشومان به دڅا څکو په پشان سره یو ځای شي او ترې به توپاني قوت جوړ شي.دهر چا تور زهن او توره څیره به خلکو ته وښیې او دا تور نقابونۀ به یې یو ورځ څیرې کړل شي ددې ولس انتقام به ځینېواخلي.عزیز په وجتو کامو برنډې ته پورته شو په هغه وخت کې دچرکې واړه بچیان دعزیز له پښو تاو شول په سرو مریو کې دمور نارې وې.عزیز چې چرکوړي ولیدل لا یې څیره سره شوه بریتونه یې دشونډو له پاسه الوتل هغه چې خپل لاسونه دکورتۍ په لستوڼو کې ننویست ناجیه پرې غږ کړ_څه کوې؟_ ځم چې حالات له نزدې وکورم..وکورم چې څوک په وینو لټ پټ پروت دی .وکور چې کومه مور دچا په مړي ژړا کوي ؟وکورم چې کوه مور دچا په وینو لاسونه سره کړي دي ؟وکورم چې کومه ښځې دخپل خاوند په مړي مخ په سپیرو سور کړی ؟. دکوم پلار سینه سوری ده؟ او دکوم چا پښې له بدن نه جدا شوي دي ؟عزیز نورې خبرې بندې کړې له دروازې ووت.عزیز په چټکو کامو تلو دناجیې په زهن کې تیرې ده_عزیز انسان دوسته سړی دی .دهغه زړه په هرچا خوږ شي.دبل بچې ورته دخپل بچې پشان ښکاري.دهغه په زړه کې دانسان سره مینه ده.، عزیز په سولې مین سړی دی .خو دناجیه په زړه کې ویره او ډار هم و سر یې وخوزاو_په عزیز څه ونشي؟ځکه چې دښمن قابوده چې بل ښکار په لاس راشي.ناجیه لیدلي وچې دیو انفجار نه وروسته بل انفجار هم وشو نور ډیر انسانان دجنایت کارو له لاسه قرباني شول .دهمسایه دکور ښځو ددروازې درشۍ نیولې وې معلومات ته انتظارو.هریو دخپل اولادو په اندیښنه کې و.ځکه دلاسو سپیرې یې سره سولول یا به یې مخ په سپیړو سور کړی وډیر ځنډ لا نه و تیر عزیز دهندوانو کوڅې ته ورسید هلته وحشت و.ژړا او فریادونه پورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو گام د سولې پر خوا

کیده.په یوځای کې هندو لالا په کوڅه کې له لنګوټي سره پروت ودهغه برکه ږیره دوینو رنګ اخستی ویوه پښه یې له بدن نه جدا وه.رانۍ پرې ژړل درانۍ په مخ اوښکې دسیلاب پشان رواني وې .رانۍ چې دخپل دخاوند دږیرې وینې پاکولې همدا به یې ویل_موږ خو مسلمانان نه یو نو ولې مو وژل کیږو؟شا وخوا به یې وکتل خفه غوندې غږ به پورته شو_ دیاغیانو جنګ خو دمسلماانو سره ده نو ولې موږ هندوان ددې جنګ قرباني کیږو؟بیا به یې دهدو لا لا په کیده خپل په وینو سره لاسونه کیښودل کریکه به یې کړه._ ای دمخلوقانو ربه!ولې ددا یاغیان موږ ته را لیږلي دي ؟ زموږ لاسونه دورته تړلي اودوی د زموږ وژلو لپاره خوشي کړې دي .عزیز دهندو لا لا تر خوا ودرید لاسونه یې دهغه سر لاندې کړرانۍ دسترګو په اشار دعزیز نه دمرستې په هکله مننه وکړه رانۍ اوږد ، اوږد نفس اخستودسترګو په کنج یې عزیز ته وکتل دهغې زړه لږ نرم شو په زړه یې تیریده_ ښه انسان هم په نړۍ کې شته.یو ورځ به دا ښه انسانان سره اوږه په اوږه شي دظالمانو لاسونه به لنډ کړي.رانۍ لا دفریاد او ژړا نه نه وه خلاصه چې دهندو لا لا دسین دخرهار اواز پورته شو.هغې لا خپلې اوښکې نه وې وچې کړې چې دهندو لا لا لاسونه او پښې سستې شوې .داخر ځل لپاره یې سترګې خلاصې کړې رانۍ یې ولیده دشونډ، په خوزید یې له رانۍ سره مخه ښه وکړه.بیا یې سترګې پټې شوې .زړه یې ددنیا له غمونه بې غمه شو.رانی په سپرو خاورو پرې وته.ویل به یې _شهید شو . جنت یې ځای شو.دکوڅې خلکو دهندو لا لا جنازه په اوږو پورته کړه دهندو لا لا دپکوړو تپنک په ځمکه سر چپه پروت و.عزیز چې څوکامه مخکې لاړړدیو ماشوم ککره یې ولید له تنې نه جدا وسترګې یې دسر په کوپړۍ کې نه وې ماغزه یې دسپینې واورې پشان دده سر سپین کړی وهلته بل جیرې دیوې ښځې کیده سورۍ وه عزیز په چټکې دمړو او زخمیان په ټولولو کې مرسته کوله.هغه دهیجان په حال کې و همدا به یې ویل_موږ سوله غواړو یاغیان جنګ.دا دی دجنګ حاصل دوینو بهیدل سوله خلکو ته ژوند ښني.هغه چې وایې [توپان په کلي سم شوکلی یې وران کړ خلک تبا شول.او یا زلزله

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو گام د سولې پر خوا

وشي ټول کلی چپه شي.کړکۍ ماتې شي ، ديوالونه ړنگ شي.خلک تري لاندې شي.انفجار او جنگ همدا شان ورانول کوي .عزي کتل چې په بيړه دروغتزون امبولان سونه را ورسيدل زخميان او مړي يې روغتون ته انتقال کړل .عزيز دهمدې کوڅې په منځ کې ولاړ وپه داسې حال کې چې ځيره يې دغم ځپو پوښلی ودشها دت کوته يې نيولی و ويل يې ـدې ته بشري جنايت وايې.پرون په ښار کې مارش کوونکو دسولې کوترې پورته کولې دا په دې مانا و چې راشئ په کډه دسولې نړۍ جوړه کړو. راځي دانسا کرامت ته احترام وکړو.، راځئ انسان ته دهغه حق ورکړو.عزيز په تيزو سترگو خلکو ته وکتل ـدانسان حق څه دی ؟[چپتيا]و لاړ خلکو يو بل ته کتل دهر يو زړه درزيده، شونډې يې رپيدې .، ستوني يې خپه شوي وو.چا خبرې نشواى کولی.دعزيز غږ پورته شواو په دې قاتله کوڅه کې ټولو واوريدوـ ژوند دانسا حق دی،.انسان دژوند لپاه پيدا ده ، دانسان وجدان پاک ده.، انسان دحقيقت دلټون لپاره خپل ماغزه په کار اچوي .خو دا کوم دوزخي وجدان دی چې له انسان نه ژوند اخلي ؟ دا کوم دوزخي لاسونه دي چې دانسان دوژنې لپاره بمونه جوړه وي ؟دا کوم دوزخي پښې دي چې په حرکت کې دي تردې کوڅې يې بمونه راوړيدي ؟ تر څو چې دسپيڅلې ماشوم کيډه پرې سوری کړل شي.، چې دپاکې ميرمنې ماغزه پرې ووستل شي، چې دخواريکښ هندو لا لا پښې پرې پريک کړل شي.عزيز په لوړ اواز وويلـ زموږ پيغام ټولو ته داده چې له جنگ نه لاس واخلئ پريږدئ چې زمو ږهيواد په سوله کې وځليږي ، پريږدي چې نړۍ په سوله کې ژوند وکړئ.لعنت په جنگ ، لعنت. په جنگ کوونکو.سوله به زموږ په نصيب شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۳)

مورې! ستړې ښکارېده .په چابکو پښو راغلې يې که څنګه؟هو! را غلم  په لار کې کرمي وه._ دماما ځوی مې څنګه وه؟[عزيز وويل]_ حال يې بد نه و.مخکې ډېرو دردو حال يې ورته خراب کړی،دبم پارچې يې په پنډۍ کې ننوتې وې .خو ښه و د وينو رکونه سالم و.عزيز وپوښت_څه پيښه وه؟مور په زړه لاس کيښود_په دې وطن کې بل څه دي ؟ چې سر پورته کړې اورې به[لس تنه دماين په انفجار کې مړه شول شل تنه مړه شول ]فاروق چې دخپلو ټولګيوالو سره له دروازې وتلو هم هلته ياغيانو ماين ښخ کړی و.ډير شاګردان مړه شول او زيات زخميان شول .دفاروق پښه زخم اخستی وعزيز شونډې دغاښو په منځ کې نيولې وې درونډ، درونډ يې سر وښوراوخو څه  يې ونه ويل _مور نن شپه ميلمانه کور ته راځي ته ونه ويرېږي.دا خپل کسان دي .دياغيانو دمخ نيوي او دسولې په باب خبرو کوو.مور ورخطا غونډې شوه په څيره کې يې تغير راغی .ستړې ژبه يې دشونډو له پاسه وسولوله._ ځويه ! ستاسو خبرې دډار خبرې دي؟_ نه مورې!_ څوک چې حقيقت لټوي هغوی نه ويريږي .سره له  دې چې په دې لار تګ ګران کار دی .خو دناريتوب ننبه ده.هر څوک په دې اغزن لارکام نشي پورته کولی. _ زويه ! ستا خبره راته سخته ښکاره شوه.داغزو لار خو خطر هم لري ..عزيز موټی پورته کړ_مورې ! شمع چې اوښکې بهوي او ځان سوزه وي ددې لپاره چې دپتنګانو مينه پوره شي.ډيوې چې په خپل سر داور لمبه ايښی د ې لپاره چې کوڅې روښانه کړل شي.دخلکو لپاره روښنايې شي.عزيز مورته سترګګ وواهه_ که بزګران لاسونه ټناکې نه کړي ستا کيډه به څوک مړه وي؟دحق او حقيقت پسې چې ګرځې  لاسونه او پښې ټناکې کيږي .دومره بايد څوک دچا سيوري نه هم ونه ډآر شي.مور دځوی خبرو ته حيرانه وه.هغې دخپل ځوی نه کله داسې خطرناکې خبرې نه وې اوريدلې .ديوال ته يې اوږ ورکړه شونډې يې ورپيدې .هم هغلته مور ته دخپل دژوند بدې خاطرې  په زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو گام د سولې پر خوا

شوې هغې چې دواده په اوله شپه دخپل د میړه له لاسه په مخ سپیږه وخوړه په زړه یېرا یاده شوه .میړه یې چې ډار ونکې ږیږې سره په چرسو نیشه غټه تنه دده په کټ پورته شوله خولې یې بد بوی پورته کیده دې مخ ترې بلې خواته واړاوه بیا میړه یې خفه کړه او سپیږه یې پر مخ ور حواله کړ په زړه یې را وگرځیده.میړه چې به یې تر نیمایې شپې له چرسیانو سره په نیشه غرق و دا به یوازې ناسته وه او ژړل به یې .خو چې عزیز ځوی یې په نس شوپه خواري به گرځیده دکور او بیرون کارونه په دې و.هغه ټولې خاطرې یې په زړه شوې .دا چې عزیز یې په مشکل لویه وه هغه کړاونه ددې زړه شین کړی ودولاړ سپاهي پشان یې مخې ته ودرید.اوس چې عزیز زلمکی شوی ددې ژوند ورسره ښایسته ښکاري دا چې دعزیز ژوند په خطر کې ویني زړه یې لکه مالگه اوبه شي.بدن یې ولرزیږي .ستونی یې خفه شي ددژړا حمله پرې راشي.دمور سترگې چې له اوښکو ډنډې شوې بلې خواته یې وکتل تر څو عزیز ددې په روانو اوښکو خفگان حس نه کړي .عزیز پوه شو چې مور نارامه شوه.له دواړو اوږو یې ونیوه پورته یې کړه لکه مور چې ځوی ونازه وي په غیږ کې یې پورته ، پورته کړي .ــ مور ته ورخطا شوې؟زه نه غواړم ته خفه شي.ته باید زما په نیک کارو فخر وکړې!ته به دښځو په ډله کې سر لوړه یې.ځکه چې زه حق لټوم.انسان ته داور له لمبونه نجات ورکوم.عزیز وخندل دمور لاسونه یې ښکل کړه.ــ مورې ! ستا لاسونه هغه ځانگو ده چې زه د پرې ښورولم.ستا دلیچو په ځانگو کې به ما خوبونه کول اوس نو زه تا کله خفه کوم!زه تاته خوشالۍ راولم.عزیز دمور په تندي باندې شونډې کیښودې ــ مور ! زه یوازې نه یم.زموږ لښکر دپاچا له لښکر نه زیات دی .ځکه چې ټول ښه خلک زموږ په خوا دي .زموږ ډله په هیواد کې د[دیموکراتانو ] په نوم شهرت لري.ټول خلک وایې چې دیموکراتان خلکو ته ښه ژوند راولي .دهیواد دابادۍ لپاره کارکوي .اوس نو چې یاغیانو دکاونډ هیواد نه پیسې اخستي او جنگ یې پیل کړی دی اول باید دجنگ مخه ونیول شي سوله راشي.بیا دهیواد دابادۍ لپاره لاسو نه سره پورته کړل شي هیواد اباد شي.عزیز لاسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

پورته کړل په ځای تاو شو.ـ بيا چې سوله شوه مور جانې ته به ښې جامې راوړم چې داختر په اوله ورځ به يې په تن کړي عزيز ځوی به يې ورته مبارکي ووايې.مور مسکه شوه لکه چې رښتيا داخترورځ ده او ټول خلک خوشاله دي خو ژر يې په تندي کې دخفګان نښې ښکاره شوې.دځوی په هکله يې فکر کاو.ـ دځوی ژوند به يې له خطر سره مخامخ شي.مسکا يې هغه وخت په خندا بدله شوه چې دمور مخې ته سوله لکه سپينه کوتره ودريده.په زهن کې يې تيريده_سوله خو نيک کار ده. سوله دهر چا لپاره ښه ژوند راوړي .په سوله کې هيواد اباديږي .دښځو او نارينه وو په ژوند کې به مينه زياته شي.چې مينه زياته شي بيا به ميړونه خپلې ښځې نه ډبه وي.مور اوسيلی وويست_ کاش چې زما دواده په شپو ورځو کې وطن اپاد وای !خلکو کار کولی.زما ميړه به په کار وشغول وای .ولې به په نيشي موادو اخته کيده!دده تور درانه سوکان به زما په تندي نه اوريده.خو چې دخپل دځوي دسولې لار يې  په فکر سم کړو دهغه مبارزه يې په خيال کې ورغله دا يې وتخنوله خندايې په شونډو کې په کډا شو دځوی په مبارزي يې فخر وکړ.ـ ځه ! دعزيز نوم به په خلکو کې ياد وي وايې به[ دفاتوکۍ] دکونډې ځوی دځوانانو مشر دی نيک کار پسې يې کامونه پورته کړي دي  دسولې او ابادۍ لپاره دځوانانو مخکې ولاړ دی غواړي چې هيواد دسولې په ځانګو کې وښوره وي .] مور شونډې وخټلې _ همدا راته بس ده.چې دخلکو په زړوکې زما نوم  هم ياد وي [دکونډې فاتوکۍ خواري هسې بې ځايه لاړ نشو که په ولړه نس يې شپې ، ورځې تيره ولې خو نيک ځوی يې دنيا ته لوی کړی دی ] مور دخيالو په سمندر کې ډوبه وه چې عزيز پرې غږ کړ_مور ! زه دخوا کې يم  خيال مه خرابه وه.هو مورې! موږ غښتلي يوو.موږ  په  هيواد کې يو حرکت پيل کړی دی دا حرکت به نړۍ هم په حرکت راولي.زموږ له ډلې سره به سوله غوښتونکي يوځای شي.موږ به غټ قوت شوو.زموږ داواز سره به نړيوال هم اوا ز پورته کړي .ياغيان به سم لارې ته راشي.او هغه هيوادونه چې زموږ په هيواد کې جنګ جوړ کړی هغوی به پښيمانه شي.له جنګ نه به لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخلي.او که لاس يې وانه خست دا جنګ به دهغوو دروازې هم وټکوي.دهغوو کورونه به وسوزي او بچي به يې داور په لمبو کې وريت شي.مور دعزيز له خبرو سره په اول کې خوشاله شوه چې سوله دټولې نړۍ په ګټه ده.او دعزيز سره به دسولې په راتلو کې مرسته وکړي خو چې جنګ دجګړه مارانو کورونه هم سوزوي ، بچي يې مړه کيږي خفه شوه څکه مور خفه شو چې دانسا ن له مرک نه يې کرکه کوله.مور ته ټول انسانان لکه دخپلو بچو پشان وزړه يې نه و چې دانسان بچيان مړه شي که دا هر څوک وي . دمور په زړه کې دا ارمان پروت و.چې جګړه ماران له جګړې لاس واخلي ټول انسانان په کډه کار وکړي په ګډه يې وخوري په ګډه ژوند وکړي .مور چې دعزيز څيرې ته وکتل تازه ورته معلوم شو.ـځويه ! څيره خو دتازه ښکاري لکه چې برى ستاسو په نصيب ده . مورچې دسر شندلي وينبتان په موټې يوځای کړل وويلـ ما هم په خپل لښکرو کې شامله کوړه !! دسولې نښه مې په اوږۀ وټمبه په کليو به ګرځم غږ به کوم وايم به [راشئ ! چې دسولې دنيا جوړه کړو.ای هغه ښځو!چې تاشو ټول عمر د څلورو ديوالو په منځ کې تير کړی راشئ وزرونه پيدا کړئ چې په تازه هوا کې پروازونه وکړو.دسولې پيغامونه ټولو هيواد والو او نړۍ ته ورسوو. راشئ ! چې ځانو ته سوله راولو.تر څو زموږ ګلالي بچيان دجنګ قرباني نه شي ].مور وخندلـ په لږ وخت کې به دښځو لوی لښکر جوړ کړم چې دنيا ورته حيران شي.مور وروځي پورته واچولې ـولې! .ته وای چې په ښځو کې قوت نشته؟، دښځو په متو کې برکت او قوت پروت نه ده.؟مور هسکه شوه دګريوانه ټنۍ يې وتړلې دوام يې ورکړـځويه! هغومره ماغزه چې نارينه يې په سرکې لرې ښځې يې هم لري.خو چې ښځې خپل ماغزه په کار واچوي او څوک وي چې دوی وپوه وي بيانو کوره !چې دسولې کوترې سپينې او شنې څنګه په هوا کې ملاقې وهي.؟او هر چاته دسولې پيغام ورکوي . عزيز دمور خبرو ته خندل او هم په حيرت يې ورته کتل.عزيز له اوله پوهيده چې ښځه دټولنې يوه برخه ده بايد په حرکت راشي.خو دمور تحليل ته په تعجب و.عزيز به له ځانه سره ويلـ دچا ژوند چې په غربت کې تير

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو گام د سولې پر خوا

شوی وي هغه ټولنه ښه پیژندلی شي.دټولنې داخلي تضادونه ښه درک کولی شي.ځکه چې مستقیما دبل چا له خوا استثماریږي هر انسان چې استثمار شي ژر شعور اخلي دخپل دځان دنجات او ګټولار لټوي او په مبارزه پیل کوي .عزیز خپله مور په طبقاتي ټولنه کې دیوې مبارزي په توکه وپیژندله.دهغې مبارزې ته یې سر ټیټ کړ.عزیز له مور ته لاسونه چاپیرکړپه داسې حال چې خندایې دتور بریتو په منځ کې په ګډا وه دمور پښو ته ټیټ شو ـ مور ستا مقام او ستاعقیدې ته سلام.عزیز چې دمور ویښتان په کوتو صافول خپل اصلي مطلب ته راغی .ـمور جانې ! میلمنو ته به څه پخوې ؟مور ددواړو لاسو کوتې وموښلې ـ ځویه ! ستا میلمانه دقدر وړ دي که هسې کوڅه ډبه هلکان دي ؟دعزیز تندی تروش شومخ یې بلې خوا ته واړاولکه چې دمور خبره پرې بده لګیدلی وي .دم شیبه یې داسمان په لور وکتل بیا مور ته مخ وګرځاوـمورې ! لکه زه درته کوڅه دډبه ښکاره شوم که څنګه؟هومورې زه خو ستا خوا کې لوی شوی یم تا به ما ته ښه لار ښودل نو زه به څنګه دکوڅه ډپۀ هلکانو ملګرتیا کوم.او دبیکاره ماغزو هلکان به میلمه کوم؟عزیز چې مور ته وکتل دروند ، دروند سر یې وخوزاوـ زما میلمانه هغه کسان دي چې په سر کې ویښ ماغزه لري.ښه فکر کوي .دټولنې په تحلیل پوه دي .او دخلکو دردونه یې په زړه کې پراته دي .عزیز جدي غوندې شوـمورې ! زما میلمانه په لاسو ډیوې نیولي تیارې پرې روښانه کوي .له تور ځنګل نه روښانه نړۍ ته انسانان را بولي .مور ځان ملامته وګڼله.لکه چې دې اشتباه کړې وي .او بیا عفوه وغواړي مور دعزیز لاسونه ومښل په سینه یې کیښودو.ـ زه پوهیږم چې ستا لار روښانه ده او روښفکر ه ځوانان ستا دلار ې ملګري دي .خو ما په خپل سوال کې له تانه امتحان اخستو.ټولنه خو رښتیا له بدو کسانو ډکه ده.خو دښو کسانو دنده ده چې هغوی ښې لارې ته سم کړي .مور خبره لنډه کړهـ هر څه چې پخه شي دبادنجانو بولاني به ورسره وي .عزیز په بریتو کوتې تیرې کړې ـ دسهار وخت درونئې ته تللی وم هلته هر سهار دبند دروازه پر چاو کړي چې په ویالې کې اوبه کمې شي بیا نو کار ګران ماهیان نیسي.یو من

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

ماهيان يې راکړو.عزيز وروځې پورته واچولې _ ماهيان به کباب کړو وريجې خو په مټ کې شته.عزيز سترګګ وواهه _ دماهيانو په کباب کې په زه درسره مرسته وکړم .خو زما ميرمن[ناجيه] تر ټولو خوړو دماهيانو کبا ب ښه پخوي لکه چې په مور دعزيز خبره ښه ونه لګيده . اوږه پورته واچوله _هغې له مانه زده کړي .مور دوام ورکړ_هره انجنۍ چې واده شي په هيڅ نه پوهيږي ځکه چې دمور په کور کې نازولې لويه شوي وي مور يې هم دلور ژوند ته فکر نه وي مور نوره هم مخکې لاړه_په خپلو سترګو مې ليدلي . انجنۍ چې وړه وي ځای يې دکلي کوڅه وي له نورو انجنو سره داريا دربوي .دوړکتوب سندرې وايې.،کوډي شاني خو ددوۍ اوله لوبه وي .له همدې کوڅې نه دميړه او ميرمن نوم زده کوي .يو شاکی کړي بل ورته ناوې او دوۍ به ورته چکې وهې دخپل داينده ژوند کې نه وي مور هم بې پروايې کوي خو چې دميړه دکور په دروازه پښه کيږدي بيا دعذابو سر مخامخه شي،مور مسکه شوه__ما به په وړکتوب کې له مور سره دکور کارونه کول .پلار به مې چې په سيند کې ماهيان ونيول ما به ورسره پاکول .نو ځکه دماهيانو پخول مې ښه زده ده. ناجيه چې زموږ دکور ميرمنه شوه هغې ته مې هم زده کول . عزيز دمور په اوږه لاس تير کړ په حويلۍ کې ښکته ، پورته يې قدم وواهه.کله چې مور دحويلۍ هغه اړخ ته لاړه چې چنار دنګ ولاړومور چنار له سره تر بيخه له سترګو تيرکړ_ ها! همغسې دپخوا پشان دنګ ولاړ ده.مور چنار ته په کوته اشاره وکړه__داچنار پلار ددمملې دچنارو نه يو ښاخ راوړی وپه دې ځای کې يې کيناو.هغه به بيل واهه ما به خاورې اړه ولې . مور اوږد نفس وويست لکه څوک چې په څه خفه شي._ دپلار نښه دهمدا چنار ده په هغه وخت کې مايې په خوله خندا و ليده نور ټول ژوند يې په قهر او غضب تير کړ.عزيز خبره واخسته_هغه نه و ملامت.چې حکومت دځان په چاغيدو کې وي خلک بيکاره ، بې روزګاره وي .خود نشيې موادو ته مخه کوي .بيا دنشي سړي نه دخندا او خوړې خبرې څه توقع کيږي ؟ هغه له ځانه خبر نه وي نو دبل چا په مينه او خندا به څه پوه شي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو گام د سولې پر خوا

دماښام سرو چې دعزيز ملګري يو،يو دکور په دروازه ننوتل . عزيز خپل ملګري په هغې دروازه بوتلل چې اشهداره يې ديوال خوا ته وه.او چا نشواى ليدى.خو چې دتور ماښام غمجنې ځپې دماسخوتن په پراخ سينه وزرې ولکولې بيا ستورو په خپلو اشارو کې يوبل ته څه ويل.شين اسمان ځليده لکه چې دسبا سپينو وړانکو ته يې دروښنا يې زيرى ورکاو ميلمانه په خپل ټاکلي وخت ورسيدل .مور دانګړ لوې دروازې ته قفل واچاو.په موټې يې کش کړه چې پوره باور يې راشي تر څو قفل ده او که نه مور په چابکو پښو دبرنډې له پاسه قدمونه ايښودل .خو چې دکوټې دروازه يې نيمه کښه کړه ميلمانه په دوه پښو ودريدل ._سلام مورې! هريو سلام ورکړمور ته ميلمانه سنګينه ښکاره شول .مور مطمينه شوه چې ميلمانه دښو اخلاقو خاوندان دي . مور دسترګو له عينکو ميلمانه تير کړل هغه چې ټول مخ يې ږيرې پوښلى و ستار نوميده په فابريکه کې سوهان کار وعزيز به هريو مور ته وژنده دا ستار ده کار ګر ده.دمور سترګې دوهاب په څيره ونښتې دهغه چې تور مخ او کالکوتي ويښتان يې و.غاښونه يې دتورو شونډو په منځ کې ځليده.وهاب ښونکى و.مور په کراره ورته سروخوراو.په داسې حال کې چې په شونډو مسيده سترې مه شي يې وويل.دکوټې دکنج نه دې خوا ځوان هلک ناست ودغټو تورو بريتو خاوند و.دده غاښونه له شونډو وتلي ښکاريدل .تا به ويل راته خاندي . عزيز وويل دا واحد نوميږي په ښار کې دوکاندار دى .مور دسترګو په حرکت ورته ښه راغلاست وويل،په خوا کې دجکې ونې خاوند کې لنګۍ يې له سره تاو ماشي برنجه ږيره يې وه عزيز مور ته ور وپيژنده :دا کليوالي سړى دى په کلي کې ښه ياديږي دا روف نوميږي په اخر کې عزيز ټوکه هم وکړه.ځان ته يې کوټه ونيوه_ زه عزيز د [فاټوکۍ] کونډې ځوى.ناست ميلمانه له خندا شنه شول مور هم خندا ونيوه.دخندا په منځ کې هوايې په ستوني کې غوټه شوبيا ټوخي را چاپيرره کړه.په داسې حال کې چې دلاس سپک يې خولې ته نيولې وه لیاړې يې وشندل شوې څو شيبې مور له ټوخي سره مصروفه وه خو چې له سترګو بهيدلي اوښکه يې دټکري په څوکه پاکه کړه وړې او تنکې سترګې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

ميلمنو ته واړه ولې .دمور اننګې دتوخي له کبله سرې شوې وې .دلاس سپيږه يې پر مخ کشه کړه وويل_ بيا هم ستړي مه شئ.ستاسو په راتک دخلکو خير غواړم.دمور په دې خبرې ستار په سرو سترګو نور ته وکتل خو څه يې ونه ويل.خو دهغوی عقيده راغله چې مور هوښياره ښځه ده. وهاب په ځای وخوزيد_ خير دنصيب شه. مور په دې خبرې خوښه شوه دښو لاندې يې عزيز ته وکتل لکه چې په ذهن کې يې ګرځيدلي وي _ لکه چې دا کسان مسلمانان دي مور ته دملا خبره رایاده شوه چې هر کليوال ته به يې همدا کلمه استعمالوله[دچا چې نصيب ښه وي ژوند يې ښه وي دچا چې نصيب بد وي ژوند يې بد وي ] مور ځکه داسې فکر کاو چې مسلمانان په همدې کلمه[نصيب] ځان ته تسګين ورکوي غربيان دپيسو خاوندانو ګريوان ته لاس نه اچوي .خو ستار دنصيب په کلمې عقيده نه درلوده.ستار ته دنصيب کلمه دهغه ښکاري دام پشان وچې صحرايې او بې خبره مرغان پکې نيول کيږي .دا کلمه[نصيب] دمزهبي کسانو او دپيسو دخاوندانو هغه جال ده چې لا شعوره کسانو باندې يې غوړه وي دهمدې کلمې [نصيب] له کبله ځانونه چاغه وي .او دنور ګټې تر پښو لاندې کوي .ستار په ږيره لاس تير کړ غوښته يې چې څه ووايې خو چې دمور په عقيدې تيری ونشي چپه خوله پاتې شو.يوازې يې دشونډو په څنډولو او دوروځو په خوزولو يې نور ميلمانه او عزيز وپوهول دا بې مانا[نصيب] خبره ده.. نصيب هغه وسله ده چې مزهبي او دپيسو خاوندانو دځان لپاره جوړه کړې ده روف ددې غونډې غړی و چې زيړ او وچ مخ يې درلود خو دجکې ونې خاوند و.مور وويل _ ستړي به ياست ! تر هغو چې دډوډی وخت رسيږي يو،يو پياله چای به وڅښئ. !مور دکوټې دروازه وتړله او لاړه.دعزيز سترګې ګردې په ځای خوزيدې _ مور پخوانۍ ښځه ده چې په خبرو يې خفه نشئ .دهغې عقيده له وړکتوب نه له مزهبي کسانو منشه اخستې وهاب په خبرو کې ولويد _موږ با يد دهرچا عقيدې ته احترام وکړو.موږ دهندو او مسلمان تر منځ په اقتصاد او تيري په هکله فرق ونه کړو.زموږ لار دتيري مخ نيولې او انسان وژنې نه مخ نيوی ده سوله دټولو لپاره ارمغان

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو گام د سولې پر خوا

په توکه وړاندې کوو. روف خپله لنډه شمله سمه کړه_دملا نور څه کار دی نس مړه ول هغه دپیسو لپاره دبل صفت کوي .روف زیاته کړه _ زموږ دکلي ملا همداسې ده.چې دمحراب په خوا کینې په خوله یې همدا خبره وي [دخان صاحب په نصیب کې نعمتونه لیکل شوي بختور انسان دی ټول بزګران ، غریبان دده له برکته ډوډۍ خوري ] خوچې په هغه ماښام خان ورته دحلوا کاسه په مخ کیږدي دخان له صفت نه یې خوله سترې شي. ستنار چې په فابریکه کې له کارګرانو ډیر شیان زده کړي ودخلکو او ټولنې تر منځ په مناسباتو ښه پوهیده وې ویل_همدا ملاده چې نړۍ سرچپه مطالعه کوي .عیني په ذهني اړه وي .خلک دتور ذهن خاوندان کړي . هغه لار چې خلک څنګه کار وکړي اودخپل دلاس ګټې په خپله وخوري نه یې پیژني . ستار دوام ورکړ_ دا اور داول ځل لپاره دملا او روحاني په لاس لمبه شوه.لا خبرې دوام درلود چې مور چای راوړو دهر چا په مخ کې یو یو پیاله کیښوده مور چې په دروازه ننوته دستار خبرې یې په خپلو پخوانیو او زړو غوږو واوریدې مور دستار په خبرو ډیره خفه شوه.ځکه چې ستار په ملا دخبرو حمله وکړه.دمور شونډې رپیدې خو څه یې ونه ویل.دسترګو دبڼو لاندې یې دستار په خوا کتل لکه څوګ چې چا ته په سترګو کې په قهر شي.تحدید یې کړي .مور لاسونه پورته کړ خپل رب نه یې سوال وکړ_ [ ربه دبل چا په ګناه مې ونه نیسې] له ځانه سره څه ویل بیا یې په خپل بدن چف کړ.لکه ملا چې څوک دم کړي بیا یې دماشوم په خوله چف کړي .د عزیز او ملګري یې په اصلي هدف خبرې رواني وې مور هم په دې حلقه کې ناسته وه دچای یو ،یو غړپ یې کاو نوره چپه وه.عزیز دخبرو لړۍ تاوه کړه_ اوس به خپل اصلي خبرې کوو.او چای به هم څښوو. عزیز دهیواد[افغانستان] په کړکیچن حالاتو وغږیده.دا چې څنګ هیواد دجنک ښکار شو او څنګه جنګ پیل شوعوامل یې څه و؟عزیز په مشروطیت غورزنګ راغی هغه دمشروطیت غوښتونکو یو، یو نومونه واخست چې دوۍ مشروطیه شاهي غوښتونکې وومور دعزیز په خبرو اووتحلیل باندې فخرکاو په ځای به وښوریده لکه څوګ چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



منډه بریالی شي.بیا موټې پورته کړي ځان خلکو ته وښيې. مور همداسې وکړه یانې چې همدا[ فاتوکۍ کونډه] وه چې دعزیز پشان یې ځوی لوی کړ.مور په شونډو کوټې ووهلې دعزیز څیرې ته یې کتل .عزیز دوام ورکړ_ دمشروطیت غورزنګ په اړخ کې نور ویښ کوندونه را وزیږیدل .ښه ښه سرونه چې بدن به یې ورسره ښه ښکاریدل په دې کوند کې جزب شول بیا یې دخلکو دزهنو دروښانه کولو لپاره یې مباره پیل کړه.اخبارونه ،ورځ پاڼې یې نشر کړې په حکومت به یې په لیکنه حملې کولې حکومت به ویښ کسان نیول ، زندان ته به یې اچول ، اعدام به یې کړل . هغه کسان به یې په اول کې اعدام کړل چې تیز فکر به یې درلود او دخلکو له غمه به یې ځانونه په ځنځیرو تړل. خو ښایسته ، ښایسته سرونه په هغه وخت کې داستبداد له خوا دخاورو لاندې شول دعزیز په داسې خبرو دمور څیره بدله شوه.یوه اوښکه ددې دمخ په کونځو روانه شوه خو عزیز دمور داوښکو دتاثر لاندې رانه غی .په چوش یې خپلې خبرې کولې.عزیز دوام ورکړ_ بیا چې محمد داود پاچا شو خلک یې په تاودو انقلابي شعارو غولول هر چا فکر کولو چې محمد داود به خوارانو غریبانو ته څه ورکړي لا ډیره موده نه وه تیره چې داود له خپلې لارې بلې خوا ته مخه کړه.دیموکراتان او روښنفکران یې زندان ته واچول مور له داسې خبرو اوریدو غونجه شوه په شا یې حرکت وکړ_ دا چې دډیموکراتانو کوند په هیواد کې قوت درلود په اوردو کې یې منصبداران زیات کوند ته جزب کړي وو.دعسکري پاڅون په پواسطه داود پاچاهي نسکور شو دولت دډیموکراتانو په لاس راغی .مور هسکه شوه په کوناټو وړانده شوه. دستار اننګې سره شول وهاب به سر خوزاو. روف دخپل دلنګوټي شمله سمه کړه._ بیا نو چې دیموکراتانو دخلکو دګټو لپاره کار پیل کړاو مخکې تلو لکه دڅا په لاس چې چراغ وي په تیارو کې خلکو ته لار ښیې.دستار سترګې احساساتو نیولې وې . دانار دانو پشان سرې ، سرې ښکاریدې دعزیز خبرو ته غوږ و. عزیز چې ناستو کسانو ته کتل څو شیبې چپ و خو په زهن کې یې دډیورن کرښه ښکته پورته کیده هغه پښتانه ورونه چې دډیورن دکرښې هغې خواته

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو گام د سولې پر خوا

ژوند کاو دهغوو په باره کې په خیال تللی و.هغه  دهیوادنیمه خاوره چې انګریز په زور او ستم جدا کړ ورته په زړه یادیده،دپخواني تاریخ یادونه یې دزهن په پاڼو کې یو بر بل اړه ول دده عزم ته به یې قوت ورکاو.عزیزچې دغاړې شخي وویست مخکې لاړ ـاوس پاکستان زموږ دپاچاهانو په تخت مستي کوي .او دجنګ اور ته همغوی پکی وهي .دستار ستونی ډک غوند شو لکه څوک چې چاته په قهر شي لاس یې موټی کړ خو ګزار یې ونه کړ.ستار ددواړو لاسو موټي ښورول دمور په څیره کې هم دقهر څپې په چورلکو و. واحد په نوکانو ځمکه کروله سر ته به یې حرکت ورکړ.دروف چې اندامونه په لرزه راغلي و په شمله یې لاس کش کړ.هغه دپخوانیو افغانانو دود تازه ساتلو.چې په جرکه کې به سره را غونډ شول دجکو شملو سره ښایسته ښکاریدل هر چا به دخپل دلنګوټي شملې سمولې . عزیز ټولې خبرې سپینې کړې ـ کله چې په هیواد کې انقلاب وشو.افغانانو دخپل دژوند لار پیدا کړه هغه لار چې هیواد به تکامل کوي ، خلک به په ارامه خپل ژوند ته دوام ورکوي او کله چې دافغانانو په متو کې قوت پیدا شو دخپل دتللي خاورې بند بست به کوي . پاکستان په دې خبره ښه پوهیده چې [پردی کټ تر نیمو شپو وي] ستار احساساتي څپو نیولی و.شونډې یې دغاښو په منځ کې چیچلې،دمور زړه هم په پرش کې و لکه څوک چې دسکروټو په انبار ولاړ وي او یا داورونو په کوڅه کې یې لار شي. پښې ترپوې  همدا یې مور پښې ترپولې  روف په ړیره کوتې ووهلې دسر په خوزولو یې دعزیز خبرې تایدولې  عزیز کوته پورته کړه دوام یې ورکړـتاسو خو پوهیږي ! چې دپاکستان په نوم هیواد انګریزانو وزیږاو. دهند او افغانستان خاوره یې په زور او جبر  سره یو ځای کړه پاکستان یې نوم پرې کیښودو. دځه  لپاره ؟عزیز چپ شو دسوال ځواب یې له نورو غوښته.مور دعزیز سوال ته حقه حیرانه وه دعزیز په مطالعه یې باور درلود چې تاریخ یې پوره په ذهن کې ناست ده. [موروویل] وهاب ځان وښوراو ژبه یې په شونډو وګرځولاه وویل ـ ددې لپاره چې داسیمه دجنګ میدان وګرځوي ..ستار هم خپله خبره ورسره غبرکه کړه .. مور وویل ـ همداسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده. هغه مسکه شوه_ دموره خو زه هم پوهيږم مور دوام ورکړ_ که په ليک ، لوست نه پوهيږم خدای خو ماغزه راکړي دښو او بدو فرق کوی شم. مور دلاس سپيره دکوټې په مخ کش کړ_ په دې خو هر څوک يوهيږي څوک چې دچا دپلار او نيکه ځمکه ځان ته کړي ځامن يې چې لوی شي او قوت پيدا کړي او تورې تر لاسه کړي دپلار له ځمکې نه دفاع کوي ياڼې دوباره يې لاس ته راوړي .دعزيز خوله له خندا ډکه و غږ يې پورته شو_ مور ديونان دفيلسوفانو پشان تحليل کوي هغه دمور په ورانه لاس کيښود _ که په ليک ، لوست پوهيدی نو ډير کتابونه به دليکلي وای ..مور جدي غونډې شوه لږه وړاندې راغله _ولې يوازې په يونان کې فيلسوفان شته؟دنورو هيوادو خلک په خيال مې چې ويده دي . هر څوک چې دخپلو ماغزونه کار واخلي فيلسوف دی . ستار داول ځل لپاره دمور خبرو ته په خندا شو.ځکه چې دستار څيره دخندا لپاره جوړه نه وه تل به په فکر کې و همدا به يې په خيال کې تيريده[ کار موږ کوو ګټې دبل چا په جيب کې وليږي ] نوځکه به يې تل تندی تروش و.او هغه لار به يې لټوله چې دخپل دلاس ګټې دخپل کړي . عزيز دچای غړپ له ستوني تير کړ مور ته يې وکتل_ پاکستان دبل چا دلاس اله ده دبل په خبرو اوړي را اوړي . دانګريز له خبرو نه تيريږي .دا چې دافغانستان انقلاب په لريو او نږدې هيوادو تاثر کوي او هم ددې انقلاب لار هغې کوڅې ته سر وباسي چې هلته سوسيالستي نړۍ جوړه ده سو سياليزم دسرمايدارۍ رژيم په ضد يو اقتصادي سيستم ده . همدا سبب ده چې دنړۍ سرمايداري هيوادو نه سره يو ځای شول غواړي زموږ په ملک کې دانقلاب مخه ونيسي. دا نهضت خفه کړي او زموږ خلک دولږې ، بيکارۍ سره مخامخ کړي نو ځکه يې پاکستان ته دنده وسپارله چې دجنګ اور تازه وساتي .تاسو وليدل چې په اول کې دتنظيمو په نامه څوکسان يې په پيسو واخستل دين او مزهب يې لکه توپک استعمال کړمزهبي کسان يې دځان نوکران کړل په هيواد کې يې جنګ پيل کړ.داچې دتنظيمو په نوم کسان دبدو عمالو له سببه په هيواد او نړۍ کې ناکام او وشرميدل بيا نو دطالب په نوم بله

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

ډله يې را منځ ه کړه انسان وژنه يې دود کړ .عزيز دوام ورکړ__دشاه شهيد واقعه به دهيڅچا له مغزو ونه وځي چې دموتر بم دانفجار له کبله څلور سوه[٤٠٠] کسان مړه او زحميان شول ،دخوست په مطاهره کې چې لسوکونه کسان مړه او زحميان شول همدا رنګه دخوست دولیبال په لوبه کې همدا رنګه وبولئ لا وژنه لا دوام لري . انسانان مړه شول ، ښوونځی ، لارې ، روغتونونه ، سرکونه، پلونه، نورې ودانۍ ورانې شوې .دمور مخ په اوښکو لوند شو تحمل يې نشواى کولی په زور ، زور يې وژړل ځکه چې دانسان په وژنه يې زړه درد کاو عزيز په خبر کې و چې مور ته يې پام شو مورې! په ژړا زمور دهيوادوالو دوينو بهيدل نه دريږي مبارزه په کار ده مور دهمدې لپاره دلته راغونډ شوي يوو چې هيواد ته سوله راولو.ستار دروند سر وخوزاو:رابه يې ولو..هغه موټی پورته کړ:په موټي دهر ځا سر ماتيږي خو که موټي اوار شي لکه ګل چې وغوړيږي ښه ښکاري.سوله هم دګلاب دګل پشان غوړيږي په هيواد کې ابادي راځي .دمور سترګې نمناکې وې ژر ژر يې رپولې لړه مسکه شوه لکه ږلۍ وهلی ګل چې شونډې دوباره دسهار وږموته خلاصې کړي .مراوړه پورته واچوله :ياني سوله به راشي؟نور به انسانان نه مړه کيږ ي؟هغې زياته کړ:تاسو په دې باور ياست [!؟] چې نور به ځان وژونکی ځان نه وژني ؟ او نه به انسان وژني ؟ دمور په خوله کې خندا په ګډا وه همدا به يې ويل:[نور به موركانې دځپلو بچيانو په مړينه نه ژاړي ،نور به دموركانو لاسونه دبچيانو په وينو نه سره کيږي ،نور به موركانې خپل مخ په سپيږو نه وهي ]،دمور څيره ورو ،ورو بدله شوه دخفګان په لور لاړه.: زما يقين نه راځي .ځکه هغه کسان چې بې تعليم لوی شوي وي دانسان په ارزښت نه پوهيږي .انساني نړۍ چيرې پيژني ؟ځا چې ورته څوروپۍ دواسکت په جيب کې ومنډل دهغمه ثرنا ته لاسونه خوزوي .ستاسو منډې په بې ځايه وي.دمور په خبرو دستار تندی تروش شو: لکه چې مور درته هسې ښکارو که څنګه؟هغه جدي شو:په مبارزه ايمان په کار ده.په حرکت يو کار اجرا کيږي .بيا چې دکارګرو لاسونه په حرکت راشي نړۍ په حرکت راځي.دنړۍ شکل ته تغير ورکوي.ستار

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لاس اشاره وکړ:دا دکابل ،لغمان سیندونه دچا په لاسو مهار شوي دي ؟دا دهدېږ ، ثمر خیلو ،مارکو باغونه دچا په لاسو شنه شوي دي ؟دستار سترگې تاوویدې او له خولې لیاوړې شندل کیدې: دا ټوله ځکمه دښتې وې .اوس په ونو شنه ښکاري.مور چپه شوه غږ یې پورته نشو.لکه څوک چې چاته ملامت وي اوسترگې دځمکې خوا ته واړوي .مور بیا هم باوري نه وه.ځکه چې هغه پوهیده چې کار گران دبابو کسان دي په مجلس او مظاهرو کې ډیرې خبرې کوي هغه له ځایه یورته شوه:ماهیان به پاخه وي زه به دډوډۍ بند بس وکړم مور ددروازې پټ نیمکله کړه ووته خو د عزیز خپلو ملگرو سره خبرې روانې وې.ستار دړیرې تارونه کشول دیوال ته یې سترگې نیولې وې هغه دمور خبرو ته په حیرت تللی و.همدا وخت دروف غږ پورته شو: مور خپله ټولنه او خپل خلک ښه پیژني .له یوې نالوستې ښځې نه داسې خبرې اوریدل دتعجب خبره ده. واحد وویل:دا ټولې خبرې یې له عزیز نه زده کړي دي .په کور کې چې یو کس پوه شي له خولې یې چې یوه یوه خبره ووځي دکور غړي یې زده کوي .عزیز وویل:طبیعت ده چې پر چا پرزو ولري ښه استعداد ورکوي .په نالوستو کې هم داسې کسان شته چې زکاوت یې دلوستل شو نه زیات وي .عزیز دسر ویښتان په کوتو صاف کړ: په نارینه او ښځو کې کوم فرق نشته کیدای شي چې دډیرو ښځو زکاوت له نارینه وو نه وچت وي .وهاب خپل شونډې ددوه کوتو په منځ کې مښلې غوږ یې خبرو ته سم نیولی و.عزیز خپل هدف ته راوگرځید:خبره دسولې ده چې څنگه وکولی شو جکړه ماران له جنگ نه لاس واخلي او دسولې له کاروان سره ملگري شي.وهاب دسیاست خوا ته لاړ :دا پیسې ډیر بد شی ده دهر چا په لاس چې پیسې وي لکه توپک چې یې په لاس وي اونورو خلکو ته یې خوله واړوي .اول باید په هغه لار تک پیل شي چې پیسې په ټوله نړۍ کې دانسانانو ترې منځ مساوي وویشل شي.وهاب دیو رهبر پشان سر ته حرکت ورکړ: دوام یې ورکړ:همدا پیسې دي چې عدالت منځ ته راوړي او همدا پیسې دي چې جنگ منځ ته راوړي سرمایه دښامار شکل لرې نور انسانان خوري او که پیسې په مساوي توکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو گام د سولې پر خوا

دخلکو تر منځ ورکړل شي بيا سوله ده او عدالت ده، وهاب شونډې په موټي پاکې کړې دوام يې ورکړ:زما دخبروو مانا داده که پيسې هر چا ته په مساوې تله ورکړل شي جنگ له منځه ځي .ځکه چې جنگ په پيسه ده که پيسې دچا په لاس کې زياتې وې او دبل لاس تش وي بيا همغه توپک ده چې دچا په لاس کې و ی هغه بل پرې ولي .عزيز لوی نفس وويست دواړو لاسو کوټې يې سر مبنلې څه شيبه جپ و په تيزو سترگو يې کتل خو چې قلم يې دکوتو په منځ کې ونيو خوله يې خبرو ته خلاصه شوه: خبره خو دوهاب يخه خبره ده.چې پيسې دجنگ اور په نړۍ کې بله وي هغه لار خو ډيره اوږده ده .مارکس ،انگلس هم په هغه باب ډير کتابونه ليکلي او خلکو ته يې لاې ښونه کړی بيا په تيره دکارگرانو ، بزگرانو دنده يې په کوته کړی دی دهغه لپاره اوږده مبارزه په کار دی دا چې اوس زموږ په هيواد کې جنگ دی ياغيان دکاونډ هيوادونه پيسې اخلي دهغو په تحريک لا شعوره خپل هيواد ورانيوي او خپل خلک وژني .اوس ددې کار لنډول پکار ده. ستار کا رگر وسخيده: ددې کار دلنډولو لپاره سوک په کار ده.چې دسوک زور ونه کورې دښمن سولې ته غاړه نه ږدي .ستار گڼ ږيره په موټي ونيوه: ومو ليد زما ږيره څومره ببره ده هر تار ځان ته ،ځان ته لار پيدا کړی و خو دموټي په زور مې سره يو ځای کړل ستار زياته کړه: زور هم په کار ده.حکومت بايد دزور نه هم کار واخلي عزيز کوته پورته کړه ناست ملگري يې ځان ته متوجه کړل ـ دښمن دحکومت په منځ کې هم کار کړی دی امکان شته ډير کسان يې په پيسو اخستي وي .يا خو به يې وعده ورسره کړي وي ياني داسې چې که حکومات دياغيانو په لاس ورغی په لوړ مقام کې به يې وکماري . هغوی چې لوې ږيرې په مخ لري تاسو به وايې چې دوۍ ټول ديندارہ کسان دي .عزيز په جدي وويل:دږيرې دهر تار بيخ کې يې دشيطان ځای دی ډير کسان شته چې ږيره يې دبل هر چانه اوږده ه خو عمل يې دشيطان پشان ده.مور دعزيز په خبرو خفه غونډې شوه دمور زړه نه و چې عزيز دږيرورو ته داسې خبرې وکړي ځکه چې دمور پلار هم ږيره ور سرۍ ومور ته په زړه شوه: [پلار مې نيک

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

سړی وله ږيرې سره ښه ښکاريده هغه دچا غيبت نه کولو ښوونځی ، لارې يې نه ورانولې په جومات کې به په عبادت پروت و] خو چې دا شيبه يې خپل قهري ميړه په زړه شو تندی يې تروش شو مخ يې بلې خوا ته واړودمور ياد ته راغی [ چې ميړه يې ږيره ور سړی و هغه ورځ چې عزيز نوی پيدا شوی و اودې خپل ميړه نه مرسته غوښته دميړه سترګې يې نيشو سره کړې وې دچپ لاس سپيړه يې ددې پر مخ حواله کړه له مخ نه يې سره لمبه پورته شوه ] مور ته دا جوته شوه په ږيره ور کسانو کې ښه اوبد هم شته . واحد کوته پورته کړه : عزيز رښتيا وايې .په ځنګل کې هر نوع ځناور پيدا کيږي دښمن ارام نه دی ناست هلته چې ياغيان تربيه کوي او مور ته يې دچنګ لپاره ليږي دا هم کولی شي چې په داخل دحکومت کې دځان پلويا ن پيدا کړي هغه زياته کړه: وکورئ !که زمور جنګ له پرد وو سره وای برى به زمور وايې خو په دا خل دکور کې چې مشکل پيدا شي سخته ده.اوس مور په دوه لاسو جنګ کوو.يو له داخلي ياغيانو سره بل دکاونډ هيوادو او پيسه لرونکو هيوادو سره .خو دا ښه خبره ده چې داخلي ياغيان دخبرو له لار خپل کړو هغوی وپوه و چې خپله خاوره خپل هيواد مه ورانوئ.خپل خلک مه وژنئ!راځئ دسولې هيواد جوړ کړو په دې ګې به دهر چا ژوند خوندي وي مور په دروازه کې وه چې واحد خبرې کولې هغې چې له ماهيانو ډګ غوری په ځمکه کيښوده په داسې حال کې چې مسکايې په شونډو کې مسيده دواړه لاسونه يې پورته کړ خپل رب ته يې دوعا وکړ[لوه خدايه! زمومږوطن ته سوله راولې مرسته وکړئ] مور ټولو ته وکتل وويل: دزړو ښځو دوعا خدای ژر قبلوي . بيا هغه ښځه چې په ژوند کې ډيره زوريدلې وي خدای پرې رحم کوي . ستار په خوله څه ونه ويل خو په زړه کې بغيده.دمور دوعا ورته ښه نه ښکاريده ستار پوهيده چې په دوعا او ښيرو هيڅ نه کيږي که په دوعا څۀ کيدای يابه ټول خلک مړه وايې يا به دټولو خلکو ژوند ښه ،وای .هغه په دوغا باور نه درلودپه وړکتوب کې چې ستار ناروغه وسختې تبې پسې اخستی و مور به تل لاسونه دوعا ته پورته نيوي و چې ځوی يې ژر ښه شي.خو زما تبه بله سبا له هغه زياته شوه.چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



طبیب را له دارو راکړ ښه شوم نو ځکه ستار دبوډا کانو ، ماشومانو او ښځو په دوعا او ښیرو باور نه درلود. ستار یوازې دمتو په قوت باور درلود.هغه به تل ویل: چې متې په حرکت راشي مشکل حلیدای شي. مور ته دستار خبرو غم جوړ کړدستا ر ځیره یې خوښه نه وه چې کله به یې دستار په ځیره سترګې ونښتې مخ به یې بلې خوا ته تاو کړو مور ژر دخبرو میدان ته تغیرورکړ:ستړي به یاست ماهیان وخورئ ! هغې وخندل : په غوړو کې مې کباب کړه.دهر چا مخې ته یوه پاچه ډوډۍ له ماهیانو سره کیښودله شوه ستار چې دماهیانو غوښه خولې ته کړه بیا په غاښو میده کړه ؛ له ستوني یې تیره کړه وویل: دلغمان دسیند ماهیان خونده ور دي .ددرونټې کارګران په میاشت کې یو ځل دروازه پرچاو کړي ماهیان نیسي هغه وخت چې په سیند بند نه و دماهیانو نیول هم مشکل و په جال او جنکک به خلکو ماهیان نیول . ستار بله مړۍ خولې ته کړه : چې شوروي دولت دا بند جوړ کړاو سیند یې مهارکړډیرې دښتې ابادې شوې فارمونه جوړ شول [دهډې فارم ، دثمر خیلو فارم، مارکو ، خلورم فارم ] دا ځمکې داوبو لاندې شوې ډوډۍ خوړل دوام درلود بحثونه هم کیده چا به سیاسي خبرې کولې چابه فلسفي دخبرو په لړ کې عزیز سوال وکړ:په نړۍ کې اول ملامت کس څوک دی؟هر یو بل ته کتل مور هم په فکر تللې وه هغه په تشویش کې وه چې په مزهبي کسانو یا پیغمبرانو څوک حمله ونه کړي مور ته تجربه وه چې ځوانان دومره په مزهبي مسایلو بند واز نه وي په هر مزهب کې داسې کسان شته چې دعبادت ځای ته دومره نه ځي .[جومات، کلیسا، درمسال ، مندر ] او نور یا خو بیخي تندی پر ځمکه نه ږدي .بیا خو انقلابیان په دیني مسایلو پوره باور نه لري انقلابیان دانسان په متو پوره باور لري .څه چې په خپلو سترګو په طبیعت کې شیان کوري پرې باور هم لري . مور به هریو ته سترګې نیغې کړې خو چې دستار په ځیره یې سترګې ولکیدې بانه یې په سترګو واړه ول ستار پوهیده چې دمور ورسره جوړه نه ده.ځکه دعقیدې تفاوت ددواړو تر منځ موجود و.ستار چې درېرې اوږده تارونه له ږیرې سره یوځای کړل شونډې یې خلاصې شوې سپین غاښونه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وځليدل خو چې ستونی يې صاف کړ دعزيز دسوال په ځواب کې يې وويل:ـ اول ملامت سړی په نړۍ کې هغه څوک دی چې وې ويل[دا مال او ملک زما دی ] نور چپ شو عزيز ته يې په تندو سترگو کتل.خو چې دماهي دغوښې پارچه يې له ستوني تيره کړه زياته يې کړه: هغه سړی اوس مړ دی خو دهغه بده مفکوره دژونديو خلکو لپاره بده بلا شوه.ستار دعزيز په ورانه دسپيړې ټپ ورکړ:ځکه چې دا اوس دپيسو او مال خاوندان دهمغه سړي دلارې ملگري دي دا شخصي مال او سرمايه چې بل انسان پر ې استثماريږي دا دهغه اول سړي دنظر محصول ده. او خلکو ته ملامت دی . عزيز دسوال ځواب مثبت وښوده په ستار يې افرين وويل.عزيز زياته کړه: په رښتيا چې دکار گرانو ماغزه دتکامل په حال کې دي .ښه تحليل کولی شي.دټولنې مسايل ښه حلاجي کولی شي. ستار لکه اتل چې بری تر لاسه کړې سترگې يې لکه دنشې پشان تاويدې . مور غنجه شوه نارامه ښکاريده.هغې ته فکر پيدا شو [ زموږ کور خو هم شخصي مال ده دا انقلابيان يې ځينې وانه خلي؟]دنارامۍ په حال کې يې سترگې دکوټې په چت او ديوالو نښتې وې .دهغه په ذهن کې تيريده[چې په څه خوارې يې دا کور جوړ کړی ده له قهري ميړه سره يې شپه و ورځ دکور په جوړه ولو کې کار کولو.] ژر يې ياد ته راغی [چې په کار کې به ستومانه شوه دلږې دمې لپاره چې به کيناسته ميړه به په خښتې ووهله ] دهغه ټپ ځای يې په کوتو ومښه خو په خوله يې څه ونه ويل.عزيز دمور په مزاج وپو هيده مورې ! دستار له خبرې سره نارامه شوې لکه چې خپل کور د په زړه را ياد شو که څنگه؟ عزيز دتورو بريتو څوکې جوړې کړې وويل :مورې ! انقلابيان له چا نه کور نه اخلي بلکه ورته کورو نه جوړه وي هومورې ! انقلابيا ن دهغه چا کورونه ، ځمکې په نورو خلکو ويشي چې په ظلم او زور يې تر لاسه کړي وي عزيز جدي غوندې شو:ولې دا نور خلک چې په دې ټولنه کې ژوند کوي حق نه لري چې کور ولري ؟ ستار اوږد نفس وويست سر ته يې حرکت ورکړ :ولې يې نه لري.ټولنه اونړۍ دټولو ژونديو موجوداتو شريک مال دی .ددې نړۍ مال بايد په ټولو خلکو په مساوي ټوکه وويشل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي. مور ته دا خبرې نوې وې . هکه پکه وه.کله به يې ديو سترګو ته کتل کله دبل هغې چې دمخ په کنځو کوتې ووهلې دخپل دکلي دملا خبرې يې په زړه رايادې شوې [دهر چا نصيب] وهاب به ورو ورو خپل سر ته حرکت ورکاو يو يو خبره يې کولو.وهاب دملا خبرو ته دنه په مانا سروښوراو. ملا ټولې خبرې اخرت ته پريږدي دا اوس چې انسانا وژل کيږي هيواد ورانيږي،ددې ټولو ورانکاريو سزا داخرت ورځې ته پريږدي .يانې اوس دانسانان مړه شي بيا هم ملا وايې[داېې په نصيب کې ليکل شوى و] وهاب دوام ورک: زه په دې عقيده نلرم. ملا دپيسو دخاوندانو په ګټه خوله خوزوي .وهاب لاس موټى کړ په جدي يې وويل: همدا ملاده چې دجنګ اله ده .لکه څوګ چې لرګيو ته اور واچوي او تيل پرې وپاشي بيا ارولکيت ور ته بل کړي .دملا دنده دتيلو پشان ده چې دبل چا په لاس استعماليږي . واحد دوهاب خبرو ته دتايد سر وښوراو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (٤)

ډوډۍ خوړل سر ته ورسیددسولې خبرې دوباره را یادې شوې اوس په دې خبرې روانې شوې چې څنګه خپل فعالیتونه دخلکو په منځ کې پیلي کړي.؟او څنګ وکولی شو چې خلک وپوهوو؟.تر څو دسولې کاروان سره یوځای شي.جکړه ماران له جنګ نه لاس واخلي.ستار په کونډو شوسوک یې دکوټې په غولي کې په زور ،.زور وواهه.: باید نابود کړل شي.هغه چې ډیره په کوتو صافه کړه دوام یې ورکړ:جکړه ماران دپردو نوکران دي هغوی هیڅکله سولې ته نه حاضریږي ځکه چې دهغوی ګټه په جنګ کې ده.جکړه ماران ناپوه کسان دي په لیک او لوست نه پوهیږي دځوړپو لپاره دپردي توپک په اوږه وړي .ښوونځی ،روغتونونه ،خپل هیواد ورانوي ..جکړه مارانو ته خپل ،پردی یو دي ..هغوی یوازې پیسې پیژني نه انسانیت ا و انساني کرامت.ستار زیاته کړه: زموږدهیوادمزهبي کسان هم دپردو په غیږ کې پراته دي .لکه فیل مرغ ته چې دانه وښودل شي بیا درپسې په منډو راشي. مزهبي کسان همداسې وبوله.روف دواړه لاسونه منبل وویل:ستار ربنتیا وایې.دښمن .دښمن ده.هغه کله خبرو ته حاضریږي ؟په سوله کې دښمن ته تاوان ده.یانې چې سوله وي دښمن مړ وبوله.ځکه چې هغه ډیر کسان وژلې دي .یو څوک ځان وژنه کوي تر [١٠ _ ١٠٠] پور کسان په یو ځان وژنه کې مړ شي.دهغو مړو کسانو اولادونه کله ! دخپل دپلارو ،ورونو ،خویندو دوینو انتقال دښمن ته پریږدي ؟عزیز مسک شو سر ته یې حرکت ورکړمور منتظره وه چې دعزیز له خولې څه ملغلري را وځي ؟ځکه مور پوهیده چې عزیز دهرې خبرې ځواب په منطق برابر وایې عزیز نوبت واخست:ستاسو دواړو! خبرې علمي بڼه لري.دښمن.دښمن ده خو انسان کولی شي همدا دښمن دوست ګړي دعقل اومنطق له کبله وحشي حیوانات ایله وي.عزیز لاس وښوزاو:په ځنګل کې قوي ځناور زمری ده دبل حیوان په ستوني داړې خښوي .په وحشت او داړو لکولو کې دبل هر حیوان نه په اول کې ده خو چې انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

خپل عقل په کار واچوي همغه وحشي حيوان داوسپنو په ځنځير تړلی شي.بيا خو هر انسان ماغزه لري په کار ده چې ماغزه يې ومنځل شي او په کار يې واچوي .دا نو دهغه بل انسان چې ماغزه يې پوره تکامل کړی وي کولی شي چې دهغه ماغزه ومنځي او ايل يې کړي .عزيز ټولو ته وکتل زياته يې کړه:دا امکان شته.مور دعزيز په منطق او استدلال مغروره شوه.عزيز خپلې خبرې اوږدې کړې :موږ بايد خپلا فعاليت دسولې لپار په کارواچوو.انسان ته دهغه دحق په بآب پوره معلومات ورکړو.ورته ووايو:[په سوله کې ژوندستا حق دی راشه خپل حق نه دفاع وکړه!پردي هيوادونه ستا حق تر پښو لاندې کړی . ته يې داغزو په لار روان کړی يې دا هيواد يې تاته دوزخ ګرځولی دی ] کيدای شي زموږ دسولې کاروان پياوړی شي.موږ به هيواد ته سوله راولو.خپل هيواد به زرغون کړو.هغه څوک چې مړه شوي هغوو ته به دوعا وکړو دژونديو لپاره به غوړيدلی هيواد جوړ کړو. زموږ خلک به په خندا او مسکا دګلونو په منځ کې ژوند کوي .ددښمن مخ به تور وي تاري؛خ به يې په تورو کرښو ليکل کيږي .نړۍ به ترې نفرت کوي ، انسان به ترې نفرت کوي .عزيز سرته حرکت ورکړ:موږ به پيردوهيوادو ته دسولې پيغام هم وليږو هغوی به سولې ته را وبولو ورته به ووايو[ستاسو ژوند هم په سوله کې ښايسته کيږي جنګ ستاسو ږيرې او مخ هم سوزوي] څکه چې دانساني ژوند همدا دسولې لار ده .دعزيز دخبرو منطق ته چا د [رد ] ځواب نه درلوددټولو غوږونه خلاص شول . مور ډيره خوشاله وه چې په هيواد کې سوله راځي .دا به له سره دځوانۍ خوبونه کوي ،دا به راتلونکی ژوند له عزيز اونورو کليوال سره په خوښۍ تيره وي .دستار احساساتي ځيره هم بدله شوه توراو اوږده بريتونه يې په شونډو څوړند معلوميده.روف ته نوی خيال پيدا شوی و[ په کروندو کې به ښه کامونه په ارام زړه پورته کوم ښه حا صل به لاس ته راوړم لويه وياله چې جکړه مارانو وران کړې کليوال به يې دوباره جوړ کړي ، ښاړې ځمکې به ابادې شي،غلې داني به ډيرې شي، دکليوالو کيډې به پرې مړې شي ].واحد هم شونډې ځټلې [په دوکان کې په ډيره ګټه تر لاسه کړي ، ښار به له جنګ نه ارام

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي ،خلک به په مينه په ښار کې ژوند کوي ،دپسرلې دورځې ميلې به په خوښۍ تر سره کيږي ، دنارنج ګلان به دهر ې پيغلې په پيکې نڅا کوي ،دهر ځوان په شمله به ګلان ښه ښکاري.] وهاب همداسې خيال کاو[په سوله کې به دهيوا د ماشومان ښوونځيو ته ځي ،زه به لکه مهربان پلار پشان ورته په ډاډه زړه زده کړه ورکوم، ماشومان به دسولې تراني وايې].

...

دهرچا دنده معلومه شوه.وهاب دنده واخسته چې په ښونځۍ کې به دسولې لپاره غږ پورته کوي شاګردانو او ښوونکو ته به دسولې ګټه په کوټه کړي هغه لار چې دسولې دنيا جوړه وي ور روښانه کړي .وهاب په شونډو لاس تير کړ : زه به په ايمانداری سره خپله دنده تر سره کړم.وهاب دغاړې نکتايې په په کوتو جوړه کړه وويل:دخلکو پوهول دسولې لپاره ضروري ده.بې له سولې ژوند ګران ده.واحد چې دواسکت جيب نه تسبې و و يستې دکوټې څلورو ديوالو ته يې وکتل :ښار لوی دی خلک زيات دي ديو نفر کار دسولې لپاره کافي نه دی .هغه چې دلاس پنچه موټی کړ دوام يې ورکړ:زه به له ځانه سره څوکسان چې سوله غوښتونکي وي ملګري کړم. بيا يې مور ته وکتل: ښار له فساد نه ډک ده او هم په حکومتي چارواکو کې فساد شته څوک په شعوري يا غير شعوري يا خو له ډاره دحکومت طرفي کوي . واحد زياته کړ:تيره هفته دښار په کوزه څنډه کې يو دسولې پلوي ملا خپلې خبرې داسې دخلکو غوږو ته ورسولې[ای ديندارو ، وطن پالو، انسان دوستو خلکو!پوهيږي! ؟ چې داسلا م دين دسولې دين دی اسلام نه غواړي دخلکو وينې وبهيږي .هغه څوک چې انسان په بمو، توپک ، انفجار اوځانه وژنه وژني دهغه ځای دوزخ دی انسان وژنه له انساني ، اسلامې عمل نه مخالف دی نو راځئ له جنګ نه لاس واخلئ تر څو خپل کور ،کلی په ګډه اباد کړودسولې ژوند ښتايسته ژوند دی ]ملا دسولې په باره کې ډيرې ښايسته خبرې وکړې دوه شپې به تيرې نه وې چې ترور يستان په جومات ننوتل ملا يې حلال کړدواحد له دې خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

سره دمور څيره دړړا په خيره بدله شوه غتهه ، سپينه اوښکه يې په زاړه مخ روا نه شوه مور ته دانسان وژنه دبل هر بد عمل نه بدتر ښکاريده هغې چې پر مخ بهيدلې اوښکه پاکه کړه په سلګو شوه.په ژړغوني غږ يې وويل: موږ بايد ډير کار وکړوتر څو خپل هيوادوال له وژنې خلاص کړو.ستار په ږيرې لاس کش کړ خپلې خبرې يې د اسې پيل کړې :تر هغو چې دپاکستان په نوم هيواد دنړۍ په نقشه کې وي دا سيمه کې به جنګ دوام لري. تر څو چې دډيورن دکرښې سرنوشت معلوم نه شي جنګ به زموږ دهيواد په لمن پورې نښتی وي .ستار له ځانه سره وغمبيده: څوک دخپل پلار ، نيکه ځمکه چا ته پريږدي ؟انګريزانو په زور زموږ خاور ځانه ته کړه نوم يې پرې پاکستان کيښودو.ستار ځمکه په سوک وواهه: پاکستان دپه دې پوهه دي که نن دافغانانو پښې په ځمکه کلکې شوې او په نس ماړه شول خپلې خاورې غوښتونکي دي .پښتانه ، بلوڅ قبايل خو تيار کوته په ماشه ناست دي دوخت لپاره منتظر دي .مور غتهه کوته دغاښو په منځ کې نيولې وه سر يې ښوراوه. ستار دکمتهې غږو ته ډاډ ورکړو :زه به په ټول قوت دکار ګرانو په منځ کې کار وکړم. هغه زياته کړه:کارګران خوتيار ولاړ دي دوطن دابادۍ لپاره يې چې هر خواته په حرکت راولې په منظم ډول خوزيږي .مور سوګند ياد کړ:زه په خپل مزهبي کتاب سوګند ياده وم چې دښځو لښکر به دسولې لپاره په حرکت راولم.عزيز په مور افتخار کولو دهغې په مبارزې نازيد.نور نو عزيز ته دخبرو ميدان پاتې شو: پوهيږې ! چې دسولې دښمنان هسې ساده کسان نه دي له هغوو سره د پردې هيوادو ملاتړ شته.عرب هم ورسره مرسته کوي پيسې ور ليږي ، سړې ور ليږي ،امريکا خو ياغيان په خپله روزلي دپاکستان له لار ې مرسته ورکوي نو هوښياري په کار ده.عزيز وويل: څوک چې دخلکو دګټو لپاره مبارزه کوي دخپل ځان سانتنې ته بايد پام ولري ځکه چې دښمن په اول کې په هغو کسانو حملې کوي چې فعال وي .خوله يې دښو کارو لپاره وازه وي .، دوطن او خلکو دردونه ورسره وي،نو کله چې تاسو دخلکو په منځې ، کليو او باندو ، ښارو ، په تعليمي ځآيو يا کار ګري محيط

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو گام د سولې پر خوا

کې خپله دنده تر سره کوی خپل ژوند ته هم متوجه اوسئ هغه کسان چې له تاسو سره ملګر تیا کوي پوهه یې کړئ چې بې ځایه به کامو نه نه پورته کوي .په میاشت کې به یو ځل خپله غونډه کوویودبل حال نه به خبریږو[عزیز وویل]

. . .

مور تبلیغاتي پاڼې دلوی چرمدارې کمیس دلمنې لاندې پټې کړې.خورجینه یې اوږې ته واچوله روانه شوه لکه ښوونکی چې دښوونځی په لور روانه وي .او شاګردانو ته تعلیم ورکوي مور چې وچت.وچت ګامونه پورته کول دکمیس لمن به یې دلار تک په وخت کې تاوه شوه په پښوبه یې ونښته.دا ورځ دمور په تک کې ډیر فرق لیده کیده مور دا ځل لکه دکلي یوه ساده کلیواله نه ښکاریده هغه لکه یو قهرمان چې دخپل هد ف لپاره لار لنډه وي .یا لکه یو فیلسوف چې پټ شیان لټوي په فکر کې ډوب وي .په همداسې حال کې مور هغه سپینه نری لار نیولې وه چې دپټو په منځ کې کږه وږه سر یې کلي ته وتلی و.لا ځنډ نه وتیر چې مور هغه کلي ته ورسیده چې دپاچاهانو دکل په نوم یادیده.دکلي خلک زیاتره بزګران وو.ښځو به هم له نارینه وو سره په پټو کې دکر کښت کارونه کول ښځې ټولې نالوستي ې خو دکوتو په شمار ځینو ښځو دقران شریف لوست کړی ونور ته یوازې دکور کارونه پاتې وله تمدن نه خو بیخي لري و.په سیاسي خبرو سره اشنا نه و.هلکانو څه ناڅه لیک او لوست کولی شوفاروق تر ټولو هلکانو په کلي کې بیدار ه و؟هغه له دیموکراتانو سره اړیکي درلودې کله ،کله به یې په جومات کې دکلي ملا خبرې دروغې ګڼلې.نو ځکه ملا په فاروق دکفر او ملحد تور لکولی و.ځینو هلکانو به دهمدې له کبله ورسره لوبې هم نه کولې .خو دفاروق منطق او استدلال ته چا ځواب نشوای ویلی.په ټولنه کې چې زیات کسان ناپوهه وي دپوه سړي خبرې که څه علمې هم وي ورته دروغ ښکاري. بیا یې دعقیدې دانحراف په تور تهمتي کړي .[ په سقرات همداسې وشو هغه چې زلمیانو ته دانصاف او رښتینولی،برابری ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو گام د سولې پر خوا

عدالت درس ورکولو دهغه وخت مزهبي کسانو پرې دملحد او کفر تور ولکاو په زهرو يې داعدام کړ] هغه وخت چې مور دکلي باغچې ته ورسيده دکلي ماشومانو حصاره کړه هر ماشوم به همدا پوښتنه کوله [بنگريوالې ترور شنه بنگړي درواړي ک سره!؟] يو ماشو م به لاس اوږد کړ: زما دلاس بنگړي لري؟مور به په مسکا ځواب ورکړ:هولورې! هر څه مې راوړي شنه هم شته سره هم.خالونه مې هم راوړي داسې خالونه چې تيارې روښانه کوي .،داسې خالونه چې په تيارو کې ځليږي .اوتاسو له تيارو نه روښانې دنيا ته را وباسي هولورکانو! ستاسو زړونه به هم روښانه کړي او ستاسو ذهنونه به وغوړيږي .مور زياته کړه : داسې خالونه هم شته چې له تاسو سره خبرې کوي تاسو ته وايې چې [زده کړه وکړئ ، ښوونځی ته لاړې شئ ]مور يوه جنۍ چې ددرې کالو به وه سرې شونډې او سپين مخ ته يې دهرچا هوس راتلوچې ښکل يې کړي او غيږ ته يې پورته کړي . نوم يې [مستانه] وه مور مستانه غيږ ته پورته کړه له دواړو غمبورو يې ښکله کړه.:_ نازنينې لورجانې ته مې ښه ښه شيان راوړي دي چې په زړه يې وساتي چې غټه شي بيا به ښوونکې شي.،وزيره به شي،.ماشومانو به خندل دمور خبرې پېرې ښې لکيدې خو په دې نه پوهيدل چې دمور په زړه کې څه دي او دمور خبرې څۀ مانا لري.؟مور چې په نس لاس کش کړ واحدې غږ کړ:ترور ! په نس کې بچی ده؟مور شنه په خندا شوه.:هولوريې ! داسې شيی مې په نس کې شته چې تاسو ته دالوتو چل در ښيې. مور خپله لمن پورته کړه تبليغاتي پاڼې يو پر بل پسې په ځمکه ولويدل .جنو يوبل ته کتل خندل يې .زيور جانه چې هم يې خندل او هم يې نور يې جنۍ په څنگل ټيله کاوه وويل: تروري ! دا پاڼې دځنگ په نس کې ځای کړي وې ؟ هيلۍ پاڼې خلاصې کړې ها دادي کوتر ې سپينې ، شنې هغه بله دالوتو په حال کې ده لکه چې خپلو بچو پسې خفه شويوي ياخو به خپلو بچو ته دانې راوړي مور دکلي په کوڅه روانه شوه ماشومانو را چاپيره کړې وه.مور ته دخپل دماشومتوب وختونه په زړه را ياد شول [په کوڅه کې چې به يې دجنو سره داريا غربوله ، سندر به يې ويل ، چکې به يې وهل او

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو گام د سولې پر خوا

کوډي شاني به يې کولو. په شونډو کې وبښکيده [ای دماشومتوب دنیا څومره ښکلې او خوږۀ يې دپاچاهۍ نو له ژونده هم ښايسته يې ]مور دزليخا په وليدلي وربل لاس وواهه_لور! ستا نوم؟ _زليخا مې نوم ده_ څومره ښايسته نوم._ په کوڅه کې لوبې کوی؟ _هو! داريا وهو ، سندر ې وايو ، چکې وهو ، کوډی شاني هم کوو.مور تله فکر ي به هم کولو چې دچا په کور ننوزي ؟هلته دکلي ښځې را غونډې کړې مور پوښتنه وکړه:په دې کلي کې مکتبيان شته؟ نورې ځواب ورکړ_چينوکيان په مکتب کې نشته دمرجانۍ ورور سبق په مرتب کې وايي.خو ملا وايې [کافر شوی دی ] دکلي سپين ږيري ورته ښه نه کوري.مور وپوهيده چې دمرجانۍ ورور دديموکراتانو ملگری دی ځکه چې په ديموکراتانو باندې ملا يان او مزهبي کساندکفر تهمته لکوي مور پوښته وکړه_چايې کور ليدلی ده؟مرجانۍ مخکې شوه مور او نور ماشومان پسې په داسې حال کې چې ماشومان دمور مخکې او شاته روان ومور دمرجانۍ دي په کور ننوته.دمرجانۍ مور ناهيد نوميده غټۀ پيړه ښځه وه .سپين کلچه مخ، جکه ونه،تورې کوځۍ يې شاو مخ ته خلاصې پرتې وې .هيڅ عيب يې په صورت کې نه و.خو يو زيړبخن خال يې مخ ور بدرنگه کړ ی وناهيد حيرانه شوه چې بنگړيواله څنگه ددوی په کور ديننه شوه.له ځانه سره يې ويل[ پخوا به بنگړيواله په کوڅه ناسته وه نو اوس نيغه زموږ په کور ننوته.څه به يې په زړه وي !.مور سلام ور کړه ناهيد شندلي ويښتانو سره يو ځای کړه په شونډو يې وړه مسکا وځليده.دمور سلام يې دسر په اشاره عليکم وويل.مور لا څه نه و ويلې چې ناهيد پرې دمخه شوه_بنگړيوالې ترور! څه د راوړې دي ؟مور پلتۍ سمه کړه له خندا شنه شوه._ ډير شيان مې راوړي . ستاسو دخوښۍ لپار مې راوړي هوخورې !ستاسو دښه ژوند لپاره مې راوړي .ناهيد دمور خبرو ته حيرانه شوه.[نورې ورځې چې په بنگړيواله راتله داسې خبرې به يې نه کولې خوددې په خبرو کې څه مطلب شته] _ زه کولی شم ستا خورجينه وکورم؟ناهيد ته دتيرې مياشتې انفجار په زړه شو ه هغه ښځه چې دسوالگري په جامه کې کلي ته راغلې وه هم يې سوال کولو هم يې دښځو پال

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

ليد ه چې ټولې ښځې په کوڅه را غونډې شوې ځان ته يې انفجار ورکړه ډيرې ښځې او ماشومان مړه او زحميان شول نو ځکه ناهيد شکمنه وه. مور په داسې حال کې چې خندل يې دخورجينې خوله يې خلاصه کړه دمور لاسونه په لرزه و شاوخوا يې کتل دسولې تبليغاتي پاڼو حويلۍ په سرواخسته مور يوه پاڼه په دواړو لاسو نيو لې وه ناهيد ته يې وښوده_ دا وينې ! دا دسولې کوترې دي .تاسو ښځو ته يې دسولې پيغام راوړی ده مور هم خندل هم يې ويل_ په دې پاڼو کې ښه ښه شيان ليکل شوي دي مور په تيزو سترګو کتل د ناهيد نيت يې معلوموه مور زياته کړه_ دا په دې مانا چې [زه په خلاصو وزرو پرواز کوم دهيواد او دنړۍ خلکو ته دسولې پيغام ليږم.چې جنګ بس کړي او دسولې نړۍ جوړه کړي ].ناهيد دمور خبرو ته په تعجبه وه هغې دچا له خولې داسې خبرې نه وې اوريدلي مور پسې نور هم مخکې لاړه_ ما ستاسو ښځو او ستاسو کلي ته دا پيغام راوړی دی ښځې را غونډې کړئ چې په شريکه داپيغام واوري. ناهيد وپوهيده چې زړه بوډۍ پوه ښښه ده.ددې ښځې دنده انتهاري نه ده بلکه ښې خبرې يې راوړي دي.ناهيد دکلي ماشومانو ته وويل_ لاړې شئ ! دکلي ښځې خبرې کړئ چې زموږ کور ته راشي.ورته ووايې [يوه بوډۍ ښځه له تاسو سره خبرې کوي ] مور خوشاله شوه دسر په ويښتانو يې کوتې تيرې کړې اوږده لمن يې را ټوله کړه.غونډه منډه کيناسته.دمور زړه له خوشالۍ نه په درزاوهغې خپل وجدان پاک احساسولوځکه چې خپله مقدسه دنده تر سره کوي دمور په زړه تيريده[که خپل کار کې بريالۍ شوم عزيز به له ما ډير خوشاله شي.دکمتې غړو په منځکې به پر ما افتخار کوي ] وايې به [ دهر چا دې داسې نره، مبارزه مور وي چې دځان په قيمت دانسانانو دخلاصون لپاره کامونه پورته کوي .] مور به دا هم احساسوله دا خو کوم اسانه کار هم نه ده.که چيرې يا غيان خبر شي چې زه دسولې له پيغام سره راغلې يم مړه به مې کړي .اويابه مې په لار بمونه وکري. مور سر وښوراو_ها ،ام! په احتياط په حرکت کوم. دلار ې تک په وخت به ځان ته پام کوم. بيا به يې په زړه تير شو[ څه ! بې هغې مې عمر اخر ده.په ځوانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو گام د سولې پر خوا

کې مې دمیږه له لاسه بدې ورځې لید لي دا خو لادومره سخت کار نه دںکه یاغیانومږه کړم خلک به ووایې [دعزیز مبارزه مور دانسان دخدمت لپاره شهیده شوه . زه به دسولې دسمبول په توکه نور ښځو ته لار ښوده شم.. دشهیدانو په هدیره کې به زما په ځلې جنډې رپا کاجینوکۍ او ښځې به مې زیارت ته راځي ] یوه خو به پیدا شي چې ووایې [دا یوه ننګیالۍ ښځه وه ] مور په همدې خیال کې وه چې دکلي ښځې ډله ډله دناهید دکور په دروازه ننوتې .ښځو مور ته په حیرت کتل چا یو څه کمان کاو ،چابل څه. هرې ښځې به سلام ورکړ مور به په سینه لاسونه کیښودل هغه مور چې کلیوالي ژوند یې کړی واوس هغسې نه وه.لکه له یو متمدن ښار نه چې راغلي وي لاس په سینه ایښودل او احترام کول دا دنوي ژوند نښه ده.دښځو په منځ کې یوه ښځه روانه وه دهغې چې اودل شوي ویښتان په نکروزو سره و په شا مخ یې لکه دسره کمره ماران داسې سرونه خوزول .جکه ونه داوږدو لاسو خاونده وه.[کوکۍ ] نومیده.دمخ کنځو ددې عمر له نور ښځو زیات ښوده کوکۍ چې په مور سترګې ونښتې پرې شکمنه شوه.دکوکۍ بارخوکان دحیرت په حال کې نیغ نیغ ولاړوسترګې یې دمخ کاسه کې بې واره تاویدې .مور ته نزدې شوه لاس یې ورکړه خو چې دمور چپ غوږ ته یې نظر شو شونډې یې ورپیدې څه یې وویل بیایې لاس دهغې په جوړ شوي پرهار په داغ کیښوده چې میږه یې دځوانۍ په وخت کې په لرګي وهلې وه.دکوکۍ باورپوخ شو غږ یې وکړ_ ای ! ته فاتوکۍ یې ؟_ یم._ همغه[ فاتوکۍ] یم چې په کلي کې اوسیدم.مور وویل_ ولې ! هیر دشو؟موږ چې دجبار خان همسایه وو.او ستا میږه چې په له پټو راغی شین بادرنګ به یې زما په لمن کې واچولو .ویل به یې [خوره فاتوکۍ !میږه خو درته څه نه راوړي دخولې خوند به دښه شي] کوکۍ مور یې په غیږ کې ونیوه په تندي ې مچ کړه.دکوکۍ غبږ او دروند لاس دمور په اوږه و چې کوکۍ ټولو ښځو ته وکتل وویل_ دا ښځه ځوانمرده ښځه ده.پلارېې دکلي پاده وان وجمع ګل نومیده.فاتوکۍ وړه وه چې مور یې مړه شوه.جمع ګل پادوان دخان اس په اخور ترلوپه لغت یې وواهه مړ شو.همدلته و چې مور غنچه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوه.ستونى يې غوټه شو دغاړې رکونه يې دپوستکي لاندې ډک ډک شو.سترګې يې نمناکې شوې خو ځان يې کلکه کړه اوښکو ته يې اجازه ورنکړه چې له سترګو وخوزيږي .دپوزې سرکې يې سور والى زيات شو چپه خوله ولاړه وه کوکۍ خپلې خبرې کولې ـ مور يوازې پاتې شوه .دخان په کاله کې به تخنيده کار به يې کاوه زموږ په کلي کې يو کونکى هلک و زيړ ګل نوميده په سختۍ به يې خبرې کولې زيړګل له چرسيانو سره ناسته پاسته کولو.چرسي شو بيا ترياکي شو خان فاتوکۍ يې همدا زيړګلې ته په نکاح کړه.کوکۍ سر وخواو ـ زما ښه ياده چې خاوند مې کور ته راغى .راته يې کړه ـ خبره شوه؟ ـ فاتوکۍ جبار خان زيړګلي ته په نکاح کړه ملا دجبار خان په کور کې دفاتوکۍ نکاح له زيړګلي سره وتړله. موږ يې هم کوږه وخوږه.ما ډير وش، واى وکړخاوند مې وويل ـ څه ! ديو پاده وان لور وه.بې موره ،بې پلاره دخان په کور کې پرته وه کيدا ى شواى چې دخان کوم مزدور يا يې زوى ورته لاس اوږد کړى واى .ښه چې ژوند يې معلوم شوکوکۍ چې په څيره کې ثې دپخوان پشان خفګان راغلى و هسې ښکاره شوه.دوام يې ورکړ:ماويل[ دجنو ژوند له نارينه سره وي خو چې نارينه په رښتيا نارينه وي چې خپلې ښځې ته ډوډۍ پيدا کولى وشي] هغه زما خبره رښتيا شوه.فاتوکۍ چې اصل نوم بي بي [فاطمه ]وه خو چې په دې وطن کې څوک غريب شي نوم يې څوک پوره نه اخلي .بي بي فاطمه په فاتوکۍ ياده شوه. کوکۍ دفاتوکۍ په داغ کوته کيښوده :دا داغ کورئ ! دا يې دميړه دلرګي دګزار داغ ده.چې فاتوکۍ ته دژوند دبدبختۍ نښه پاتې ده. زيړګل چرسي ، ليونى له کلي لاړ ورک شو موږدکلي ښځو له فاتوکۍ سره مرسته وکړه په زخم مو بوره ومنډله په تيکه موددې زخم وتړله. په ډيره خواري مو وينه ورته بنده کړه.اوس چې مې وليده همغه ورځ راياده شوه.کوکۍ زياته کړه :خوارکۍ په سخته يې ژوند تيره کړه کوکۍ ښځو ته وکتل :ژوند چيرې و هسې په غم يې شپې ،ورځې تيره ولې کوکۍ جدي غونډې شوه: دده ميړه خو ليونى مجازه و دا روغ ميړونه هم دخپلو ښځو خيال نه ساتي تحديد، کنځلې کول ، وهل ته به واى چې دا يې دپلار

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو ګام د سولې پر خوا

حق ده ښځې هم نالوستي نه دخپل حق پیژني نه دبل دوی فکر کوي چې ښځې له اذله بد بختې پیدا دي او دا نارینه دي چې خپل ځان ته حق قایل دي او دښځو حق تر پښو لاندې کوي کوکۍ زیاته کړه : ښځې باید بیدارې شي را پورته شې خپل حق له نارینه وو واخلي .مریم غبر وکړ: ښځې په حق ناحق څه پوهیږي ؟نارینه په لورکانو تعلیم نه کوي په ځامنو یې کوي انجنې دکلي په کوڅو کې نالوستي پاتې شي کوکۍ دمور لاس ونیو دقالینچې له پاسه یې خواته کینوله کوکۍ چې دمور خورجینه ولیده پوښتنه یې وکړه_فاتوکۍ ! څنګه راغلې یې؟خورجینه کې دڅه دي؟خیرات ټولوې که څنګه؟_ اوس دهم ژوند ښه نه ده؟دمور شونډې خلاصې شوې وویل_دسولې پیغام مې ستاسو کلي ته راوړی دی وایم چې ټولې ښځې ددسولې له کاروا ن سره یوځای شي تر څو جنګ زموږ ملګ نه ورک شي.او دسولې ملک جوړ شي.کوکۍ دمور خبرو ته هکه پکه شوه.ژر ژر یې دسترګو بانه رپول په تیزو یې دمور څیرې ته کتل.کوکۍ حیرانه وه [ څنګه وشوه چې یو ه کلیواله ښځه چې ټول عمر یې دسپیړو لاندې تیر ه کړې اوس له هغې خوارې خولې داسې خبرې را وباسي.؟ دا یې له چا زده کړي دي ؟مور کوکۍ ته کتل په زړه خوشاله وه خو کوکۍ په سوالو کې غرقه پاتې وه.هغې لوی نفس وویست دمور په ورانه یې خپله پنچه کیښوده_ فاتوکۍ ! دا خبرې خو ستا دځوانۍدوخت خبرې نه دي دا چا درته ښودلي ؟موردسولې پیغام چې دوه کوترې پرې کښل شوي و دکوکۍ مخې ته وغوړو._ وینې ! دا کوترې چې په خلاصو وزرو د پرواز په حال کې دي دا خلکو ته د سولې پیغام ورکوي .وایې [ جنګ بس ده په خپلو کې سوله وکړئ مور پسې زیاته کړه:عزیز ځوی مې ددیموکراتانو په ډله کې دی دیموکراتان غواړي چې خلک که نارینه وي او زنانه دسولې له کاروان سره یوځای کړي .عزیز وایې ترڅو به زموږ په هیواد کې جنګ وي ؟زموږ دهیواد تنکي ماشومان ، ښکلي ځوانان سپین ږیري ، بوډاکان نارینه او ښځې دجنګ په اور کې سوزي نو ځکه دیموکراتانو نیت کړی چې دسولې پیغامونه دهیواد کوډ کوډ ته ورسوي خلک وپوهیږي چې په جنګ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

هیواد او خلک داور په بټۍ کې سوزي .نو راځئ چې دجنګ په اور په کډه اوبه واچوو.او سوله هیواد ته راولونو ځکه مې ستاسو کلي ته دسولې پیغام راوړی دی تاسو ټولې ښځې به له ما سره دسولې په کاروان کې برخه اخلئ کوکۍ سر وخوزاو په کردو غټو سترګو یې بدرۍ ته وکتل لکه څو چې په کومه مسله له چانه مشوره اخلي بدرۍ هم پخه ښځه وه وروسته له کوکۍ نه دا په کلي کې مشره وه.ددې خبرې هم په نور ښځو ښې لګیدې .ځوانو انجنو ته به یې دکور دکارو په سمبالولو کې مشورې ورکولې .بدرې لکه څوک چې چا ته په قهروي په کوته ورته اشاره کوي کوته یې ورته ونیوه_ لکه چې زموږ کلي ته بلا راولې که څنګه؟ زیاته یې کړه: په ورځ کې یاغیان څو ځله کلي ته راځي همدا وایې [دلته به خو څوک دحکومت پلو نه وي ؟]بدرۍ جدي شوه:غواړې زموږ کلی په یاغیانو وران کړې!کلیوال په ونو وځړه وې!هغې پسې دوام ور کړه: یاغیان بدرنګه کسان دي دچا فریاد ، دچا زاري او دچا ژړا نه اوري.قمچینې ورسره ګزارونه کوي توپک په اوږه چې لږ لاندې باندې شي بیا نو یو انسان په کولو سوری کړي .بدرۍ چې له خوولې یې لیاړې بادیدل مور ته یې کتل خو مور به خندل . نرۍ کوټه به یې دشونډو له پاسه ایښې وه.مور پوهیده چې کلیوال له یاغیانو ویره لري .له ویرې نه خپلو کې خبرې هم نشي کولی .مور دخپل ځوی [عزیز نه زده کړه کړې وه.[ که خلک رایوځای شي غټ قوت ځینې جوړیږ ي بیا نو دخلکو زور ته څوک نشي ټنګیدی ] مور وویل :دیموکراتان پوهیږي چې خلک له یاغیانونه ډیر په تنګ راغلي دي . دهمدې هدف لپاره دسولې کاروان جوړ ده چې دا کاروان قوت واخلي او دیاغیان ریښې له هیواد نه پریک کړي .دخلکو خولې وازې شي.،ژبې یې په حرکت راشي حق ووایي.کوکۍ ته سوال پیدا شوهغې چې ژبه دغاښو په منځ کې نیولې وه خوله یې خلاصه کړه: فاتوکۍ ! ځوی دځه وایې ؟ دایاغیان څوک دي ؟ څنګ پیدا شول ؟ او ولې یې زموږ په هیواد کې جنګ پیل کړی دی ؟ مور وسخیده کوکۍ ته نزدې شوه: زه خو نالوستې یم.خو ځوی مې په کوټه کې خپلو ملګرو سره دعدالت خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولې .[ په هيواد کې انقلاب وشو .دا انقلاب دغريبانو په ګټه ودځمکو او پيسو خاوندانو په ضررځکه په ضررو چا چې ډير له حده زيادت ځمکې لرې دهغوو نه يې څه ځمکه غريبانو ته ورکړه شتمن کسان دحکومت او انقلاب په ضد را پاسيدل ] ځوی به مې ويل:دا[ انقلاب يوازې زموږ په ملک کې غريبان دشتمنو له ظلمونه خلاصه وي بلکه په همسايه هيوادو کې چې غريپانو باندې طلمونه کيدل هغوی هم ازاده وي عزيز به ويل : ددې انقلاب روښانه وړانګې دهمسايه هيواد تيارې به هم روښانه کړي ] همدا و چې شتمن کسان څه زموږ په هيواد کې څه په نورو هيوادو کې او هم په کاونډ هيوادوکې لاسو نه سره يو کړل دانقلاب په ضد يې فعاليتونه پيل کړل .عزيز وويل:په اول کې يې ياغيان دتنطظيمو په نوم پيدا کړل له ديموکراتانو سر ه يې په جنګ کړل دياغيانو مغزونه هم پوچ و ښه او دبد تميز يې نشوای کولی ،خپل هيواد يې دپردو په لمسون وران کړد دې تنظيمو هيواد وران، چور،تالان کړدا دتنظيمو څيرې چې داسلام ، مجاهد په نامه ښکاره شوي ووخلکو وپيژندل چې دا دروغجن مسلمانان دي شتمنو هيوادو نور ونشوای کولی چې له دا څيرو نه کارواخلي ځکه چې دا څيرې دخلکو په ذهن کې چټلې څيرې وې .دا څيرو څه وکړل هيواد يې په کنډوالو بدل کړ،دهيواد قوي اردو يې ړنګ کړ،هغه اردو چې له ۱۲۳ هيواد سره جنګيدل له منځه يې يوړو.خو چې نور استفاده ترې نشوای کيدی ددې په ځای يې بله وران کار ه ډله د[طالبانو ] په نوم را منځ ته کړه.دوی هم داسلام په نامه نغارې وهلې خو ددوی وحشت دتنظيمو نه يو پر دوه ده کومې ښوونځی چې پاتې وې په اور وسوزول شول روغتونونه خراب شول،دانسان حالالول ته يې اسلامي عمل وويل ځان وژنه ورته دينې ، اسلامي دنده ښکاره شوه مشرانو يې دمدرسې شاګردان دجنت په تمعه په ځان وژنې وکمارل.ښځې يې له تعليم ، او دندې منع کړل ،ښځې يې په کورو کې بنديانې کړې .يانې په هغه لار لاړل چې دوحشت لار و دتمدن لارې په ټولو خلکو وتړل شول خلکو ترې نفرت وکړو .يانې نور دچلن نه پاتې و بيا د [داعش] په نوم بله ډله را منځ ته کړه چې دا ډله

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو ګام د سولې پر خوا

تر ټولو وحشي او انسان وژونکی دی دحکومت کسان یا دروښان ذهن خاوندان چې یې په لاس راشي سم دلاسه یې په ستوني تیغ تیر کړي .دمور سترګې ژړه غونې شوې لکه چې دخلکو په وژنه خفه شوي وي چپه وه خو د عزیزدخولې خبرې یې کولې ـ دا و هغه ناکارې چې زموږ په هیواد کې دشتمنو هیواد له خوا تر سره شول. مور مسکه شوه لکه چې دعزیز په خبرو یې افتخار کاو او ټول دیموکراتان یې په ذهن کې هوښیار کسان ښکاريد ه. مور زیاته کړه:: عزیز ویل[بله لار نه ده پاتې بې له خیبره باید دسولې لپاره کار پیل شي] نو ځکه ټولو دیموکراتانو دسولې لار نیولې ده.زه هم له هغوو سره په دې کاروان کې شامله یم.چې خلکو ته سوله راوړو.ګل اندامه چې دټیټې ونې خاونده وه سپین مړوند یې له شنو بنګړونه ډک و په داسې حال کې چې ښی زنګون یې په ځمکه لکولی و وې ویل: فاتوکې ! ته به هم کافره شوې یې که څنګه؟ ګل اندامې ور زیاته کړه : ملایان خو وایې چې دا نوي هلکان چې ځانونه دیموکراتان بولي له خدای نه غیر دي ، ملحدان دي .ته به هم یې کنه؟مور ته دعزیز خبرې رایادې شوې هغه به چې ویل[یوتعداد ملایان دپاکستان په خدمت کې دي ورته پیسې ورکوي همدا خبره په غوږو کې ور څڅوي [دیموکراتان کافران دي ] ترڅو چې په ټولنه کې دکافرانو ، ملحدانو په نامه مشهور شي او څوک دوی پسې لاړ نشي] مور سر ته حرکت ورکړـ بیګم! دا خبره غلطه ده؟عزیز ځوی مې ویل [ دلته دکفر او اسلام جنګ نه ده.دلته دچوکۍ او قدرت لپاره جنګ دی دلته دپیسو دلاسه راوړو لپاره جنګ دی .] دعزیز خبره رښیاشوه [ پاکستان څو کسان په پیسو اخستي یانې دتنظیمو مشران چې ورته وایې دهر یو نوم یې راته دکوټې په شمار ښوده [ګل بدین حکمت یار یې ورته ویل، عبدالرب رسول سیاف یې ورته ویل، برهان دین رباني یې ورته ویل، ضبغت الله مجدیدي یې ورته ویل، یونس خالص نوم یې واخستو ، نبي محمدي نوم یې و اخستو.سید احمد ګیلاني نوم یې اخستو ]او نهه [۹] تنظیمونه چې دهزاره میلت نه جوړ واو دایران له خوا حمایه کیده.دهغو پردو حکومتو په امر به یې زموږ په هیواد او

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو گام د سولې پر خوا

دیموکراتیک نهضت حملې کولې.هغه دیموکراتیک نهضت او حکومت یې خفه کړهغه حکومت چې نارې به یې وهلې [ مور، خلکوته کور،جامې ، ډوډۍ ]

ورکوودمزهب او دین تر نامه لاندې یې پرې حملې پیل کړې خو په اخر کې هغه روښانه لار چې خلکو ته یې روښانه نړۍ ښوده له منځه لاړ یانې هغه دولت چپه شو حکومت دتنظیمو په لاس کې ولوید ټولو ولید چې څنګه دهیواد شتمنې چور اوتالا شو څنګه دیموکراتیک حکومت خفه کړل شو؟ چې دا عمل دشتمنو هیوادو بیا تر ټولو دپاکستان، ایران په کټه تمام شو.مور وویل :عزیز اوس هم په دې باور دی چې په دا نوي حکومت کې دشتمنو هیواد کسان شتون لري هغوۍ نه غواړي چې هیواد ته ارامۍ راشي.څکه ! که سوله هیواد ته راشي خلک به دا دتنظیمو مشران او قومندانان محاکمه کړي مور په جدي توکه ښځو ته وکتل ـ عزیز په ټول خبرو ښه پوهیږي هغه ټوله شپه او ورځ دکتابو پاڼې اړه وي ډیرې خبرې یې له کتاب نه زده کړي بیا یې ماته زده کوي .زه خو نالوستې یم دکتاب په ټکو نه پوهیږم مور دواړه لاسونه پورته نیولي و ـ عزیز دخدای جنتي کړي هغه په نیک لار روان دی .مور وخندل ـ خلکو،هیواد ته خدمت کول نیک کار دی خدای د هغه ملایان چې دپردو مزدوري کوي او خلک وژني ددوزخ په اور وسوزه وي چې دهیواد نیک کسانو ته بد وایې . په کفر یې تهمتي کوي . مور زیاته کړه: هو ! رښتیا یې وایم: عزیز پنځه وخت په لمونځ ولاړ وي خدای ته لاسونه پورته کوي چې هیواد ته سوله راشي. مور دسولې پیغام چې په سپینه تیکه کې لیکل شوی و او دواړو خوا ته یې کوترې په خلاصو وزرو کښل شوي ودښځو مخې ته وغواړو.مور وویل۔ وې لولۍ ! زه خو نالوستې یم هغې دوام ور : زما دوړکتوب وخت و چې چې دکلي انجنې به ښوونځۍ ته تلې زموږ دکلي ملا به ویل[دانجنو تک ښوونځۍ ته کفر دی ]ټولې انجنې نالوستې پاتې شولې.زه خو غریبه وم ملا دجومات په خوا هم نه پریښودم.دا اوس پوهیږم چې لیک او لوست دانسان لپاره څومره ضرورې دی، که

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو گام د سولې پر خوا

مې زده کړه کړې وای اوس به مې دا پیغام ته تاسوته په بړ بړ غږ ویلی تاسو هم نالوستي پاتې یاست. مور لاسونه پورته کړ [:د هغه ملا کور د په اوبو ډوب شي، چې انجنې یې له ښوونحې نه منع کړې ] . په ښځو کې ویره پیدا شوه.څوتنو لا ـونه پورته کړل ډیرو په ټکرې کې پټ کړل دناهید ستونی له ډیرې ویرې وچ شوی و، دخبرو په وخت کې به یې کوتې لرزیدې ، ځکه چې دملایانو په ډارې کې وه. ناهیدملامته نه وه ځکه چې په کلي کې به چا یوه خبره ښه وکړه بیابه یې سر غوس و.مور دسولې پیغام په دواړو لاسو نیولی و له ښځو سره یې خبرې کولې چې فاروق په کور ننوت.فاوق حیران ودرید لیده یې چې ښځو څه میله جوړه کړې ده؟ټولو ښځو فاروق ته کتل ډیر غږو نه پورته شول [فاروق به پیغام ولولي] فاروق چې دمخې ویښتان یې شا ته په کوتو ږمنځ کړ په داسې حال کې چې په توروبریتو یې کوتې ووهلې دښځو مخې ته ودرید دسولې دپیغام په لوستو یې پیل وکړ_ په پیغام ې لیکل شوي [دافغانستان جنګ ځپلو خلکو! راځي چې نور جنګ بس کړو ،راځئ چې دسولې یو هیواد جوړ کړو،دپردو په لمسون خپل خلک ، خپل هیواد دجنګ په لمبو کې مه سوزوئ،جنګ کوونکو افغانانو ته هم دا پیغام استو،په ډاکه ورته وایو دپردو په خبرو خپل افغانان مه وژنئ ، انسان وژنې نه لاس واخلئ په خپلو متو خپل هیواد زرغون کړئ دا دسولې کوترې تاسو ته پیغام راوړی نور ځان وژنه مه کوئ ، ژوند په سوله کې خوند کا،موږ او تاسو به په ګډه دا دسولې کاروان پرمخ وړو.. له انسان سره دښمني ښه نه ده انسان ته دهغه دژوند حق بآید ور کړل شي ].. فاروق په ډیر چوش او احساساتو پیغام ولوست.مور خوشاله وه چې دسولې پیغام ټولو ښځو په وازو غوږو واریده مور خندل خو ناهید نارامه وه هغه دسولې لپاره خوښه وه دا چې ددوی په کور کې ښځې غونډې شوې وې او دیاغیانو په ضد خبرې کیدې خفه وه.ځکه چې له یاغیانو ډیره ډاریده.هغه پوهیده چې یاغیان دچا عزت ته نه کوري او انساني کرامت ته احترام نه لري. مور دغرمې ډوډۍ دناهید سر وخوړه، هغې چې خورجینه اوږې ته واچوله کوکۍ ترې پوښتنه وکړ_ فاتوکۍ ! چیرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



روانه يې ؟_ ځم غواړم دانجنو ښوونځۍ ته لاړه شم، هلته دانجنو ته دسولې پاڼې ورسوم. مور مغروره وه حرکت يې وکړکوکۍ پرې غږ وکړ_فاتوکۍ ! خيال ساته چې ياغيان دمړه نه کړي!ياغيان تاغوندې ښځو پسې ډير ګرځي ، که په لاس يې راغلې په ژوند به دله پوسته کړي.مور وروځې پورته واچولې وې ويل_ [دمردانو يابرى وي ياخو دار ]

ملالۍ دسولې پيغام په دواړو لاسو نيولى وپه حويلۍ کې په منډه وه همدا به يې ويل[مورږ سوله غواړو ، ماشومان سوله غواړي ، خلک سوله غواړي،ماشومان مه وژنئ ، ښځې نارينه مه وژنئ ] نيکه چې دماښام لمونځ نه کورته راغى دملالۍ غږ يې تر غوږو شونيکه لا خوله خبروته نه وه خلاصه کړې چې ملالۍ وردمخه شوه _ نيکه! کورئ دسولې کوترې !زمومږکور ته راغلي ملالۍ چې کورپه ويښتان په څټ پراته و و ويل_ نيکه کوترو دسولې خبرې راوړي ، وايې [نور جنګ بس ده سوله وکړئ ماشومان ښوونځۍ ته وليږئ ،چې ليک وکړئ ] نيکه چې دلاس امسا دزردالو ونې ډډ ته تکيه کړ ملالۍ يې غيږ ته پورته کړه لورې ! ته څه وايې ؟ سوله پيژنې ؟څه ته وايې ؟ ملالۍ ځان دنيکه له غيږه خلاصه کړه_ [هونيکه! سوله چې پلار ونه مړه نشي، مور کانې مړې نشي، ماشومان دپلار په غيږ کې لوى شي،سبق ووايې، ښوونځۍ ياغيان ونه سوزوي،] نيکه چې امسا په موټي کې ونيو دملالۍ په ويښتانو يې لاس تيرکړ_ لورې ! دا پاڼې چا راوړي ؟ ملا لۍ وويل_ نيکه بنګړيوالې راوړي وې _ ستا په لاس يې بنګړي نه کړ؟ [نيکه وويل] نيکه ! بنکړيوالې ويل[دا پاڼې واخلۍ دې کې ښايسته شيان شته ، ستاسو لارې به روښانه شي،. بل ځل چې راغله تر ي بنګړي اخلم. ملالۍ لاسونه نيکه ته وښودل _لاسونه به مې په بنګړو ښايسته شي.نيکه ته به نڅا کوم.نيکه ته په زړه سودا پيدا شوکه چې دا پاڼې دجومات په ديوال هم ځړول شوې وې ،دباغچې په ونو هم لکول شوې وې .نوځکه دملا له خولې ځکونه وتل همدا به

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو ګام د سولې پر خوا

يې ويل[دا دکفر پاڼې چا دي کلي ته راوړي ي ؟ که نفر يې وپيژنم سربه يې غوس کړم] نيکه دړيرې تارونه کشول په فکر تللی و،خوملالۍ به دنيکه دخيال دنيا ورانه کړه خپلو خبرو ته به يې متوجه کړ.ـ نيکه پيسه راکوې.چې له بنګويوالې بنګړي واخلم؟ ملا لۍ په خندا وويل : د بابا په واده کې به نڅا کوم،بنګړي به شرنګوم. ملالۍ له نيکه نه پوښتنه وکړه_نيکه ! تا خپل واده کې زما انا ته بنګړي راوړي و؟نيکه سوړه خوله خلاصه کړه په خندا شو.ـ ليونۍ!دا څه وايې؟زما واده کې ته چيرې وې ملالۍ دنيکه امسا وتښتاوـ ولې نيکه ! ته چې شا کی وې په تخت ناست وې دونې ډډ ته دتکيه کړی و ما چې پر تا پتاسې شندل ملالۍ په زور زور وخندله له نيکه لرې لاړه .نيکه امسا واخست مللۍ ته يې ښوراوـ ای شوخې شيطانې !زما په واده کې ته دسمندر په اوبو کې ډوبه وې ،ډير وروسته چې سمندر استفراغ وکړ ته دنيا ته راغلې ملالۍ دنيکه دلاس پنچه ونيوه يو يو کوته يې ور له شمارله_ دا ديو ، دادوه ، دا ددرې ،داد څلورد، دا شو پنځه ۰۰۰خير پنځه روپۍ به راکوې پرې قلم ،کتابچه اخلم.ملالۍ سترګې تاوې راتاوې کړې ـ نيکه چې ښوونځۍ کې مې سبق وويل بيا چې پوليسه شوم هغه ملا مړکوم چې دماشومانو ښوونځی سوزوي ،دماشومانو پلارونه ، مور کانې مړه کوي .هو نيکه !يو هم نه پريږدم.ـ ليونۍ ! تر هغو چې ته پوليسه کيږې هغه ملا به چيرې وې چې ماشومان يې مړه کړې دي، پلاراو مور له ماشومانو نه اخلې ، ښوونحۍ سوزوي ټول به مړه وي ، بيا نور ملايان به پيدا وي هغوۍ به خلک نه مړه کوي هيواد کې به نه سوله وي، ته به نو څوک بندي کوې او څوک به مړه کوې؟ملا لۍ په خيال کې ډوپه شوه خپلې کوتې يې خوزولې ـ نيکه قبر يې په تيرو وهم، دماشومو دپلارو او مور کانو انتقام ځينې اخلم.نيکه ته خندا راغل ملالۍ يې غيږ ته پورته کړه لورې !هغه ښځه چې زموږ کور ته راغلې وه هغه بنګيواله نه وه هغه يوه مبارزه ښځه وه هغې چې دا پاڼې را وړې وې هغه ديو ځوان ديوکرات هلک مور وه.دوۍ وايې چې جنګ بس ده. سوله ښه ده.،مبارزې ښځې په اتلانو کې راځي ملالۍ شونډې يوبل سره مښلې لږ شيبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

وروسته يې وويل:نيکه ! مبارزه څه ته وايې؟_ لورې ! ته وړه يې دا غټې غټې خبرې دي چې سبق دوويل غټه شوې پوهيږې.اوس به يې زه درته مانا induced وړه وړه کړم نه، اوس به يې زه درته مانا ووايم: ماغزه دخلاص کړه په غوږو يې ښه واوره.:مبارزه داسې عمل ده چې دخلکو ، هيواد ابادولو لپاره کار وکړل شي د اعمل ته مبارزه وايې.هغه څوک چې داسې کارونه کوې هغه ته مبارز وايې.دا ديموکراتان چې دي دوی مبارزان دي .دوی له ملايانو سره ښه نه دي او ملايان په دوی پسې بدې خبرې کوي کله وايې ديموکراتان کافران دي او کله وايې کمونستان دي .دنالوستو انسانانو ذهن ددوی په مقابل کې خرابوي ، تر څو دوی په پلو نشي. ديموکراتان وايې [موږ يو روښانه دنيا جوړه ول غواړو .] او ملايان چې دي دتيارې دنيا محصول دي ملايان روښانه دنيا ته کفر وايې نوځکه دروښنفکرانو او ملايانو تر منځ اختلاف موجود دی .نيکه دملالۍ لاس ونيودبرنډې له پاسه په قالينچې کيناست ناهيد شين چای ورته مخکې کيښودو نيکه لادچای غړپ خولې ته نه وکړی چې ناهيد غاړه صافه کړه _ ته څه فکر کوې؟ددې ښځې راتک زموږ کور ته موږ ته به مشکل پيدا نکړي ؟ نيکه امسا له پښو سره وغزاو _ ژوند دخم او پيچ سره دی تا به ليدلې وي چې انسا ن تل په اواره لار نه ځي لار هم له اغزو ،کندو نه ډک وي بيا نو څوک چې دټولنې او انسان لپاره کارکوي دا پکې وي چې کله ښې او کله بد خبرې اوري..نيکه زياته کړه:موږ خو خپل ځانونه په تيارو کې نشو بندي کولی !هر څوک چې په نيکه لار روان وي زموږ پښې به هغې خواته کامو نه پورته کوي ډاډه اوسه ! خو خيال ساتل هم ښه ده.ځکه چې په جومات کې ملا درېږې نارونه کشول او ګريوان يې وشکاو.همدا به يې و يل[دا پانې دجومات په ديواله چا ځړه ولې ؟] نيکه زياته کړه : دا ملا زما په فکر دهغوو ملايانو سره ټينګه رابطه لري کوم چې له پاکستان نه بمونه راوړي او زموږ په هيواد کې ورته چادنه ورکوي . نيکه امسا په هوا ښوراوله_ بيا هم انسان دومره ډارن نه وي چې دديوال له سيورې نه وډار شي!نيکه په ځوانۍ کې زړور انسان وهغه په پوځ کې دنده درلوده په ميړانه به يې له هيواد نه دفاع کولو،په ځوانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو گام د سولې پر خوا

کې تور شخ بريتونه دشونډو له پاسه و ،سره منصبدارې نښانونه يې په اوږه سپاره و،سره له دې چې داويا[۷۰] کالو په عمر به و بيا هم دځوانۍ دوخت مستي يې په وجود کې ځپې وهلې مغز يې ځوان و خبرې يې دروښنفکرانو پشان وې ،نيکه چې دبريتو تور ويښتان په نقد په سپيو ورکړې و خو د بريتو له هر تار نه يې دوطن پالنې احساس ځرکند ديده ،نيکه له اول نه دملا خبرو سره چنداني جوړ نه و هغه پوهيده چې ملا ذهني خبرې کوي .ملالۍ يې په غمبوري ښکل کړه يوه روپۍ يې ورته په ورغوي کې ورکړه.ـ په دې په قلم اخلي!دغرمې وخت ماسپښين ته پاتې شو او ماسپښين بيا خپل ځای مازيگر ته پريښودودمازيگر لمر په چآ لاکۍ دغره په منار وځليده او ژر له سترگو پنا شو ،دماښام تورو پردو ځمکه وپوښوله.له ماښام سره داسمان مخ هم بدرنگه شو ،تورې ډارونکي وريځې پرې راغلې ،يو ستورى هم داسمان پر مخ نه ځليده سپوږمۍ خو بيخې خپل مخ په وريځو کې پټ کړی و لکه ناوې چې په اوو[۷] شالو کې پټه شي اودهغې له خالو ډک مخ څوک ونشي ليدی .دماسخوتن پيل و چې دسپو غپا شروع شو کريکې او بکورې يې له پخوا زياتې وې کليوالو ته عجيبه شانې شپه وه،هغو کله دسپو داسې کوکارې نه وې اوريدلي له تيارو سره دباد زوره ورې ځپې هم سمې شوې دسپو له اواز سره دباد ځپې کډې شوې خلکو يودبل په خبرو سم نه پوهيدل ،نيکه چې تجربه کاره سړی ودخطر فکر ورسره وخو نور ته يې څۀ نه ويل يوازې په يې دسترگو لنډ بانه ناهيلۍ خواته واړول له غمجنې مسکا سره به يې مخ بلې خوا ته تاو کړ،نيکه ته په زړه تيريده[که ياغيان په کلي حمله کوي نو اول به زموږ په کور کوي، ناهيد به له ځانه سره يوسي يا به بې مړه کړي،] نيکه امسا په موټي ونيو دحويلۍ په منځ کې لاړ ، راغی په داسې حال کې چې امسا يې په ځمکه لکاو له ځانه سره بړنکيده[عجيبه دنيا ده.! يو انسان نور لپاره کار کوي ،روښانه لار ښيې بل انسان را پاسه دده سر غوس کا، بيا نوم پرې داسلام بد نامه کړي ] نيکه له ځانه سره وخندل ـ: بيا وايي جهاد مې وکړ.نيکه دامسا څوکه په زور په ځمکه ووهله ـښه يې ويلي[چې ديوال له تهداب نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوږ وي کوږ به پورته کيږي .خو کوږ ديوال اخر نابوي ده.]اداسلام دين په اول په تشدد پيل شوی دنبليغ برخه يې کمه وه دزور او تشدد برخه يې زياته وه .نو ځکه پيروان يې هم له تشدد نه کار اخلي .نيکه سر وښوراو وې ويل:[ عقبت په خير]ناهيد چې دنيکه خبرې وارويدې وې ويل _ نيکه څنګه له ځانه سره خبرې کوې؟نارامه ښکارې!نيکه وويل_ نه ددي اوريدلي [سړی چې زوړ شي پخواني خبرې يادوي ] دنيکه او ناهيد خبرې لا خلاصې نه وې دکور دانګړ په ديوال څو تنه ښکاره شول نيکه وپوهيده چې ياغيان دي ،دمرک لپاره راغلي، فاروق ته يې غږ وکړ_ فاروقه ! وله يې!فاروق له اوله توپک ته سرپي کارتوس په سينه منډلی و څو ډزه وشول درې تنه ياغيان په کولو ولکيدل .له ديواله ولويدل .دا چې دياغيانو ډله زياته وه دانګړ دروازه يې ماته کړه په کور ننوتل په اول يې دناهيد غوږونه پريک کړل يوه کولۍ دنيکه له مغزو ووته.فارزق يې سوټ پوټ وټاړه دوهل لاندې يې مړ کړ.ملالۍ دپله لاندې پټه وه دډزو اوازونه ډير شول کليوالو مرسته ونشوای کولی دکلي دملااواز ټولو کليوالو اوريده چې ويل به يې [ دکفر پاڼې په اول کې همدې کور ته راوړل شوي و] دناهيد کور ته يې اور واچولو لمبې ترې پورته شوې ځنډ لا تير نه و چې دحکومت قوه ورسيده.کلي يې محا ضره کړدحکومت او ياغيانو تر منح جکړه پيل شو ياغيانو دخلکو په کورو کې سنګرونه ونيول خو دکوموندو قوه کور په کور لټون پيل کړياغيان به يې نيول وژل به يې دلمر ختو پورې جنګ دوام درلود له ياغيانو نه ديرش تنه ووژل شول ډيرې يې زخميان هم وو ،يوتعداد ژوندې ونيول شول دکلي ملا چې په سر کولۍ خوړلی و نيم سر يې نه و دکومندو قومندان چې دياغيان جسدونه دکلي په باغچه کې واچول کليوالو ته يې وويل_ دا ټوله فتنه دپاکستان ده په څو جسدو يې دتوپک ميل کيښود ويل يې _ دا پاکستانی دی،دا څو تنه نور هم پاکستاني دي ،دا نور زموږ دهيواد ناپوه ياغيان چې خپل هيواد سره جنګيږي .ياني خپلې مور پسې يې دپردو توپک اوړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته کړی دی دا دپردو غلامان دي .په لوړ اواز يې وويل _ داسې کسانو ته افغان ونه وايې بلکه خرڅ شوی ، نوکر،اوغلام يې وبولئ

مور په ښوونځۍ کې وليده شوه ښوونځې دکلي نه په لږ ه فاصله کې اباد وښکلی تعمير دشنو ونو ډک او ښې منظرې يې لرلې په ويالو کې روانې اوبه نڅا کولې ،دا دانجنو ښوونځۍ وه. دنزدې او لرې کليو انجنې به سبق ته راتلې .دانجنو زړونه دګلاب دګل پشان غوړيدلې ښکاريدې انجنۍ دهلکانو په سيالې ښوونځۍ ته تلې .سره له دې چې ملايانو به دانجنو پلارونه منع کول چې لورکانۍ ښوونځۍ ته پر ې نږدي خو انجنې په هسکه غاړه تللې.ځکه: چې په کلي کې بزګران ډير و اتفاق يې ښه ودملايانو خبره چا نه منله.هغوی پوهيدل چې ددې وخت ملايان په پاکستان [ديوبند ] کې ملاي کوي نو ځکه پرې بد کمان و. هوښيار خلک همداسې وي خپل ماغزو نه چې څوک کار واخلې په عقل برابر کار کوي په ذهني توکه کورکورانه ډول دچا په خبرو پسې نه ځي نو کليوالو ښه ښوونځۍ جوړه کړې وه.مور له خورجينې سره دښوونځۍ په درازه ولاړه وه چې دشاګردانودتفريح لپاره دښوونځۍ زنګ په حرکت راغی ډلې ډلې شاګردان له خپلو يونفرم سره له ټولګيو وتل څومره ښکلي ښاريدلې دهر شاګرد په لاس کتاب او سپين جنتي مخونه تورې اوږدې کوڅۍ چې دجنت حورې يې په ښايست کې شرمولې .ډيرې انجنې له مور نه چاپيرې شوې مور خندل اود سپين مخ کونځې به يې له خندا سره ورکې شوې .مور به دانجنو په ويښتانو کوتې وهلې او دچا کورپه شوې ويښتان به يې په زړو ، نازکو کوتو ږمنځ کړې .انجنو به مور ته کتل په خپلو :کې به يې څه ويل [سوالګره ده] يوه انجنۍ چې د پيغلتوب اول کال به يې ودتور کميس لاندې يې غونډآرې وتلې ښکاريدل هغې جې دکتابو بکس په اوږه سم کړ ه له مور نه يې پوښتنه وکړه_ ته سوالګره يې ؟ .مور وړاندې شوه شمسو يې په تندي ښکل کړه_ هو لورې ! زه سوالګره يم.خو دډوډۍ او پيسو سوالګره نه يم.مور زياته کړه_زه دهغه شي سوالګره يم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

چې ستاسو په ګټه هم ده . مور ستونی صاف کړ_ يوازې ستاسو په ګټه نه ده بلکه دټولو خلکو په ګټه ده.، دهيواد په ګټه ده. مور چپه شوه خورجينه يې اوړې ته سمه کړه دانجنو څيرې ته يې کتل ، مور کتل چې انجنې څه ويل لري؟شمسو دمور خبروته حيرانه شوه نورو انجنو ته يې خپلې تورې سترګې واړه ولې_ ايا تاسو دمور په پوښتنه وپوهيدئ؟هغوی يوه هم نه پوهيده چې مور څه غواړي؟او دڅه لپاره ښوونځی ته راغلې ده؟په همدې چيتيا کې دوحيدې غږ پورته شو_ ځان په ښوونځی کې شامله وي .شوځو انجنو هيرووااهه وې خندل .خو ژر غلي شوې چې مور خفه نشي.حميدې چې خپلې څنې په موټې سمې کړې وېويل:ادې ! خيرات غواړې ؟که خيرات خوره يې کلي ته لاړه شه! نازنين وويل: ادې دکلي له سپيانو ډاريږي ځکه ښوونځی ته راغلې ده.نسېمې پرې سترګې برکې کړې : غلې شه! په سپين سرو ځوک ريشخن نه وهي.معروفې خبره ونيوه هغې چې په خوله ژوله ښه ترق يې ځينې وويست وې ويل: عصاب يې خراب شوي لار يې غلطه کړې ده يا به دخپل دلوردکور په لټه کې وتلې وي.دمور په زړو شونډو خندا وه انجنې يې له نظره تيره ولې مور وويل: _ لورکانوز ه تاسو پسې خفه شوې وم ماويل چې خپلې نازنين لورکانې وکورم.هو لورکانو ! زه يو سوالګره مور يم چې ديو غټ مطلب پسې را وتلې يم دکلي دسپيانو ډار او دهغو کسانو ډآر مې په ځان منلی چې دانسان وينې بهوې ، چې دښکلو انجنو دزده کړې ځايونه سوزه وي ،چې دنازنينو ماشومانو غاړې پريکوي، له هغو نه چې له ماشومانو پلارونه ،مورکانې اخلې .دمور څيره جدي شوه او انجنې هم هکې پکې شوې . حيرانې وې چې دا زړه ادې څه خبرې کوي ؟دا خبرې يې له کومه زده کړې دي ؟مور خپلو خبرو ته دوام ورکړ:زه يوه غريبه سوالګره ښځه يم زه له خلکو نه سوله په سوال کې غواړم، زه غواړم چې ماشومانوته دسولې دنيا جوړه شي، زه غواړم چې ټول خلک په سوله کې ژوند وکړي ،زه له ټولو ځوانانو، سپين ږيرو ، بوډاکاو ، ښځو او نارينه وو نه دا سوال کوم چې دسولې له کاروان سره يو ځای شئ زه وايم چې نور دجنګ خوله بنده کړئ ، افغانان

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

نور دجنګ په بټۍ کې مه سوزه وئ ،وايم چې راځئ په هيواد کې دسولې يو حکومت جوړ کړو. اوږد نفس وويست لکه چا چې په خپلو پښو ډيره لار وهلې وي او ستړی شي اوږد نفس وباسي. مور يوه شيبه چپه شوه په نيغو او وړو سترګو يې کتل هغې چې له اوږې خورجينه ښکته کړه انجنو ښه کتل چې څه کوي ؟ مور دخورجينې خوله خلاصه کړه موټۍ موټۍ دسولې پيغام يې له خورجينې وويست انجنو ته يې ورکړ. ها ! داده زما سوالګري هيله . وې لولئ چې دسولې کوترې تاسو ته څه وايې؟ انجنو دسولې پيغام واخست مکۍ چې پيغام ولوست دکتابو بکس يې په اوږه بند کړ دښوونځۍ ادارې په لور يې کامونه پورته کړه مکۍ په يولسم ټولګي کې وه ښه غمبورچې انجنۍوه په سبق کې اوله يادېده.په لوبو کې له چا بيرته نه وه هغه دلوبو مشره وه وليبال ، باسکيل بال دايې تر ټولو خوښ وسپين مخ ، هره غمبوره يې دمنې پشان سره وه.په متو کې قوي وه،په عقل کې پوره غره وه مکۍ چې دادارې دروازه په کوټه ټک ټک وواهله نيغه په اداری ننوته_ مدېره صاحبه!دا دی دسولې پيغام .يوې زړې ښځې راوړی ! _ زړې ښځې !؟ [مديرې وويل] هو! يوې زړې ښځې .خورجينه يې له پاڼو ډکه ده هغه وايې [ ماتاسوته دسولې خبرې راوړي ، که خيرو په هيواد کې په سوله راشي، دانجنو په وربل به سره ګلان ښکاره شي.اوس هم دښوونځۍ په دروازه ولاړه ده.، هوښياره ښځه راته معلوميږي .دمديرې په څيره کې تغير وليده شوه په ډار يې کتل حيرانه وه.قلم يې دميز له سره واخست په کاغذ يې رد بدل خطونه وکښل لکه څوک چې په اوله ورځ په ليک خپل لاسونه بلد ه وي ._دپاڼو خپره ول خو دانجنو ، هلکانو او ځوانانو کار ده نو زړه ښځه۰۰۰[مديرې وويل] مديره څوشيبې چپه وه له ځانه سره يې ويل: په دې ښځې کې څه فساد شته.مکۍ خبره ونيوه:_ خورجينه يې په اوږه ده لکه بنګړيواله چې کلي ته راشي.مديرې وويل: خورجينه يې ولټوئ چې بمونه پکې نه وي ؟_ نه ! دبمو ښځه نه ده [مکۍ وويل] هغې ويل_[ماتاسو ته داسې شيان راوړي چې دټولو خلکو خير پکې شته ].تورپيکۍ ښونکې په خبرو کې ولويده _:اوريدلي مې و ،يوه ښځه په ديموکراتانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو گام د سولې پر خوا

کې شته ویل کیږي چې روښانه ذهن لري، په کلیو ، ښوونځیو گرځي دښځو ماغزه بیداره کوي هغو ته روښانه دنیا ښیې.کیدای شي همدا ښځه وي ] مدیرې سر وښوراوـ یوځل یې تالاشي کړئ بیا یې ادارې ته راولئ مکۍ له ترپ سره له ادارې ووته په اننگو کې یې داحساساتو څپې ښکاریدې مکۍ چې پر مخ ولیدلي ویښتان له نور سره یو ځای کړله دمور په خوا ودریده.دمور خوله دپخوا پشان له خندا ډکه وه دانجو په منځ کې یې خبرې کولې .مکۍ له مور نه خورجینه واخسته ـ انا ! په خورجینه کې دنور څه دي ؟ دمکې هدف دا و چې وکوري نور څه په جورجینه کې شته او کنه.ځکه چې ډیرې ښځې په پیسو خرڅې شوې یاغیان ورته بمونه ورکوي دوی یې په گڼو ځایو کې ورته انفجار ورکوي مور دمکۍ په ځواب کې وویل:ـ لورې! په خورجینه کې قیمتي شیان گرځوم.داسې شیان چې دهر چا خوښ وي مور پاڼو ته اشاره وکړهـ کورې! دا پاڼې دسرو زرو نه قیمت زیات لري.مور وخندل اوږه ئې پورته واچوله په غرور یې وویل: په دې کې دعلم خزانه گرځوم.هر چا چې دا پاڼې ولوستې هغه به روښانه دنیا کوري.،داسې دنیا چې ملایانو یې تر اوسه صفت نه دی کړی مور دمکۍ په کوڅو لاس کش کړ ـ هولورې! چې هر چاته جنت جنت وي دمکۍ او مور خبرې لا خلاصې نه وې چې مور دښوونځۍ په اداره ننوته.مور خپل عمر خوړلې پنچه مدیرې ته ورکړه څوشیبې یې دهغې پنچه په خپله پنچه کې نیولې وه ښوراوه یې .لکه انقلابیان چې یوبل ته لاسونه ورکړي او بیا یې سره ښوره وي دا په دې ماناده چې ددوی لاریوه ده په یوه لار به مبارزه کوي او دزړونو نزدې والي علامه هم وه . مدیرې ته دمور جرات حیرانونکې وه مور چې له مدیرې سره روغبړ وکړه بیا یې دښوونکو لاسونه ه پچق کړه مور په ورین تندي خبرې کولې له مور سره دیاغیانو ډار نه وه ځکه چې هغه یوه مبارزه ښځه وه.مبارزان له چا ویره نه لري .هغو هر څه قبول کړي وي بیا خپله لار لنده وي ، مبارزانو ته دانسان ژوند اهمت لري، هغوی خپل تاریخ په زرینو کرښو لیکي اینده نسل ته دمبارزې او انسان ته دخدمت لار ښیې.نو ځکه مور په زړه ور تیا خبرې کولې دمور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو ګام د سولې پر خوا

له خبرو سره مدیره ډاریده.هغه پوهیده چې دمور خبرې دیاغیانو په ضد دي .که یاغیان خبرشي چې ښوونځی ته دسولې پاڼې راوړل شوې دي ښوونځی ته به اور واچوي او خطر به ورله پیښ شي.دشاګردانو ،او ښونکو ژوندبه هم له خطر سره مخامخ شي.مور سپینې خبرې کولې۔ دسولې کاروان غواړې چې ښځې له او نارینه وو سره یوځای دسولې په کاروان کې برخه واخلي مور وویل: زه دهمدې لپاره راغلې یم چې په ښځو کې شور پیدا شي بې له ډاره ودانګي ،په زړه ورتیا دسولې لپاره کار وکړي مور دوام ورکړ:دا دسولې پیغامونه دښوونځی په دیوالو وځړه وئ چې دشاګردانو ماغزه بیداره کړي مور وروځې پرته زواچولې دوام یې ورکړ:۔ مه ویریږيئ :! په ویره کې انسان خپل نابودي کوري .مور زیاته کړه:زوی مې [عزیز ] وایې [هغه څوک بریالی دی چې مبارزه کوي ، حرکت کوي ،که انسان دتیږ په شان بې حرکته پروت وي اهمت او شخصیت یې کم وي ]. مور له خبرو سره خندل داسې به خوشاله وه لکه په رښتیا چې دسولې لمر پورته شوی وي ،ټول هیواد روښانه ،او خلک له خوشالی نه دسیند څپو ته خاندي .مور به په دې خبرو او حرکتو دښځو جرات زیاته وه مور به هخه کوله ترڅو ټولې ښځې وهڅوي چې دسولې په خاطر غږونه پورته کړي .او دښځو اواز په نړۍ کې سوله غوښتونکو هیواد تر غوږو ورسوي .زلیخا، ګلسیمه، حمیده او رحیمه دمور دسولې پیغام ته خوښ و دهغو هیله همدا و چې کله به دشپې له خوا په ارامه زړه سر په بالښت اږدي او بې له تشویش نه به خوب کوي .معلومداره خبره ده!چې چیرې جنګ وي هلته هر انسان په اندیښنه کې وي.په جنګ کې نالوستو کسانو ته زمینه برابره وي چې داړې جوړې کړي ،لار ې ونیسي ، له خلکو پیسې واخلي او یا دخلکو په کورو واوړي په ښځو او انجنو جنسي تیری وکړي . جنګ لکه چې شپه تیارو پوښلی وي او غله دخلکو دکورو په چورولو پسې را وتلې وي او سوله لکه چې سپوږمۍ توله ځمکه روښانه کړې وي هریو بل لیدی شي.غل نشي کولی چې دچا په کورواوړي .سولې ته هغه کسان خوشا له وي چې انساني ژوند غواړي ،اودخلکو ژوند ته هم خوشالي راوړي خو چې دیاغیانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

له ډاره دخلکو شونډې کندل شوي وي غږ نه پورته کوي خو ځينې کسان سر تيري وي بې له ډاره دخلکو دژوند دسينګار لپاره مبارزه کوي .هغې لارې پرانيزي چې دسولې په خوا تړل شوي وي . نو ځکه ځينې ښوونکي دسولې پيغام ته خوښ نه وي .او ځينې خوښ وي . خو مديرې [زينب] چې ټيټه ونه لرله زيږبخن دمخ رنګ يې ودمور له خبرو سره به لرزيده.مديره په دې پوهيده چې دسولې پيغام خپرول په ښوونځی کې ښوونکو، زده کونکو او په خپله ښونځی ته تاوان ده.ياغيان خبريږي ښونکې او زده کونکي په قتل رسوي او ښوونځی ته به اورواچوي .خو کله کله چې زده کونکي يو ښه پيغام واوري دانقلابيان پشان وزرونه يې دالوتو په حال کې شي.په هيجان راشي.ډار او ويره يې له ذهن نه اولتي وي .مديرې دپيغام دځړولو په باب تصميم نيوه خو دمکی په مشرۍ انجو دښوونځی په ديوالو، ونو او داداري په دروازې له پاسه پيغامونه وځړول مور چې ځړول شوي پيغامونه وليده مغروره شوه ښوونکوو ورسره ومنله چې دسولې دکاروان ملګرتيا به کوي دموردنده تر سره شوه هغې چې خورجينه اوږې ته واچوله دخدای په امانی لاس يې خوزاو لاړه .مورچې قدم قدم پورته کاو دخوښی احساس يې په بدن کې په کډا وه.خو دمديرې له هيبته ساه تنګه کيده مور چې دښوونځی په چمن کې روانه شوه شاګردانوچاپيره کړه ګلان يې پرې پاشل او نارې يې وهلې [ا نا موږ ته سوله راولې] نادره دمور مخې ته ودريده _ انا ! ستا په خورجينه کې سوله وه؟ _ هو لورې ! ان ستاسو دښوونځی ديوالونه هم سوله غواړي .وکورئ کوترو په خلا صو وزرو تاسو ته دسولې پيغام راوړی دی وسره ملګري شئ انجنو په يو غږ نارې کړ_ موږ دسولې له کاروان سره ملګري يوو. مور په داسې حال کې چې خوله يې له خندا ډکه وه دښوونځی له دروازې ووته.ياغيان لا دوخته خبرو چې يوې ښځې ښوونځی ته دسولې کاغذونه راوړي دي غوړې چې ښځې ددوی په ضد وپاره وي دهغه ځنګل لار يې نيولی و چې مورپه همغه لار تله. ځنګل له شنو ونو ، بو ټو ډک ودځنګل تر خوا داوبو رود روان و باد به دونو شنې پاڼې خوزولې خوږ اواز به تر پورته شو.چې روا نې اوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

وي او دځنګل خوا وي نرى شمال او دباران يو يو څاڅکى بيا نو چې جانا ن وي او پيالې دپسرلي شپې ،ورځې څوک به يې په جنت هم ور نه کړي . مرغانو سندري ، دتوتيانو شپيلاقونه، دونو هر څنګه په نڅا ،او هر پاڼه خوماري ،همدا ده خوږ ژوند ، خوږه مينه ، دسکروټو پشان عشق،. خوکله :کله دځنګل درود غاړې دقاتلانو ، لار وهونکو ، انسان وژونکو ځاى او سنګر شي،هلته بيا قاتلان دشرابو دجام دپورته کولو په عوص چړې پورته کوې وينې تويه وي . او دانسان په وينوځان مست کړي .دوينو څاڅکې له تويدو سره قاتلانو ته دخوښۍ يو محل جوړ وي . مور لا دځنګل تر خوا نه وه رسيدلې وچت وچت کامونه يې پورته کول دمور په خيال کې راشي[ عزيز زوى به ترې خوښ شي،په ملګرو کې به پر ما افتخار کوي هغه به وايې چې مبارزه مور لرم] ها ! که زه ياغيانو مړه کړم زما څلى به معلوم ي عزيز به وايې چې [ دا زما دمور څلى ده] بيا به له ځانه سره بړنګيده: ځه که اول عمر مې په کړاو تيره کړه په څه نه پوهيدم دعمر په اخر کې به په زړونو کې ياديږم.هغې لاس وښوراو_ که مړه هم شم پروا نشته.بيا به يې ويل: هغه لار چې ما پرې قدم ايښى ډيرې ښځې به زما په پل خپل پل کيږدي هغه ډيوه چې ما په کليو او ښارو ، ښوونځيو کې روښانه کړه څوک خو به وي چې دا ډيوه روښانه وساتي ؟دخيالو اخر يې و چې دځنګل په لاره سمه شوه لا ډيره نه وه تللى چې څلور ياغيان له ځنګل نه ووتل څلور واړو خند ل همدا به يې ويل[چيرې وې تورې؟مورې ستا داحترام لپاره ورځې تيرې کړي ،ناوخته ورسيدې ].يوه وويل_ څۀ دکړه پاڼې؟.:سوله غواړې ؟دکنداغ ګزار يې پرې وکړمور ولرزيده خو په ځمکه ونه وليده.دياغيانو څيرې دځناورو شان ته وې دسر اوږده ويښتان ، بمبلۍ ږيرې ، لنګوټي له سره تاو دهريو له څيرې دوحشت بوۍ پورته کيده.مور يوه تيره ديو ياغي په سر حواله کړه [وحشيانو ، لعنتيانو، دنړې دانسانانو پشان خو نه ياست] څلور واړو په زور زور وخندل _ تورې ! ربښتيا دوويل. داته يې چې دامريکا، اوروپا ژوند غواړې يوه لغته يې دمور په سينه حواله کړه.مور چپه شوه._ مورې داسلام پسې را وتلې يو دکفر سره زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو گام د سولې پر خوا

جنگ ده مخکې شه ! زموږ مشر دغواړي . مور يې مخکې واچوله روان شول مور خپل جرات له لاسه نه و ورکړی مور به په خيال کې داسې يې له ځانه سره ويل[ زما لار خو مقدسه ده،ورته به ووايم[زه انسا نه يم غواړم ټولې ښځې انساني ژوند ولري هيڅوک حق نلري چې له ماشومانو نه مور کانې او پلارونه واخلي ، مور ده چې دنيا لرزه وي ، مور ده چې دنيا اباده وي ،مور ده چې بچيان زيږه وي او لويه وي يې ] بيابه يې په پټه وخندل :چې انسان ناپوه وي انساني کرامت تر پښو لاندې کوي هغه دچا خيال نه ساتي .] ياغيانو به دشاه له خوا په کنداغ وهله مور به په حقيقي اواز ور ته ويل[ خلک به تاسو نه انتقام واخلي ، عدالت به تاسو محاکمه کړي، تاسو دپردومزدوران ياست، دخلکو دتوپان څپې به تاسو داسې نابود کړي لکه چې سيلاب خس خاشان دختو په منځ کې نابود کړي ] لا ډير ځنډ نه و تير مور دغرو په منځ کې هغه ځای ته يوړه شوه چې هلته دياغيانومشر دپنجابي منصبدار سره ناست و. ا و دجنگ کلي ورسره و.ځوانان به يې جنگ ته ليږل .مور سترې وه خو دژبې قوت پکې و.کله چې مور دغره له کنډو نه ووا ـښته ديو ونې لاندې جې دغره له څوکې اوبو سر ويستلی ودياغيانو مشر يې وليده دده څيره ډيره وحشي وه مخ يې په توره ږيره پټ ولاسونه يې لنډ خو کيډه يې وتلې وه سترگې يې دوحشت په دور تاويدې دمنصبدار مخې ته ناست و.دياغيانو مشر يو افغانی و چې خپل وجدان او افغانيت يې په پردو خرخ کړی و هغه چې داسلام ددين لاندې دانسان وژنې امرونه کول نو ځکه يې څيره بدرنگه وه. موريې دياغيانو مشر مخکې ته ودره وله.ـ داده هغه ښځه چې دسولې پاڼې خپره وي .مور په جرات وروځې پورته واچولې خورجينه يې له اوږې ښکته کړه ديوې تيږي له پاسه دياغيانو مشرته مخامخ کيناسته دياغيانومشر پاکستاني منصب دار ته وکتل ـ همدا ښځه ده. منصبدار سر ته حرکت ور کړوويل : په پاکستان کې ددې ښځې په باب ډيرې خبرې کيدې .زه يې ددې لپاره وليږلم چې ددې ښځې فعاليت بند کړم .دياغيانو مشر له مور نه پوښتنه وکړه ـ ته څه کول غواړې ؟ولې دا پاڼې دخلکو منځ کې شند ې ؟ مور ځان وخوزاو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو گام د سولې پر خوا

وويل[ سوله ، سوله سوله] مور دوام ورکړ:سوله دهر انسان لپاره په گټه ده سوله ستاسو ژوند هم خوندي ساتي .تاسو له پردو يوغ نه خلاصوي .مور زياته کړه: تاسو چې دغرو منځ نيولی او له دې ځايه ځوانان جنگ ته ليږی‌په کليو ، ښارو ځان وژنه کوي ايا دا انساني کار ده؟دا اسلامي کارده؟موروويل: زه چې دانسان دنجات لپاره کلي لټوم دا گناه ده؟ مور دياغيانو مشر ږيرې ته لاس اوږد کړ_ ووايه؟ !اسلام داسې ويلي چې انسان بايد مړه شي؟خودا گناه ده. ته ياغي که په دې عقيده لرې چې خدای به له هغه چا نه پوښتنه کوي چې انسان ته ضرر روسوي يا انسان وژني تاسو که په جنت او دوزخ ايمان لري نو ولې انسان

وژنې ته لمن وهی- عزيز زوی مې ويل[ پاکستان زموږ دښمن ده زموږ دهيوا نيمايې خاوره يې لاندې کړی ده دا جنگ هغوو زموږ په هيوا تپلی ده. يو تعداد نالوستې ، ناپوه انسان بې په پيسو اخستي زموږ هيواد[افغانستان] پرې ورانوي .که په هيواد کې سوله وي اوافغانان په خپلو کې سره ورونه شي دهر چا ژوند به ښه وي دافغانانو وينې به نه بهيږي ] زوی مې هوښيار هلک دی ځکه يې ماته پانې راکړې چې ښځې وپوه وم تر څو خپل اولادونه سولې ته را وبولي. دجنگ ، جکړې نه لاس واخلي په دې کې ته څه ويل لري ؟[مور سوال وکړ] دمشر ياغي رنگ زيړ شو ژبه يې وچه شوه،دسوال ځواب يې نه درلود.هغه پاکستاني منصبدار ته مخ واړو _ دا ښځه وايې چې جنک بس ده، نور به سوله کوو.منصبدار پوزه منجه کړه _ که په افغنستان کې سوله راشي زموږ [پاکستان] لپاره خطر ده منصبدار يوه پښه په بله واړ وله تندی يې تروش غوندې شو لکه څوک چې خپل نوکرته په قهر شي.هغه زياته کړه:افغانان شوخ خلک دي که په نس ماړه شي اولاسونه يې ازادشي بيا يې څوک نشي ايله ولی ښه داده چې جنگ دوام ولري تر څوچې په خپلو کې لتاړ وي .،اوس موږ ترې هيريودياغيانومشر ځان په پيسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خرڅ کړی و سترګې يې ځمکې ته غورزولې وې ودپاکستاني منصبدار په مخکې يې خوله بنده وه . دمور په ذهن کې هغه شعر چې عزيز به تل ويل راغله

[چې ککره يې دخپل واک يې پردی وي ـحق حيران يمه زه دا رنګه پښتو ته]

مشر ياغي نورو ياغيانو ته په سترګه اشاره وکړتير يې کړئ[يانې مړه يې کړئ] ياغيانو مور دکميس له لمن ونيوه کشه يې کړه دوباره يې ځنګل ته راوسته دوهلو لاندې يې ونيوه. خومور به همدا ويل[خلک به تاسو ونه بښي، عدالت به تاسو محاکمه کړي ] مور بې هوشه شوه.ياغيانو فکر وکړ چې مړه شوه بيا يې له پښو په ونه ځوړنده کړه ياغيان ترې لاړل .خو دمور زړه دحقيقت او حق په خاطر ټوپونه وهل دوينو څاڅګو يې په رکو کې دسولې په خاطر په جريان کې و .مور شپږ ساعت له پښو ځوړنده وه خو چې بهادر خان ځنګل ته دښکار لپاره راغی هغه په اس سور وچې مور يې ځوړنده وليده چاقو يې له تبراق نه وويست رسۍ يې پريکه کړه مور يې په ځمکه وغزوله بهادر خان خپل دلاس ورغوی دمور په زړه کيښود زړه يې ژوندی و په اس يې واړه وله روغتون ته يې يوړه. داسمان په شين تندي کې سپينه سپوږمۍ خپله لار لنډه وله ،خريمانه روا نه وه .ستوري ځليدل ، داوړي ورځې شپې وې .کليوال دخپلو خړو کورو دبامو له پاسه ناست ووخپلو کې غږيدل .هر چا دسولې دپيغام په هکله خبرې کولې چا به ويل ـ ښه پيغام و،چا به دنه په توکه سر ښوراو.:[ دا ټولې خبرې دروغې دي ].خال محمد چې جکه ونه يې وه دپوزې سريې دتوتي دمښو کې پشان ځمکې خوا ته ځوړند وه په خبرو راغی :ياغيان دپردو ډوډۍ خواره دي کله سوله مني ؟هغه زياته کړه: دياغيانو ژوند په سوله کې ښه نه ده هغوی ځانو نه په جنګ کې چاغوي .لونګه دخال محمد ميرمنه دخبرو سر يې ونيوه:په سوله کې خو ځوک دياغيانو په ستوني تيغ نه تيره وي نو ولې سوله نه غواړي؟نعيم چې دمکتب شاګرد و کتابو نه يې لوستي و په ښه او بد پوهيده سولې ته يې اهميت ورکاو او دجنګ په ماهيت هم پوهيده هغه وويل: ياغيانو دپردو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو گام د سولې پر خوا

په ډوډۍ شخوند وهلی کار مه کومه، دخلکو کورونه چور، تا لا کاکیده مړه که.هغه دوام ور کړ: دا دومره بې ګناه انسانان چې وژل کیږي دا چا ووژل؟ یوه شیبه چپ و بیا یې په خپله ځواب وویل[ یاغیانو هغه جدي شو :_افغانان دخپلو وینو انتقال چا ته نه پریږدي .دا دومره وینې چې بهید لې دا به کومه ګناه؟هغه زوی به هیڅکله دخپل دپلار انتقام پرینږدي چې پلار یې دهیواد په خدمت کې بوخت و اویاغیانو ووا ژه. هغه دوام ورکړ:دپلار زوی ته په یاد ده چې دهغه مړی یې په کټ اچولی و لاس او پښې یې دیاغیانو په ځان وژنه کې له لاسه ورکړي و اودی یې خوا ته ولاړ و اوښکې یې تویولې دا زوی به هیڅکه یاغیان ونه ښښي. نو ځکه دیاغیانو سولې ته زړه نه ده چې خپل مرک پکې ویني دوی به خپل ملت ته څه ځواب وایې؟چې ما دڅه لپاره دخلکو وینې وبهولې . ؟نعیم دسر ویښتان په کوتو ږمنځ کړ دوام یې ورکړ: په حکومت کې هم فاسد کسان شتون لري.هغوی چې په اول په تنظیمو کې ْغټ غټ مشران ووهمدوی و چې دپاکستان ثرنا ته به نڅیدل سرکونه ورانول ، ښوونځی او روغتونونه سوزول اونور ورانکاری خو په اول کې دوی کول چې دیموکراتیک دولت دپاکسان او امریکا او شتمونو هیوادو په لمسون یاغیانو رنګ کړو بیا همدوی وچې لوړې لوړې چوکی یې ونیولې دنړیوالو دمرستې پیسې ددوی شوې په خپلو کې سره وویشلې.نعیم دلاس اشاره وکړه: دا لوړې مانۍ چې جوړې شوې دا پیسې یې له کومه کړې؟نعیم په احساساتو وویل : دهر مشر دپلار جیداد چې حساب کړې په صفر ضربیږي او صفر ځینې جوړیږي .خو اوس یې دپیسو حساب څلور مستوفیانه هم نشي کولی دوی هم نه غواړي چې سوله راشي.ځکه چې په سوله کې ددوی غاړې ته ملت رسۍ حلقه کړی دی په دار یې ځړه وي. دنعیم مور [زبیدې ] دتاید سر وښوراو په شونډو کیې اهسته غوندې وویل[رښتیاده] ددوی لا خبرې روانې وې چې له ښوونځی نه غږ پورته شو [ مه یې سوزه وئ دا دکلي دانجنو ښوونځی ده] دا غږ یوځل واوریدل شو بیا دچا غوږو ته رانه غی .پسې لمبې او لوګي پورته شول یاغیانو [رحمان ] دښوونځی ساتونکی په

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

کولو وويشت بيا يې داور لمبو ته ګزار کړ ښوونځې دياغيانو له خوا وسوزول شو رحمان هم داور خوړه مړی شوکليوال هک پک دبامو په سر ناست وو.هغه چې وايې [تشه لاسه ته مې دښمنيې ]همغه خبره ثابته شوه.چې دچا په لاس څه نه وي اوبل په برجه سوری کوي دا دظلم او زور نتيجه ده.تر هغو چې دحکومت سر بازان رسيدل ياغيان تبنتيدلي واو ښوونځی سوی و.سهار دچای په وخت کې حميد ې په دې باب خپل پلار نه پوښتنه وکړه-پلار جانه ! دا ياغيان ولی ښوونځی ته اور اچوي ؟ولې سړي او ښځې وژني ؟پلار [يوسف کاکا] خپل دبرتو څوکې سمې کړې د حيد ې خواته نزدې شويوسف کاکا مشر سړی و پخوا يې په حکومت کې دنده درلوده دحساب او کتاب خبرې به ده حلولې يانې چې دی يو محسب انسان و.اوس چې دتقاعد په کونج کې ناست دی دهيواد ناخوالو دده طبيعتخراب کړی دی يوسف کاکا په ځوانۍ کې مست زلمی وله هرچاسره دبه يې په خلاصه خوله خندل اوس چې هيواد دجنګ په ميدان بدل شوی هغه مستي اوخندا څوک نه حسه وي .ټوله ورځ يې دکوټې کونج نيولی وي يا کتاب لولي يا خو ليکنه کوي دهغه سپين ،ببرې وروځې وتلی تندی دده دپوهې ښکارندوي دی هغه چې دحميدې خوا ته نزدې شو يوه غمجنه مسکايې په شونډو کې وځليده لورې ! ډيره پخه خبره د وکړه .يوسف کاکا لاخپلې خبرې نه وې اخستې چې دحميدې دفکر اوعقل اوخيال ته په سوچو شو داسې يې فکر کاو چې حميده به په اينده ژوند کې په روښانه لارلاړه شي.ځکه چې دچا دماغ چې دتکامل په حال کې وي همداسې پخې خبرې کوي .يوسف کاکا دحميدې دمخ پيکي ته کوتې ږاندې کړې په ا صل مطلب راغی .همداسې سوالو نه دپخو ماغزو خاوندانو په ذهن کې وي هغه زياته کړه: له ماسره همدا سوال ويوسف کاکا دروند سر وخوزاو وويل_ خو ما چې کتابونه اړول رااړول او عميق فکر مې وکړ ددې سوال حل [چې ولې ياغيان پيدا شول ؟ولې ياغيان کاونډ هيوادو وزيږول ؟ او ولې کاونډ او شتمن هيوادوسره لاسونه يو کړ ياغيان يې وروزل ؟بيا يې زموږ هيواد ته دجنګ لپاره وليږل ؟ لورې! په نړۍ کې شتمن

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

هيوادونه دغريبو هيوادو ګټې ،دځمکې لاندې شته غواړي دځان کړي څه نالوستي کسان خپل نوکران کړي او څه په مزهب پورې تړلي کسان دپيسو پواسطه دځان تابع کړي چيرې چې روښانه نهضت وي ، جنبش وي ،دخپلو نوکرانو پواسطه يې ځپي اومخه يې نيسي او خفه کوي يې.زموږ په هيواد کې ډيرو پاچاهانو خپل دمستۍ اسان وځغلول ، عيشې يې وکړې ، ځانو ته يې جنت جنت ژوند جوړ کړ دپاچاهانو ژوند په مستۍ کې تير شواو دولس دخلکو ژوند په کړاو.کار به خلکو کاو ، توليد به دخلکو دلاسو برکت و کيدې به ددوۍ مړي دې،ژوند به ددوۍ جنتي تيريده.حميده دپلارخبرو ته په فکر تللې وه کله کله به يې دپلارخبرو ته دتايد سر خوزاونوره پلتۍ وهلې ناسته وه.په تيرو سترګو يې دپلار ځيرې ته کتل. يوسف کاکا لاندې شونډه دغاښو په منځ کې ونيوه يو شيبه چپ پاتې شوپه سترګو يې يو څه ته کتل،لکه څوک چې چا ته په قهر شي.ورته شونډې وچيچې ، په نيغو ورته وکوري.هغه چې ستونی صاف کړ دوام يې ورکړ:په هيواد کې ځينې ککرې وې چې داستبداد سره جنګيدل .نه له زندان نه ډاريدل او نه له اعدام نه.جنبش يې فعال ساتلی و کله نيم برلا او کله پټ سره به يې ليدل دهيواد دپر مخ تک په باب به يې خبرې کولې په دې به هم غږيدل چې څنګه وکولی شي چې داستبداد تير مات شي داسې ککرې ډيرې دخاورو لاندې شول ، زندان ته واچول شول ، اعدام شول په دا ر وځړول شول .خو هغه ډيوه چې روښنفکرانو بله کړې وه يو پاچا هم ونشواى کولی چې دا ډيوه مړه کړي.ددې ډيوې شغلې به لا پسې زيا تيدې .نوره ځمکه به يې هم روښانه کړه.دتيارو په منځ کې به يې لار پيدا کړو د تيارو نه به يې خلک را وويستل او دجنبش سره به يې يو ځاى کړل تر هغو چې په هيواد کې ديموکراتيک نهضت پوخ شو او داستبداد مانۍ يې نسکوره کړه.خلک داستبدا له ظلم او زور نه ازاد شول هغه تور زندانو نه چې ويښ کسان به پکې ساتل کيدل هغه مات شول هغه ځنځيرونه وشليدل چې دروښنفکرانو پښې او لاسونه به يې پرې تړل ، هغه ميخونه او پانې ميده شول چې هوښيارو مغزونه به پر سوري کيدل،هغه چړې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

**يو گام د سولې پر خوا**

برجې وسوزول شول چې دمترقي انسانو غاړې به يې پرېکولې.دې جنبش استبدا ته خاتمه ورکړه بيا نو افغانان دهيواد دابادۍ په تکل کې شول په دې فکر کې هم شول چې انگريزانو ولې دافغان دپاچاهي په تخت [پښور ]باندې يې پردي کسان کينول له دوۍ سره دا فکر وچې تللې خاوره به خپل کړي تړل شوي پښتون ورور به ازاد کړي .که خوله يې وازه شي په خپلو پښو ودرېږي .يوسف کا کا چې تر دې حده خبرې وکړې بيا په خندا شو دحميدې په ويښتانو يې لاس تيرکړ لوري!دا احمقان نه پوهيږي چې اوبه په ډانگ نه بيليږي ؟دا دباچا خان [خان غفار خان] پخه خبره وه له دې جنبش سره پښتانه، بلوڅ هم و خوزيدل ځانونه يې تيار کړل خو دښمن [پاکستان او شتمنوهيوادونه ] په دې وپوهيدل چې دا جنبش سره کشه جنبش دی ددنيا نورو ملکو ته هم سر وړاندې کوي . يوسف کاکا جدي شو : دې جنبش يوازې په افغانستان کې طرفداران نه درلودبلکه دنړۍ سوله غوښونکي هيوادونه او انسان دوسته هيوادونه هم ددې جنبش په خوا ولاړ وو.همغه و چې پاکستان، ايران او شتمنو هيواد سره لاسو نه يو کړل زموږ په هيواد کې خو توره ارتجاع [ تور ذهنه کسان] لا دمخه تربيه شوي وخپل نوکران يې گرځولي و هغوۍ يې پشا وډبول ، په نس يې ماړه کړل ،چاغ يې کړل ،دجنگ لپاره يې زموږ سمسور هيوادته وليږل .دهيواد سمسور تيا يې په توروخاورو بدل کړ يوسف کاکا دخفگان يو اوږد نفس وويست : زياته يې کړه :اول يې دتنظيمو په نامه کسان خپل مزدوران کړل هيوادېې پرې چور او تالا کړه دافغان ميړنی اردو چې له ۱۲۳ دښمن هيوادو سره جنگيده له منځه يوړو دوۍ دمزهب او اسلام دعقيدې لاندې خلکو ته فريب ورکړی وخو چې خلکو ددوۍ دا وحشت ، غلا او فساد وليدو پوه شول چې دا دعقيدې ، دين لپاره جنگ نه دی بلکه دپيسو اوقدرت لپاره جنگ دی بيا نو خلکو ترې مخ واړولو نفرت يې ځينې وکړو . يوسف کا کا سر ته حرکت ورکړ :خو چې باداران يې وپوهيدل چې نور دا څيرې بدنامه شوي دي نورې څيرې يې را منځ ته کړې چې پرې نوم د [ طالبانو اسلامي نهضت] کيښودو.دطالبانو ،کړنه خو تا له نزدې ليدلی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

ښوونځی ته اور اچوي انسان وژنه ، ځان وژنه ګوي ، په ګڼ ځایو کې بموته انفجار ورکوي چې ګڼ شمیر انسانان ووژل شي، دوینو سیلابو نه جوړ شي. په دې ټولو کړنو کې یې اصلي هدف دادیچې افغانان دتللي خاورې نه لاس واخلي او پاکستان ته ووایې چې ته زموږ بادار یې. یوسف کا کا په غرور په بریتو کوتې ووهلې :خو افغانانو هیڅا ته سر نه دی ټیټ کړی دټول یرغلګرو په مقابل کې یې تندی جنګولی دی وینې یې ورکړي خو چا ته یې لاس ته دی پورته کړی دا اوس چې طالبان دخلکو په منځ کې کنده شول او دښمن نور نشي کولی چې له دې بدنامو ځیرونه ګټه پورته کړي د[داعش] په نوم یې نورې ځیرې را منځ ته کړې کورو چې هغوی څه کوي او څنګه دنابودی کندې ته اچول کیږي .یوسف کا کا په اخره کې وویل : وکورو چې دا ډرامه تر کومه چلیږي یوسف کاکاوویل : کمان نه کوم چې دا به هم تر اخره لاړشي ځکه چې ددوی ذهن تر ټولو تور دی اخر به نړی او توره ارتجاع حق ته تسلیم شي یوسف کا کا یوه غټه خبره هم وکړه :دا چې خلک ورته یاغیان وایې دا نوم اول دتنظیمو کسانو ته ایښودل شوی و ځکه چې هغو همدا ناولي کارونه کول چې مې یو په یو درته وویل او بیا دطالبانو ته هم خلکو یاغیان وویل ځکه چې هغوی هم دانسان په وژنه ،او دهیواد په ورانولو کې پوره ونډه اخستی دی زموږ هیواد خو په اول کې دتنظیمو کسان چور اوتالا کړ اوردو منحل شو دخلکو او دولت شتمنی چور کړل شو ل، دخلکو په ناموس او مال تیری وشو چې طالبان راغلل څه چې پاتې و هغوی چور او تالا کړ یوسف کا کا وخندل : دا ناپوهانو دپردو په لمسون خپل هیواد وران کړ اردو تنظیمو له منځه یوړو او ددولت هسته طالپانو دپاکستان په مشوره منحل کړیوسف کاکا په غرور وویل : دافغانانو ،پښتنو، اوبلوڅو حق څوک نشي خوړلی اخر به یې لاس ته راوړي یوسف کا کا خپلې خبرې په دې جملو پای ته ورشسولې

[یا به وخورم ککری یا به کامران شم]

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۵)

روف له جکې شملې سره دچنار لاندې ناست وپه هغه کلي کې ډير چنارونه و خلکو به دا کلي دچنار دکلي په نوم ياده و او ځينو به دشملې کلی ورته ويل.ځکه يې ورته دشملی کلی ويل چې په دې کلي کې ډير پښتانه تير شوي ووچې دپښتنو په دود به جرکې کولې .او دچنار کلي يې ځکه ورته ويل چې دې کلي ډير چنارو نه درلودل .پخوا دا دود و چې په کوم کلي کې به خانان ووهغو به دخپل ديرې شاوخوا چنارونه کينول دنگ دنگ چنارونه به ولاړ و داختر او جشنو په ورځو به جينوکيو دچنار په منډه تالونه اچول .اوس چې جنگ په هيواد خوله لگولی هغه دنگ چنارونه سمسور چمنونه او شنه ديره نه دي پاتې دباروتو لمبو سوزولی لغړي منډان يې له لرې ښکاريږي اوس دديرې په بر کونج کې يو چنار ولاړ پاتې ده دهغه سينه هم دجنگو له گبله سوری شوی ده يو جکه څوکه يې دبدبې نښه ده په ديره کې کتونه پراته و روف چې له پخوا نه مهربانه انسان و دده خبره به ټولو کليوال منله دکلي زيات خلک بزگران ودقوي متو خاوندان او په زړه صادق په هيمت کې قوي ښکاريدل دکلي خلک دياغيانو دضربو او تحدي نه بې برخې نه و پاتې نو ځکه دهر کليوال زړه له ياغيانو نه په چا ود و ياغيانو دکلي خلکو ته خبر ورکړی و چې خپل اولادونه دښوونځی ته نه پريږدي .دښځو وتل له کوره يې سور اور گڼله.کلی بختور چې روف پشان يې مشر درلود روف دخانانو دکورنۍ پورې ا ړه لرله خو دروف ماغزه دهغو خانانو پشا نه و چې غريبان به په ونو تړل ، وهل به يې ،او يابه يې له سپو سره په جنگ اچول .روف ته دانسان کرامت ارزښت درلود.تر بل چا يې بزگرانو سره زياته ملگرتياو .روف پوهيده چې که بزگران خپلې متې په کار وانه چوي ،غلې ، دانې ونه کري نو دخلکو کيډې به خالي وي يا نې بزگران دخلکو ژوند سمبالوي .روف هم بزگرانو ته احترام درلود.روف بې له ډاره په خلکو غږ وکړ:_ ای کليوالو! پوهيږئ ؟!هيواد دجنگ په لمبو سوزي کليوال يوبل ته وکتل بيا يې روف ته سترگې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

نيغې کړې روف ټولو ته وکتل سر يې وښوراو:_کلی ښار شويو دتورې سړی پکې پاتې نشو.روف جدي شو :څه شول هغه مشران چې شملې به يې نيغې وې ، دشملو نه به يې دښمن په ويره کې و،هغه پښتانه ، هغه افغانان چې سر به يې له تنې سره ښه ښکاريد ل؟روف دروند دروند سر ته حرکت ورکړ:يوهم نه دی پاتې ،دچا سرونه دياغيانو په چړو پريک شول ،دچا سينه دپردو په راکټو سوري شول ،دچا ميرمنې بې عزته شوې ،دچا لونې او ځامن .زموږ دهيواد دبجيانودزده کړې ځايونه وسوزول شول ، زموږ روغتونونه ويجاړ شول ،زموږ دناستې په ځايو کې اورو نه بل کړل شول ، څه سړي مو ووژل شول ،څه هيوادپريښودو پرد هيوادو ته لاړل .. روف ناستو سړو ته سترګې واړه ولې موټی يې پورته کړ: ځوانان ، سپين ږيرې ، ښځې ، ماشومان خارج هيوادو ته دتک په خت کې څه ځناورو وخوړل او څه په سمندر کې غرق شول پاتې شول څو لا شي لغړې کسان. روف دخفګان په حال نفس وويست خلکو دروف خبرو ته سر خوزاو. خو ځينې کسان و چې ډاريدل سرونه يې ځمکې خوا ته ځوړند و :دا ټول دياغيانو له لاسه شوي دي ياغيان له پردو پيسې اخلې افغانان وژني .دروف سترګې له قهره چورليدې _ څه په کارده ؟ که داسې ورته کينو لکه دقرباني پسه چې موږ ته دحلالول نوبت ورسيږي او له تيغه مو تير کړي په کراره به دافغان نوم ورک شي.دافغنستان نوم به په نقشه کې نه وي .روف دهيجان په څپو کې و څو شيبې يې په چپه خوله کليوالو ته کتل همدا وخت سيد عمر دملنګ سره وبړنکيده._ هلکه ! روف ربښتيا وايې.له ياغيانو نه خو موږ زيات يوو چې بيل ، شاخې ورپسې پورته کړو يوبه هم ونه کوړئ دملنګ تندی تروش شو _ سيد عمره ! ياغيانو ته پاکستان توپک ورکوي ، پيسې هم ورکوي ،نه کورې ! جوماتونه شاړ شول .ټول ملايان پاکستان ته لاړل . ملنګ زياته کړه_ تا دکوم ملا په سر سپين لنګوټی ليدلی دی؟دټولو په سرو تور لنګوټي تاو دي دا په څه مانا؟دا په دې مانا چې دهغو سرونه دبل چا په امر حرکت کوي . ، زړونه يې ورته تورکړي ،د [ديوبند ملايانو ] ورته دجنت سندونه په جيب کې اچولي دي داسې ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو گام د سولې پر خوا

وایې [افغانستان ته دجنګ لپاره لاړ شئ له یو افغان مو مړ کړ یوه حوره به مو په نصیب شي او دوه مو مړه کړل دوه به مو په نصیب شي] نو ځکه دجنت دحورو په تمعه ځان وژنه کوي نور انسا نا ن هم وژني .ملنګ دوام ورکړ:خو چیرې دی عقل ؟ ملا دخپلو عینکو نه جهان ته کوري هغو دخپلو ماغزونه کار نه اخلي په سترګو پټو روان دي .ملنګ اهسته وخندل: چیرې به په ګړنګ کې ولیدلي وي نه به جنت وکوري نه به حوره .سید عمر وویل: رښتیا همداسې ده.دا دپیسو خاوندان یاغیانو نه دتوپک پشان کار اخلي دشتمنو هیواد په خپل منځي سیالیو کې جنګ یې زموږ هیواد ته را وړی دی هغوی چې کوم نوی سلا جوړ کړي بیا زموږ په خاوره کې ازمایې. دسید عمر او ملنګ خبرې دوام درلودې چې دروف غږ واوریدل شو : نوڅه په کار ده؟ همداسې جینکه خوله ورته کینی؟یا موټې سره پورته کوی ؟دیاغیانو خولې ماتوی؟، دهغو لاسونه لنډوی،،پښې یې ورته شله وی؟تر څو زموږ په خاروه پل کینږدي تر څو خپل چټل لاسونه زموږ په ماشومانو وبوډاکانو ، ښځو او سړو پورته نه کړي .په خلکو کې شور پیدا شو خوزیدل په خپلو کې یې خبرې کولې ـ هلته یې ښوونځې وسوزاو، هلته یې یوه ښځه په ونه وځړوله، هغه بل کلي کې یې دښځې غوږونه پریک کړل ، په بازار کې بمونه چوي ،خلک مړه کړي ،رښتیا چې دتورو زړو خاوندان دي .چاره یې په کارده چې ټول افغانان پسې پورته شي. دتازه ګل اندامو نه ولرزیدل لږ پشا شو په څیره کې یې تغیر راغی له وچې مړی یې لیاړې تیرې کړې وویل:له یاغیانو سره دچا زور برابر دي ؟هغوی خو لکه غله داړې کوي ناڅابه راپیدا شي دخلکو په کورو چپاو کوي څوک مړه کړې وتښتي تر څو چې دحکومت سربازان رسیږي دوی لکه دپیرانو بچیانو پشان ورک شي. دتازه ګل خبرې ته سلیم سروښوراوهغه چې لاس په خیرلې شوي سر کش کړ وویل: په بر کلي کې همدا سې پیښه وشوه.چنار ګل په جومات کې ویلي و[له حکومت نه به توپک واخلو په کلي کې به پوسته جوړه کړو تر څو چې دکلي دخلکو مال او سرو ساتو] ملا په همغه جومات کې ورته سترګې برکې کړې له څیرې نه یې معلومیده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو گام د سولې پر خوا

ملا په چنار گل په قهر دی یوه شپه نه بله شپه یاغیان راغلل چنارگل یې له ځانه سره یوړو لا معلوم نه دی چې چیرې به یې وړي وي خدای خبر چې مړ به وي او یابه په کومه ونه کې یې ځوړند کړي وي .فتح په خبرو کې ولوید هغه چې دگریوان ټنۍ وتړله دشهنواز په او:ږه یې لاس کیښود غږ یې پورته شو: واورئ ! زما یوه خبره واورئ ! بیا خپل تصمیم ونیسئ .دا یاغیان چې دي دوۍ داسې کسان دي لکه چې نه پلار لري او نه مور او نه له خپل کور سره دیو نغري تر خوا لوی شوي دي ،فتح دخلکو په منځ کې په دواړو پښو ودرید دوام یې ورکړ: ما په خپلو سترگو لیدلي لکه چې دیو دین او مزهب پیروان نه وي یا لکه چې دنړۍ یو قانون هم نه مني. فتح زیاته کړه : یو ورځ ما په پټي کې شوتله ریبدله چا زماپه باب څه ورته ویلي و چې فتح دولت ته جاسوسي کوي ها! څومره ظالمان !په ولاکه لیوه چې ځناور ده که داسې وکړي !دوه کسان وو نه سوال نه ځواب له گریوانه یې ونیولم په همغه شوتل پټي کې یې څملولم. وهه_ وهه لکه څوک چې دچا هندواني پټې کړې او خاوند یې پرې راشي زه وایم څځه خبره ده دوۍ و ارونه کوي .فتح خپل کمسس له تنه وویست : وکورئ دا داغونه .په هر داْغ به یې کوته ایښوده تر اوسه لا ټپونه یې جوړ نه دي فتح پوزه په دوه کوتو سوړ کړ بیا یې دکمیس په لمن پاک کړ خلکو یو بل ته حیران _ حیران کتل څوک لرزیده څوک په جرات ناست و فتح خپلې خبرې اوږدې کړې :یاره څه تاسو ته ووایم.وروسته له ډیرو وهلو کش گیر نه راته وایې مخکې شه . په ټیل وهلو ټیلوهلو یې دسیند غاړې ته یوړم.اول ي راته جیبونه ولټول دغریب سړي په جیب کې څه وي ؟ څو دانې ملخان چې شاروته مې نیولي و خو چې ملخ یې زما له جیب نه وویست پیسې یې لاس ته رانه غله یوه جانانه سپیړ یې پر مخ راکړه.فتح مسکی شو خو ژر یې شونډې سره نزدې کړې دخفگان څپه پرې راغله له ځانه سره یې ویل: ما ویل چې دا خو ربنتیا دځناورو پشا دي بیا به مې ویل : دوۍ نه دي ملامت چا چې ددوۍ تربیه کړي دي هغوۍ ملامت دي بې شعوره ،نالوستي کسان همداسې وي دبل چا په خبرو ژر غولیږي.او ځان په

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو گام د سولې پر خوا

پیسوخرڅوي . ناستو خلکو به ویل : ډیر ظلم پرې شوی دی خدای دڅوک ددوی په لاس نه ورکوي .فتح شا وخوا وکتل :لنډه به یې کړم_ زه مخکې او دوې راپسې په سیند ننوتو.نږدې و چې په سیند ډوب شوای وم.دوی ته خو کودر معلوم و زه یې بې کودره په سیند ننویستم. دنامه نه پورته اوبه وې داوبو څپو پسې واخستم.کوږ شوم ،سم شوم،په ډیر مشکل له سیند دنه تیر شوم بیا مزل مو په ډاک شو ډآک له اغزو او بې کاره بوټو ډک و، شکې زیاتې وې چې به مې پښه مخکې واچولو شا ته به راغلم.دډاک مزل مې په مشکل وواهه،څومره وږی شوم؟ژبه مې له تندې نه خوزیده.دپښو دپورته کولو توان راکې نه و. دوی به څه خوړل ماته یې نه راکول .لکه پسه چې دقرباني ځان ته وړي داسې یې وړلم. هغه ځای ته ورسیدو چې ددوی مشر ناست و یو څنور ملا و چې ددې سیمې ټول واک یې په لاس کې و زه چې ورسیدم دا وخت مشر ملا په یوې ښځې فتوه صادره کړې وه چې دا ښځه دنامحرم [ دخور دمیړه ] سره په موټر سیکل سپره وه _ نوځکه دلښتو لاندې وه وهله یې ښځې په ژړل خو دوی به ورته خندل .همدا به یې ورته ویل[ په تا اسلام تطبیقوو] دا ښځه یې دومر ووهله چې بې هوشه شوه په ځمکه ولویده . مشر یاغي دلاس اشاره وکړه یانې بس ده. دمشر یاغي ډډ غږ پورته شو :هغه بله خره راولی!لیده مې چې یوه ښځه یې په توره پرده کې دخلکو په مخکې ودروله دمشر یاغي غږ واوریدل شو :داهغه ښځه ده چې پلار یې یو چا ته په نګاح کړې وه خو دې قبوله نه کړه وتښتیده په دې دسنګسار فتوه شوې ده. مشر یاغي امر وکړه : په خند ک کې یې ودروله دتیږو باران یې پرې وکړ فتح په لوړ اواز وویل : ای خلکو ! ماویل زړه به مې وچوږي کله چې په دوی په ښځې تیږي وارول ما به مخ بلې خاته واړوله ځانه سره به مې ویل _[ ای دانسانانو ربه ! دا څه ځناور د دانسان په شکل پیدا کړې دي .جسمنا انسان کړنه یې دلیوانو] په هر وار به مې مخ بلې خواته واړولو څۀ به مې کړی وای چاره نه وه کنې ما به هلته ددې ظالمانو ستونی پریک کړی وای خو زو ر راکې نه و چې دا وحشت مې په سترګو ولید ما ویل داسې کړنه به چا په نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې نه وي کړي په هيڅ قانون کې په داسې حکم نه وي شوي چې بې له محاکمې د څوک سنگسار شي. صحرايې محاکمه ياني دوحشي انسانانو قتل گاه.ښځه دتيږو او سپيرو خاورو لا ندې شوه څړيکو ياغيان ترې تاويدل چا به خندل ، چابه دړيږې تارونه کښول .څنگه مې ځان ريږديده او څنگه ويريدم.مشر ياغي چې يو جام اوبه په سرواړول شونډې يې دلاس په موټي پاکې کړې بيا دښي لاس په ورغوي ږيره موټی کړه نور و ته په سرو او قاتلو سترگو وکتل لکه چې کومه جکړه يې فتح کړې وي ، لکه څوک چې دهيواد په باتورانو کې راشي.، لکه څوک چې ميړنی وي .داسې به يې اوږې پورته اچولې کشران ياغيان به ترې چاپيرو لکه څوک چې خپل پير ته په کونډ و شي.ددوی په وجود کې دخوښۍ څپې وې خو زما په وجود کې داور لمبې فتح شاوخوا خلکو ته وکتل دا وخت يې سترگې له اوښکو ډنډې وې خوله يې بنده شوه لږ ځنډ چپ پاتې شو خو چې اوښکې دلاس په ورغوي پاکې کړې دوام يې ورکو:ـ ياره ! له انسان نه مې کركه راغله.ما ويل چې انسان خو ددې لپاره پيدا ده چې کار وکړي طبيعت په ټولنه بدله کړي دنور انسانانو لپاره انساني ژوند جوړ کړي ، نه دا چې ديوې بې گناه ښځې اندامونه يه تيږو ميده کا.زه لا دې سوچو نه نه وم خلاص چې مې ليده پنځه ياغيان ديو چا تر شا روان و کله به يې په کنداغ وهلو كله به يې په لغتو.هغه ځوان به په ځمکه ولويد بيا پورته شو په يو ځای کې دا ځوان ولويد پنځو واړو پرې وارونه کول په خاورو ، گردو پټ و مشر ياغي ته يې ودرولو ښکاره شو چې دا ځوان سر بازو عسكري پطلون يې په تن و خو جمپر يې په همغه اول کې تر ې ويستلی و دچمپر لاندې خمتايې کميس يې څيرې څيرې و په وينو ككړ ، دوهلو ښنه دغو نه يې په بدن کې معلوميده. ښه مې ليده چې دپنځه واړو ياغيانو لنگوټې تورې څمې يې په څټ سرونه غزولې و.څه خيرينه ږيره ! څه بدې څيرې !هو دقاتلانو څيرې همداسې وي خو چې سرباز يې دمشر يا غي مخې ته ودروامشر ورته وکتل لکه ليوه چې دپسه خوړو ته شخوند وهي .او غاښونه سره وسولاوي ،بريتونه يې وخوزيږي .دمشر يا غي بريتونه کاږه واږه شول په

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو ګام د سولې پر خوا

سترګو کې یې دغضب ځپې وخوزیدې سرباز ته نزدې ورغی پرمخ یې یوه سپیړه ورکړه سر باز څوکامه شا ته شو بیا په دواړو پښو ودرید دسر باز په شونډو کې مروره مسکا وه دروند دورند سرته یې حرکت ورکړ هغه چې مشر یاغي ته نزدې شو دنر زوی یوه جانانه لغته دمشر په خوله ورکړه مشر په ځمکه ولوید همدلته و چې دفتح خوله له خندا ډکه شوه لکه څوک چې دقا ضي په محاکمه کې خپل ځان ته وخاندي مشر یاغي داسې تور شو ، سور شو لکه غویه چې مچۍ په کوناټي وچیچي او غویه لکۍ پورته کړي په قرتکو شي. مشر یاغي همداسې په قرتکو شو دتوپک دمیل دپاکولو سیخ یې واخست سرباز ته یې تاو کړ وهي یې سرباز به ویل[ عدالت به تاسو محاکمه کړي خلک به تاسو ونه بښي ] بیا به یې په سرباز حمله وکړپه سوکانو به یې واهه همدا وخت و چې سرباز دیاغي ملا ړیرې ته لاس واچولو ړیره یې په موټي کې ونیوه کش یې کړدسر باز په موټي کې دملا مشر ړیره پا تې شودهغه سپیره مخ ټولو ولیدنور یاغیانو له ځانه سره خندل چا څه ویل او چا بل څه خو دمشر له ډاره یې غږ نه پورته کیدسرباز په داسې حال کې دیا غي ړیره یې په موټي کې نیولی و ولاړو کسانو ته یې وښوده دنر زوی سرباز به همدا ویل[ وکورئ ! دا پنجابی چې دافغانانو په وینو یې لاسو نه سره دي او تاسو غولان دهغه دامر لاندې خپلو ورونه وژنۍ خپلې خویندې بې پته کوۍ ،خپل هیواد ورانوۍ ،سر با ز په وینو لړل شوی کمیس تولوته وښودو ویل یې:دا دکوم جرم قصور دی ؟چې زما په وینو زما دتن جامو سور رنګ اخستی ؟ سرباز په جرات خپل غږ ټولو ته ورساو :_ دوطن خدمت ګناه ده؟ دهیواد دابادۍ لپاره توپک اوړې ته اچول جرم ده؟په ډاګه یې وویل :

زه سربازددې وطن یم زه بچی ددې وطن
زما وینه د وطن ده زما مینه د وطن

مشر یاغي په خجالتو سترګو کتل ددې لپاره چې خپل ځان ته برات ورکړي امر یې وکړ :په تار یې حلال کړئ فتح سروخوزاو وویل : په یو کې نارینتوب نه و چې دمشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر یې له تنې جدا کړی وای په ډاکه یې ورته ویلي وای [ته افغان نه یې ته پنجابی یې غواړې پر موږ خپل افغانان مړه کړې ]فتح ناسو کسانو ته سترګې نیغې کړې :څوک چې دچا ډوډۍ خورشي دهغه سترګې ټیټې وي.کورئ ! سپی چې دکوروالا په ډوډۍ کیدۀ مړه وي څنګه دخپل دخیښتن پښو لاندې ارغړي بې غیرت مزدور همداسې وبولئ هغه وویل: ما کتل چې سرباز یې په خړ ځمکه څملاودموچې په تار یې حلال کړ. دسرباز له خولې داْغړ پورته کیده [بې هیمتو ، دپردو مزدورانو! خلک به تا سو ونه بښي،عدالت به تاسو محاکمه کړي ، زه په خلکو باور لرم چې زما انتقام به له تاسو واخلي ] له داسې ویلو سره یې سترګې پټې شوې خوله یې وازه پاتې وه لکه چې تر اخره یې همدا ویل[خلک به زما انتقام له تاسو واخلي] دسر باز یو لاس په مخ پاتې شو بل لاس یې په خاورو کې په داسې حال کې و لکه څوک چې دښمن پسې ډبره پورته کوي او یا خاوره موټی کړي ددښمن په سترګو کې یې واچوي .غاړه یې دقبلې په خوا کړه شوه نور یې پښې سستې شوې په ځمکه یې ارام وکړ هم هلته مې دیو چا اواز تر غوږو شو [لکه چې ختني به ومخ یې دقبلې خوا ته واړو.] مشر یاغي وغمبیده :څۀ جنتي ده ؟ددې حکومت سر بازان کله جنت ته ځي!جنت خو زموږځای دی چې جهاد کوو.هر چا توپک اوږې ته کړه دهغه کمره تر خوا کیناستل چې ده به نور یاغیانو ته دنده سپارله مشر یاغي چې کله یوه پښه په بله واړه وله : ها ! چیرې فدایان ؟ څلور تنه ور مخکې کړل شول فتح چې په مخکې یې سوروالی لیده کیده وویل: ښه مې لیده ! ددولس یا شپاړسو کالو په عمر به وخړې خولې ، خړ واسکټونه یې په تن و او دواسکت لاندې یې انفجاري واسکت پټ کړی و دانفجار سره ټنۍ یې په مت ورته پلستر کړ بیا یې لستوڼی پرې کش کړورته یې وویل[ کله چې هدف ته ورسیدئ سره ټنۍ ته فشاروکړئ انفجاري مواد به دښمن [کافر] ووژني تاسو به سلامت ولاړ یې ] دڅلورواړو څیرې بل ډول شوې وې دا چې دجنت په تمه ځان وژنې ته اماده کړل شوي و خو معلومیده چې ژامې یې ګړپیدې . ټول بدن یې په لرزه و ژر ژر به یې لیاړې له وچې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو گام د سولې پر خوا

مرۍ تیره ولې، خولې یې وچې وې ، رنګونه یې تښتیدلي . مشر یاغي څلور واړه ښکل کړل بیا یې پړملا وډباو: ځئ! ددنیا له غمو به بې غمه شئ په جنت کې حوري دي. دټولو مومنانو ځای جنت دی .خو څوک چې ددین په لار کې ځان فدا کوي هغه کس اول جنت ته ځي.حورې ، غلمان به یې په خدمت کې وي..زړه مې د: تش او ډک کیده له ځانه سره مې ویل: دا دپردو نوکران ، دا دمزهب ټیکداران ، او دا خرڅ شوي ! څوتنه پاک ماشومان دخلکودوینو بهولو لپاره په شاډپوي ،څنګه دابې شعوره ماشومانو ته دجنت وعدې ورکوې او وینې یې ورته تویوې ؟راته خندا راغله.خو خوله مې په خپل ورغوي پټ کړ: لکه چې دجنت ویش له ده سره وي . په همدې خیالو کې وم چې طاهر په په څټ چکونډي کړم چې څټ مې تاو کړ یو چا راته وخندل مخ یې په تورو ویښتانو پټ و څنې یې په اوږو پرتې وې که ږیره مې ورته نه وای لیدلی دپیغلې کمان مې پرې کاو.ما نه و پیژندلی خو هغه پئیژندلی وم ان دمکتب دوخت ملګری مې و په لسم ټولګې کې په یوه چوکې کیناستو. په شوق به مو سبق ویل دا چې څۀ بلا پرې ولکید چا فریب ورکړماته یې ونه ویل. خو چې دتفریح زنګ ووهل شو دهغه ګلاب بوټې تر خوا کیتاسوتو چې دویالې تر غاړې یې څنې اوږدې کړې وې همدومره یې را ته وویل[زه دڅو ورځو لپاره چیرې ځم زما په کتابو پام لره ] دا یې هم وویل [زما په چوکۍ له ځانه سر بل کس کینه نوې ! ]. دهمدا یې وویل بیا مې ونه لید .هغه وخت کې یې سپین مخ یې دیخن قاق سره ښه ښکاریده.لکه ګلاب چې دسهار په محل دشنه ډنډر سره غاړه هسکه کړې وي دهر چا مینه پرې راشي. دهمدې لپاره مې دطاهر سره مینه وه چې ښکلی و او اخلاق یې ښه و. خوږې خبرې یې کولې .دا اوس چې مې ولید بدرنګه څیره، هغه سپین مخ څومره بدرنګه ښکاریده.چې مې ورته وکتل حیران شوم ما ویل چې اوس نو زما نوبت دحلالولو ده خو چې وې خندل همغه مینه ناکه خندایې وه زه یې اشتباهیې کړم له ځانه سره مې ویل[ دیاغیانو خوله کې خو خندا نه وي دا به څوک وي چې په وچه یې راته وخندل ]په سترګو کې یې مینه وه بیا یې اوږه راکړه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو گام د سولې پر خوا

غېږ کې يې پچق کړم غېږ يې هم خوږ و لکه چې موږ به دمکتب په وخت کې يوبل ته اوږه ورکوله ښه به سره لکيده همغسې راباندې خوږ ولکيد.لا تر اوسه مې نه و پېژندلی .ده راباندې غږ کړ: فتح ! ته له کومه خوا را پيدا شوې ؟په غږ يې نور هم اشتباهي شوم خو څه تغير يې په ْغږکې هم پيدا شوی و.لکه څوک چې په خارو ، دوړو کې ډير وگرځي غږ يې خراب شي بيا هم دده پيژندنې ته ورنزدې کيدم په غوږ کې راته اهسته وويل[ زه طاهر يم .ستا دمکتب ملگری ] په ولا چې اوښکې مې په سترگو کې ډنډې شوې ، ستونی مې ونيول شو ، ما ويل چيغه کړم ،خو له ويرې مې ژړا په ستوني کې خفه کړ ځان مې ټينک کړ چيغه مې له خولې ونه وته. په ټول زور مې طاهر له خپل سينې سره پچق کړ اهسته اهسته لاړوهلته چې يوه ونه وه دهغې لاندې کيناستو دتلو په وخت کې به مې شاوخوا ته کتل چې کوم ياغي مې ونه کوري.خو چې دطاهر سره روان وم په خير دياغيانو له ډلې لري شو و هلته مې له طاهر سره زړه خالي کړ:ته بيا لاړې پسې لاړې دادی اوس مې په دې حال وليدې.دا ولې داسې شو؟ طاهر چې توپک دورانه لاندې کړ چړړيره يې دلاس په کوتو رمنځ کړ خپله کيسه يې داسې بيان کړ: څوک چې دخپل عقل نه کار وا نه خلي دا به يې حال وي لکه زما چې ده.طاهر څټ وکراو دوام يې ورکړ:هو ! عربو چې ويل [عقل دعقال نه اخستل شوی دی او عقال بيا داوښ جلو ته وايې ] ښه يې ويلي .دا څومره ښه خبره ده بايد هر څوک پرې پوه شي .اوښ په همغه غټه تنه دخپل دجلو څوکه نيولی روان دی لار نه غلطه وي .که انسان دخپل دعقل دجلو لاندې حرکت وکړي په سمه لار به روان وي .ما دخپل دعقل نه کار وانه خسته ، دعقل جلو مې ونه نيوه بې لارې لاړم . طاهر په ملامتو سترگو راته وکتل کاش چې مې له تاسره مشوره کړی وای انسان بايد په کارو کې خپل ښه ملگري سره مشوره وکړي . هغه زياته کړه : دماما ځوی مې دخدای ونه ښښي هغه خو مړ شو زه يې په جبه زار کې بند کړم. دطاهر تندی تروش غوندې شو هو! هغه مړ شو. په يو جکړه کې دحکومت سره په ککره يې گولۍ وخوړه مړ شو. زه همغه بې لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

کړی وم راته به يې ويل[ځه چې ځو ورځې جهاد وکړو دجهاد خوند به هم وکورو ،پاکستان، امريکا ، سعودي عرب او نور ستمن هيوادونه هم پيسې ورکوي او هم ډوډۍ .هو ! پخه ډوډۍ په پلستيکو خلطو کې تيار اماده وي پسې به هم پيدا کړو ] زمونږ دکلي ملا ويل[ هر څوک چې له کفر سره جهاد کوي هغه کس بې له ډزاو ډوز نه جنت ته ځي ] خو لنډه يې کړم ماما زوی مې فريب راکړو ورسره لاړم.يو ملا چې هغو ورته قومندان ويل ورته وې پيژندم توپک يې راکړ يوه ډله شوو کله په دې کلي سم شه ډوډۍ په خلکو خوره کله په هغه کلي خلک له مونږ ډير په عذاب کې و يوه مياشت چې مې تيره شوه ږيره اوږده شوه جامې خيرن .ما به ويل چې خدايه دا چيرې ومنځم.په هغمه وخت مې خپله ادي رايادہ شوه.چې جامې په مې په تن خيرن شو راته به يې ومنځه .لاس به مې پورته کړ خپلې مور دژوند اوږوالی مې غوښته. پلار به مې په زړه شو.چې په څه تکليف به يې راته قلمونه ،کتابچې راوړې په ما به تعليم کاو خو تر ټولو به مې وړه خور[مينه] رايادہ شوه مخ به مې اوښکو پوښلی و .پکې راغلی وم چاره نه وه ما چې ددې دروغجنو مسلمانانو کارونه وليدل نه په اسلام برابر و نه په انساني اصولو. طاهر وويل: هی ! څه درته ووايم؟ چې حکومتي سړی به يې په لاس راغی ژوندی به يې له پوسته کړ.هغه به فرياد کاو دوی به ورته خندل . ويل به يې [ دا خو جهاد دی] طاهر دلاس اشاره وکړه: هغه خړه غونډۍ کورې! دډيرو کسانو جسدونه هلته پراته دي .شپه او ورځ ټپوسان پرې ميلې کوي .چې مې دلاس سپک دسترګو له پاسه کيښود ربنتيا لکه دټپوسانو، کارغانو واده چې وي .داسې تاويدل .بيا به يې دبنيادمانو په جسدو غوټې وهلې دطاهراخره خبردا وه:[لار ځارم چې وتښتم خو چاره نشته.]هغه چې خپلې خبرې سرته ورسولې له مانه يې پوښتنه وکړه:څنګه وشو چې ته دلته راغلې ؟تاته خو به چا فريب نه وي درکړي ؟ _ نه! زه يې په زور راوستی يم خپله کيسه مې ورته پيل کړه لامې مې توله کيسه نه وه خلاصه کړې چې دګرس اواز مې تر غوږو شو.دواړه دکمره نه ښکته وغورزيدو. ګردونه پورته شوداسمان مخ نه ښکاريده.ګرد

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

او خاورې دوريځو پشان اسمان ته پورته کيده.بيا مې په غوږو دالوتکې اواز شو پوه شوم چې الوتکې څه کړي وزرونه يې ټپول څو ځله دهمغه ګردو له پاسه تاو شو را تاو شو. لکه چې يې کتل چې نښه يې په ځای لګيدلی که څنګه؟ خو چې مطمين شو چې غونډآری په هدف لګيدلی بيا يې لګۍ تاوه کړه سينه يې پورته ونيوه له سترګو مې پناه شوه زه او طاهر په داسې حال کې چې په خارو ، ګردو پټ ووسترګې مو دلاس په موټې ومښل هغه ځای ته لاړو چې الوتکې نښه ويشتلې و ومې ليده ټول ياغيان ګډ وډ پراته و دچا پښه نه وه دچا لاس د چا سر په تنه کې نه و دچا سينه سورې شوی و. وينې بهيدې اندامونه نه پيژندل کيده. دمشر ياغي نيم مخ په خاورو ککړ پروت و دا چې ږيره يې سرباز ورته په موټې کش کړی و ومې پيژنده.چې دا همغه پنجابی دی چې داسلام په جامه کې زموږ هيواد ته دتخريب لپاره راغلی و او دځان وژنې واسکتونه به يې را وړل.او افغانان به يې پرې وژل.تف مې پرې وکړ بلې خاته لاړم. زه او طاهر جوړه ګرځيدو ديو چا اندام هم روغ نه و ماويل_چې بد ګرځې بد به پرزې .دخلکو ځامن چې دوژل ،له ماشومانو نه دچې پلارونه اخستل ، ميندې چې دپه وير کينول ،دا دی اوس دهغو انتقام درنه واخستل شو. فتح خلکو ته وکتل دوام يې ورکړ: محترمو !هغه چې وايې [خلک به زموږ انتقام له تاسونه واخلي دا خبره روغه وخته] هغه سر باز چې ويلي و[زما انتقام به خلک له تاسو نه واخلي ، عدالت به تاسو محاکمه کړي ] ټيکه وخته.فتح وويل: زه وايم چې ددې ياغيانو مخه په هر مشکل چې وي بايد ونيول شي فتح وويل: دروف کا کا خبره په ځای دی چې ټول خلک دسولې له کاروان سره يو ځای شي ترڅو زموږ هيواد دسولې په هيواد بدل شي. زه او طاهر چې شپه شوه لار بې لار راغلو هغه مې دخپل کور ته وسپاره زه خپل کور ته راغلم. چې په کور ننوتم مور مې ګريوان ته لاس بند کړشکر يې وويسته همدا به يې ويل[ څنګه دې ادم خورو نه خلاص شوې ؟ ژوندی کور ته راغلې ] چې مابنام شو ادې مې يو ديګ حلوا پخه کړه دکلي په ماشومانو يې وويشله. خو جومات ته يې دملا برخه له قصد ته ورنه کړه. فتح

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

شرمناکه وغوندې وخندل په ځای کیناسته. روف ته دخبرو نوبت پاتې شوروف په داسې حال کې چې ځادر يې له اوږو تاو ولاسونه يې ښورول ویل يې : ای خلکو! دفتح خبرې خو تاسو په خلاصو غوږو واوریدې چې یاغیانو او زموږ په هیواد کې څه جنایتو نه تر سره کړي دي .دا بلا چې زموږ په هیواد کې دخلکو لمنو ته اور اچوي دا به زموږ لمن ته هم ورسیږي .ښه خبردا ده چې دبلا مخه ونیول شي.تور ذهن خاوندان پرینږد و چې خپل تور منکولې زموږ په هیواد کې ښخې کړي هغه پخوانیو خلکو به چې ویل[دبلا مخه په اول کې ونیسئ که بلا کلي ته ننوت ویستل يې سخت دی ] روف سترګې برکې کړې :دا اوس زموږ خلک داورونو په کوڅو کې ژوند کوي خو چې داورونو په کوڅه کې څوک ژوند کوې جامې او تن يې هم سوزي .خو ښـه داده چې په دې لعنتي اور يخې اوبه واچووچې کلي ، ښارونه په امان کې شي. خلک په سوله کې ژوند وکړي . بزګران په ارامه زړه په کروندو کې کار وکړي .انځر کا کا دخلک له منځه پورته شو په داسې حال کې چې ځادر يې په هوا کې ښوراو وې ویل: دا څه ما نا لري؟ څو کسه لغړیان پیدا شوي دخلکو ژوند خرابوي .یو ته وایې ته دحکومت ملیشه يې ،بل ته وایې ته دحکومت جاسوس يې، لاسونه يې له بدن نه جدا کړي بل ته وایې ته ددولت مامور يې ،معلم يې ،سینه يې په کولو سوری کړي ښځه په کور حصاره کړي ، هله چې دا کافره ده،بله ښځه سنګساره کړي هله چې تا په خپل خوښه واده کړی ،دبلې پوزه پریک کړي ، دانځر کاکا دخبرو سره له خولې يې لیاړې شندل کیدې خوله يې له سپین ځک نه ډک و لکه په پسرلي کې چې دسیند څپې په مستۍ راشي،انځر کاکا چې تسبې دواسکټ په جیب ومند ه دزوړتیا په اواز يې خپلو خبرو ته دوام ورکړ: روف کاکا ښه وویل.او ښه زیری موږ ته راوړی دی [سوله] انځر کاکاته خندا راغله : څوک چې دسولې نوم په خوله اخلي هغه خوله ورسره ښه ښکاري .سوله خودهر چا لپاره ښه زیری دی هو! دښه زوند لپاره، دانسانانو تر منځ مینه زیا توي .په لوړ ْغږ يې وویل[: په جنګ لعنت.] انځر کاکا دلاس امسا په هوا کې ښوراو په وړو او روښانو سترګو يې کلیوال له

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظره تیر کړ۔ اول زه دسولې بیرغ پورته کوم.ددې کاروان مخکې به روان یم.دانځر کاکا سر له قهر په لرزه و هغه زیاته کړه: ا څه مانا ! څو ګیدړان له ځنګل نه راوتلي په چیغو اونارو خلک ویره وي . ماسره چې دسولې بیرغ وي په هسکه غاړه به دکاروان مخکې روان یم. ټول ځوانان به راپسې راځي انځر کاکا غاړه صافه کړه: په ځوانانو کې په دومره غیرت پاتې وي هغه افغاني غرور به خو ورته دپلار نه په یاد وي کوري به چې یو سپین ږیری بوډا دسولې بیرغ په لاسو وړي نو دا به کوم ځوان وي چې راپسې به رانشي؟ او زما له اواز سره به خپل اواز شریک نه کړي ؟[سوله راولئ په سوله کې ژوند وکړئ له دښمن نه لاس واخلئ ددښمن په لمسون خپل هیواد مه ورانوئ ] انځر کا کا په خندا شو چې ټولو خلکو ورسره وخندل .دانځر کا کا په خبرو ټول امنا وکړوچې دسولې له کاروان سره به یو ځای کیږو په ګډه به دا کاروان هدف ته رسوو. یانې چې په هیواد کې به سوله راولو ، نواب په احساساتو راغلی و ودرید په بریتو یې کوتې تیرې کړې موټی یې پورته کړ وویل: که څوک زموږ دسولې دکاروان مخه نیسي په دې موټې به یې ژامه ماته کړم.که دا داخلي دښمن وي او خارجي . نواب شونډې په موټي پاکړ شعار یې ورکړ: [موږ سوله غوا ړو ، مړ دوي جنګ،مړه دوي هغه کسان چې زموږ هیوادته جنګ کونکي رالیږي . ] ټولودا شعار په یو غږ ورسره بدرکه کړ روف چې دلنکوټې په شمله یې کوتې ووهلې وې ویل: پوه شوم چې افغانان دخپل هیواد او خلکو سره مینه لري بیا تر ټولو کلیوال بزګران، په مینه مینه دخپل دهیواد دابادۍ لپاره لاسونه پورته کوي دښمن ته اجازه نه ورکوي چې په هیواد دورانولو ګزار وکړي .لکه څنګ چې زموږ میړنو نیکانو ، پلارو یرغلګرو ته په سوک خوله ماتونکی ځواب ورکړی او خپله خاوره یې له پردو نه ساتلی دی موږ به هم هغه خاوره دباتورانو په مټو ازاد، اباده ساتو،هغه خاوره چې دښمن په زور او غیر قانونې او غیر حقوقي توکه اخستی اوپرې حکومت کوي دا به خپله وو..پردې هیوادونه دپه دې پوه شي چې افغانان خپله خاوره چا ته نه پریږدي دا جنګ دهمدې په خاطر ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (٦)

معلم صاحب دسولې فعالیتونه په ښوونځی کې پیل کړوهاب ښوونکی په هغه ورځ ښایسته ښکارید ه دهغه تر غاړې سره نکتایې چاپیرو.په سترګو کې یې دخوښی نښې وې لکه څوک چې دیو ښه زیری په اوریدوخوشاله شي.وهاب چې له تورې دریشي سره دښوونځی په انګړ ننوت ښاګردانو ته یې څیره ښه ښکاره شوه.دا ورځ دپخوا پشان نه و په شوندوکې یې مسکا وه دخبرو لحجه یې خوږه او نرمه وه کله چې دښونځی په انګړ کې ولیده شو شاګردان ترې چاپیر شول .وهاب به اول سلام ورکاو او دشاګردانو په سر به یې لاس تیرکړنجیب خپل ملګري ته په غوږ کې وویل:استاد نن خوشاله ده.نجیب مسک شو: شپه به یې خپل میرمنې سره ښه تیره شوي وي دواړو وخندل غاړه یې بلې خوا تاوه ړه چې داستاد بې احترامي ونشي. ذاهد سر ته حرکت ورکړ: ځیې وخت میرمنې خپل میړو ته ښې خبرې کوي ذاهد قلم دکوتو په منځ کې ښوراودښونکو سره په اخلاص خبرې ، دمشرانو احترام،دخلکو عزت داسې خبرې چې هر انسان واوري بې تاثره نه وي نجیپ نوبت واخست: مخکې ورځو کې چې په ښونکی دښوونځی په انګړ ننوت لښته به یې په لاس وشاګردانو ته به یې ښوراو.نن یې کتابونه په تخرک کې نیولي . ذاهد وویل: دکتا بو تر خوا یې بل څه هم نیولی دی دا به څه وي ؟نجیب وویل : پوښتنه به ځینې وکړو._ مه یې کوه . ښونکی په قهر نشي.[ذاهد وویل] _ نه .نن یې څیره دقهر نه ده.[نجیپ دوویل] خو چې بې احترامي ونشي په احترام به پوښتنه وکړم[نجیب وویل] نجیب یو کام مخکې شو کتابونه یې دتخرک لاندې ونیول خوله یې خبرو ته جوړ کړخو دا ځل یې څه ونه ویل.شونډې یې سره ومښلې سرې ګلابې شونډو یې دزلمیتوب دوخت نازکې ښکاریدې _ ښونکی صاحب ! دکتا بو تر خوا خودې ٠٠٠ چپ شو.ښونکې ځان ته متوجه شو دتخرک نه یې دسولې پیغام وویست _ نن ستاسو دسبق عنوان سوله ده. شاګردانو یوبل ته وکتل هر یو به دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو ګام د سولې پر خوا

کلمه تکرارویل [سوله] یانې څۀ ؟ په ټولګي کې به يې تشريح کړم دادی کوريځ دوه کوترې په خلاصو وزرو پرواز کوي .شاګرد پوښتنه وکړ_ ښونکی صاحب ! دا کوترې چا رسم کړې دي ؟_ ستا پشان يو شاګرد [ښونکی ځواب ورکړ] هغه زياته کړه _ زده کړه خو دشاګردانو کار دی هر څه خواول شاګردان زده کوي بيا يې نورو ته زده کوي .نقاشي هم يو هنر ده دانسان ماغزه چې په کارو اچول شي هنرونه زده کوي .وهاب کوترې شاګردانو ته وښوده_ ځومره ښايسته وزرونه لري. خومره ښه په ازاده هوا الوزي . دده لپاره يې وزرونه خلاص کړي چې انسانان يې دکوترو له وزرو زده کړي چې والوزيځ دچا په پنجره کې خپل ماغزه بندي ونه سا تي . هو! که څوک خپل ماغزه دچا په پنجره کې بندي کړي هغه کس بيا دبل چا په واک کې وي ځکه چې دهغه ماغزه بندي کړل شوي دي .په خپلواک نه وي او نه ښه فکر کولی شي. وهاب چې قلم شاګردانو ته ښوراو وويل: وکوريځ ! دا جکړه ماران چې جنګونه کوي انسانان وژني ، کورونه سوزوي ، ښوونځی ته اور اچوي ، تمدن په ډبرو وهي.علت يې دادی چې دهغو ماغز بندي کړل شوي دي . په کار يې نه اچوي ځان يې دپردو په لومو کې نښلولی دی او که څوک له قلم نه کار واخلي ښه خبرې ليکلی شي .هغه چې وايې [ قلم دلاس ژبه ده ] ځومره ښه خبره يې کړی دکوترو خلاص وزرونه تاسو ته ښيې چې ماغزو ته مو پرواز ورکړيځ، والوزيځ،دنيا وکوريځ، ازاده هوا واخليځ ،يانې دا چې په سوله کې ژوند وکړيځ .وهاب وويل: راځيځ نورې خبرې به په ټولګېي کې وکړو.وهاب په قدم وهلو دټولګي په لور روان شو شاګردان پسې تلو وهاب چې په پلي سرګ تيريده دګلانو خوښبوی يې ماغزه تازه کړ.دسرک دواړو خواته شنه،سره، زيړ ګلانو ځنې اوړدې کړې وې ګلانو په ښوونځی کې عطرونه پاشل دښوونځی انګړ ته يې ښايست ورکړی و وهاب په دواړ و پښو ودريد : وکوريځ ! ځومره چې ګلان کينويځ ځای ورسره ښايسته ښکاري،انسان ورسره ښايسته ښکاري ، ټولنه ورسره ښايسته شي.که څوک اغزي کري اول يې په خپلو پښو ننوزي .زخمي يې کړې ، ټولنه بدرنګه کړيځ انسان هم زخمي کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

او ټولنه بدرنګه شي. په داسې حال کې چې دوهاب په خوله کې خندا و وويل: سوله هغه ګل دی چې انسانانو ته ښه ژوند ښيي سوله هغه ګل دی چې ميړنې يې په ميړانه ياده وي ، سوله هغه ګل ده چې پيغلې يې په وربل او ځوانان يې په شمله ټمبي .جنګ هغه اغزی دی چې دانسانانو زړونه سوری کوي له داسې خبرو سره وهاب ښوونکی په ټولګي ننوت.دتورې تختې په خوا کې يې دسولې پيغام وځړاو. وهاب په جکه غاړه شاګردانو ته وکتل ـ وپوهيدې ! ؟ دنن سبق مو سوله ده. اول بايد سوله مانا کړو او وپوهيږو چې سوله يانې څه ؟ او بيا دسولې په ضد باندې خبرې وکړو هغه زياته کړ: تاسو خو پوهيږي چې په نړۍ کې چې کوم شيان تر سترګو کيږ ي ورته ماده وايې.دا ماده په خپل منځ کې تضاد لري دسولې ضد جنګ دی دجنګ نتيجه ورانول ، وژل ، نابودول د ی جنګ دجګړه مارنوکاردی چې په دې کار يې په زرهاو خلک ووژل يا غيان نه يوازې جسما خلک وژني بلکه روحا يې هم وژني ځکه هغه ژوندي کسان چې پاتې دي دا فاجع ويني روحا متا ثر ه کيږ ي.دخپلې عقيدې نه هم خفه وي ځکه چې ددې عقيدې خاوندان چې په جنايت لاس پورې کوي دا عقيده ورته سپکه ښکاري. هر چاته سوال پيدا شي چې ولې دې عقيدې ونشواى کولی انسانان مهارکړي ؟هره عقيده دهمدې لپاره په انسانانو کې سر وچت کړی چې انسانان مهار او ټولنه اصلاح کړي خو چې څوک دخپلې عقيدې په مقابل کې سرګشي کوي جنايت زيږه وي هغه نور انسانان چې ددې عقيدې تابع وي تر ې مخ اړه وي . ښونکي په ډاګه وويل: دا جنايت کاران به دروح او انسانانو قاتلان او دښمنان وي .دسولې غوښتونکو او جنګ غوښتونکو تر منځ ډير فرق شته که موږ په يو چا محص لاس پورته کړو نو نارامه او شرمنده به اووسو .خو ياغيان چې وژنه ، زور ، ظلمونه کوي له دې کارونه دوی خپل روح خوشاله ساتي ددې کړو نه دياغيانو او دپيسو خاوندانو دليل دادی چې دخپلو دپيسو نه دفاع وکړي . او نور پليت کسان دځان غلامان کړي . دځان دسا تلو لپاره يې وساتي .سرور چې دماغ يې ښه کار کولو ، ټولنه يې ښه تحليلولی شو وويل: صاحبه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

دا چې دپيسو خاوندان خلک وژني او روح يې خپل حکم لاندې را ولي دا ددوی دژوند دساتنې تقاضا نه ده بلکه ددوی مال دا تقاضا لري. وهاب وويل: رښتيا ده که تاسو پوه شی !دا عملونه چې دوی يې کوي ځومره له شرمه ډک او پليت دي .هغه چې موږ يې دسولې لپاره کوو ځومره ښه او عالي کار دی دا به ياغيانو ته اخر کې معلوم شي چې موږ دځومره ښايست او ښه کار پسې روان يوو. وهاب دټولګي له يو سرنه لابل ته په قدم قدم تلو زياته يې کړه: ژوند دهر انسان حق دی هيچا ته اجازه نشته چې دبل چا ژوند تحديد کړي او ياې ترې واخلي څه په کار ده؟ [چپتيا] دځو شيبو چپتيا وروسته وهاب ددې سوال ځواب په خپله وويل: دخلکو يوالی ، وحدت ، اتفاق . دهيواد نه دفاع،دانسان ژوند او حق ته احترام. ميرزاګل دخپل دځنګ ملګري سره وبرګيده په داسې حال کې چې اوازيې نورو کسانو نه اوريده وويل: استاد ډير پوهه انسان دی .لکه چې چيرې يې دفلسفې درس لوستې وي داسې تحليل عادي او ساده کسان نشي کولی .ياغيان خو بيخي پرې نه پوهيږي ..عجب وويل: رښتيا دوويل ياغيان يوازې دخپلو عينکو په اندازه ليدنه کوي .هغوی نړۍ په پراخو او روښانو سترګو نشي ليدی .همدا دليل دی چې جهان بينې يې غير علمي ده دچا چې جهانبيني غير علمي وي هغوی دپردو په لمسون کار کوي دخپلو ماغزونه کار نه اخلي . ژر دبل چا په لمن کې ځان اچوي دهغو نوکر او مزدور شي.بيانو جنايت کوي ،ځان وژنه او انسان وژنه يې کسب شي ځکه چې هغه خپل وجدان خرڅ کړی وي . دعجب او ميرزا ګل خبرې لا خلاصې نه وې چې دوهاب اواز پورته شو: اتحاد دی چې سمون منځ ته راوړي انسان ته قوت ورکوي دقوت له کبله حرکت پيدا شي هغه حرکت چې په سمه لار ران وي نړۍ اباده ولی شي، انساني ژوند سمبالولی شي اتحاد ته يو زور هم نشي دريدی ، اتحاد غرونه لرزوي ، له اتحاد ته سمندر جوړ شي.ناصر دټولګي له منځه په دواړو پښو نيغ ودريد په داسې حال کې چې ښی لاس يې ښوراو وويل: ښونکی صاحب ! که موږ ټول يوځای شو او لاسونه موتش وي يانې توپک دبل چا په لاس کې وي نوموږ څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولی شو؟ ناصر نور هم مخکې لاړ : وکورئ !یاغیانو ته زموږدهیواد دښمنان [پاکستان ، امریکا، اونور شتمن هیوادونه ] توپک او پیسې ورکوي بیا یې دجنګ لپاره لیږي موږ توپک له چا واخلو؟ وهاب مسک شوپه داسې حال کې چې دواړه لاسونه یې تر شا نیوالي وودټولګې په منځ کې په قدم قدم لاړبیرته په ځای ودرید لاسونه یې خوشي کړل یوه کوته یې نیغه کړه وویل: توپک سوله منځ ته نه راوړي د.توپک نه بل زور هم شته [قلم] وهاب له جیبه قلم وویست وکورئ ! دا قلم و چې توپک یې منځ ته راوړو که قلم نه وای توپک نه جوړیده.نور یې هم اوږده کړه: چې پلار نه وي زوی څنګه پیدا شي؟ ماشوم کوجنی وي پلار عقلمند په قلم کې عقل ده ، په قلم کې پوه نغښتی ،. وهاب په جدي توکه وویل: راځئ چې قلمونه سره پورته کړو .راځي چې دتوپک خولې دځمکې خواته واړووهاب چپ شو شاګردانو ته یې کتل خو چې دتختې پر مخ دقلم تصویر وکښل وویل ـبل شي چې دتوپک نه ډیر قوي ده دانسان ماغزه دي . که انسان خپل ماغزه په کارواچوي دژوند لپاره ښه شیان را منځ ته کولی شي.دجنګ په عوص سوله دانسانو په برخه کیږي.ناصر بل سوال ته پښې اړم کړې : دسولې دښمنان ددولت په منځ کې هم شتون لري خو چې دولت فاسد شو نو سوله به څوک راولي؟وهاب بیا مسکی شو دناصر سوال ته ځواب لټوي دتورې تختې مخې ته لاړ ، راغی : ښه سوال دې وکړ !دا هم دانسآ نانو دماغزو او قلم پورې تړلی دی که انسان له خپلو ماغزو نه کار واخلي او دقلم په ژبه پوه شي فاسد دولت منځ ته نه راځي .وهاب زیاته کړه: خلک دي چې دولت جوړه وي که خلک ښه کسان دولت ته ؛وړاندې کړې بیا نو هغه دولت به په فساد ککړ نه وي،او دیاغیانو ځای به په دولت کې هم نه وي.ښه دولت خلکو ته کار کوي اوسولې ته به کار کوي بیا هم اتحاد په کار ده او پوهه.که دا دواړه سره یوحآی شي هم سوله منځ ته راځي او هم ښه ژوند.نو په کارده چې موږ ټولو دسولې له کاروان سره یو ځای شوچې سوله مو ټولني ته راړو نو روغه ټولنه به جوړه شي.،انسان به له ژوند څخه شکایت نه کوي .ځکه چې سالمه ټولنه سالمه روغتیاده. ناصر خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنې اوړدې کړې :ښونکی صاحب ! ما د داکتر آنورآلحق جبآر خیل په کتاب کې [روغتیا او اسلام] کې لوستي هغه ویلي[هغوی جي کافران دي روغتیا نه لري] دهمدې کتاب په [۳۰] مخکې لیکلي [دروغتیا لپاره پوره اصل اسلام ده] تاسو په دې اړه څه ځواب لرئ ؟ښونکی اول وخندل بیا یې شاګردان له نظره تیر کړ په شاګردانو یې غږوکړ:تاسو دې سوال ته څه ځواب لرئ؟[چپتیا] ښونکي ښی لاس دپطلون په جیب کې وماندهٔ شوندې یې دغاښو په منح کې نیولي وې دټولګي ددوه قطارو په منځ کې یې قدم وواهه خو چې دتورې تختې تر څنګ ودرید په تباشیر یې دتورې تختې مخ سپین کړ وویل: داکتر انور الحق جبار خیل په ادیالیزم کې غرق دی .څوک چې په ادیالیزم کې غرق شي بیا همداسې خبرې کوي ښونکي دوام ورکړ :که چیرې نړۍ دعلمي جهانبیني له نظره مطالعه کړو پوهیدی شو چې ناروغۍبل شی دی او اسلام دخلکو دین او عقیده ده. عقیده دناروغۍ دوا نشي کیدی دروغتیا تعریف خو تاسو ته معلوم ده یانې [ جسمي ، روحي ، او اجتماعي روغتیا ته صحت وایې ] که چیرې دیوانسان زړه سوری وي یا د ځیګر سرطان ولري یا په ملریا، او محرقې باندې اخته وي عقیده او مزهب څه کولی شي؟ ایا دزړه سوری بتده ولی شي؟دسرطان دوا کولی شي؟ دملریا، محرقي، توبرکولوز دوا کولی شي؟ځوآب منفي ده.دآ چې وآیې کآفرآن روغتیآ نه لري په دې نظر چلیپآ وګآږئ .ځکه یې غلط وګڼئ چیرې که دآروپآ آنسآنآن دي آو که دنور غیر مسلمآن هیوآدو آنسآنآن تر ټول ښه صحت لري. دآ چې دآکتر آنور آلحق جبآر خیل ویلي دي [ چې دخوک په غوشه کې نآروغي ، آنتآن شته ] دآ هم بې ځآیه خبره ده آسلآم دین چې دخوک غوښه په مسلمآنآنو منع کړ شوی دی کوم دلیل به وي خو دخوک غوښه له نوروحیوآنآتو غوښوونه آنسآن ته په ګټه ده ځکه چې دنور و حیوآنآتو په غوښه کې[ ۳۰ ] دیرش آمینوآسید شته دخوک غوښه [۳۱] آمینو آسید لري یآنې پروتني مقدآر دخوک په غوښه کې زیآت دی نو ځکه یې غیر مسلمآن خلک ډیر آستعمآلوي چې پروتني موآد پکې ډیر موجود دي . آو آنسآن چآغوي همدآ رنګه په چین

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو ګام د سولې پر خوا

کې دسپو غوښه خوړل کیږي خو یو چیناَیې دسپو دغوښې خوړونه ناَروغه نه شو. زیاَتر ناَروغۍ چې داَنتاَن نه منځ ته راَځي که دروحي اَو اَجتماَعي له کبله داَ ټول په مسلماَن هیواَدو کې زیاَت دي ځکه چې اَکثر مسلماَن هیواَدونه غریب دي ، دفقر سره مخاَمخ دي ، په خپلو کې په جنګ اَخته دي ،که چیرې دمزهب اَو عقیدې له کبله اَنساَن ته روغتیاَ په برخه کیداَی نو ورغتونو ته به حاَجت نه و دواَ ته به ضرورت نه و.مزهبي کساَنو به کف ، چف کاَو ناَروغ به جوړ و ، دتوبرکلوز اَو ملریاَ ناَروغاَن به جوړ و پس ویلی شو چې داَکتر جباَې خیل غلط کړی دی اَو په اَدیاَلیزم کې غرق تللی دی اَدیاَلیزم دناَروغۍ دواَ نه ده . دهر دین اَو مزهب پیرواَن ځاَن ته اَصول لري هغوۍ په خپلو اَصولو عقیده لري .دهغو عقیدې باَید توهین اَو تحدید نشي. ښونکي اَوړد نفس وویست زیاَته هواَیې سړو ته داَخله کړه په نیغو سترګویې کتل لکه ځوک چې په مساَبقه کې بریاَلی شي بیاَ په زړورو سترګو خلکو ته وکوري. وهاَب ښونکي چې دمحمد [ص] نوم دتختې پر مخ ولیکه دواَم یې ورکړ: هغه وخت چې محمد[ص] مدینې ته ورسید له اَنصاَرو ، مهجرو سره یې داَسلاَمي دولت اَصول یو تړون لاَس لیک کړ په دې اَصول کې ویل شوي [تاَسو دبل چاَ دین مه تخریبوئ ، تاَسو دیهودو دین اَو ماَل وساَتئ پرې حملې مه کوئ ] وکورئ دمحمد [ص] سیرت نبي ناَمه ] داَنور اَلحق په دې کتاَب[روغتیاَ اَو اَسلاَم] غیر مسلماَن دین اَو مزهب ته توهین کړی دی چې داَ دمحمد [ص] دهداَیت اَو بیاَن نه مخاَلف خبره ده زماَ توصیه داَکتر اَنوراَلحق جباَرخیل ته داَده چې ځاَن له اَدیاَلیزم نه وباَسي ترڅو هر څه په روغو سترګو اَو ورښاَنه ذهن وکوري اَو علمي جهاَن بیني د په غور اَو دقت مطاَلعه کړي تر څو چې اَشتباَه ونه کړي اَو دبل چاَ دین توهین نه کړي په بل ځاَی کې یې ویلي دي [الله چې داکینات پیدا کړي دي دانسان دروغتیا لپاره یې پیدا کړي دي ] زه داکتر انور الحق جبار خیل ته داسې وایم_الله چې دا لیوان ، ځمریان، لړمان، ماران انتانات پیدا کړي دي ایا د ایې انسان دعذاب لپاره پیداکړې که دانسان دګټې لپاره ؟ کله چې دداکتر جبار خیل دا کتاب لولۍ له دې سوال سره مخامخ کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

ځواب به يې پيدا کړئ . او که ځينې کسان دانورالحق له نظرې سره موافق وي هغه دې ددې سوال ځواب هم پيدا کړي .ښونکی له ډير تشريح او خبرو ستومانه شو يوګليلاس اوبه يې په سرواړول . خو چې شونډې يې په موټي پاک کړ وويل: شاګردانو ! کوم سوال لرئ؟[چپتيا] ښونکی دوباره دسولې خبرو ته را وګرځيد _ خبره اوږده شوه او بلې خواته وغزيده.بيا هم وايم چې موږ ټول بايد دسولې له کاروان سره ملګري شوو.تر څو چې زموږ هيواد دسولې هيوادشي. ښونکي کوټې يوځای کړ يوموټی ځينې جوړ شو : يو اتحاد دکار دانجام لپاره دانسانانو يوالی ښونکي دتختې په مخ وليکه[دا [۳] تنه يوازې درې دي او دا اته[۸] يوازې اته تنه دي يانې درې ،درې شو او اته ،اته شو خو که داسره خوا په خوا وليکو [۸۳] تر ې جوړ شو نو ۸۳ د دوه عادتو له يوالي نه منځ ته راغی چې قوت يې له يوا زې ۳او ۸ تنه زيات ده ځکه چې ۳ او ۸ اتحاد وکړ معلومه خبره ده چې ۸۳ تنه غټه قوه شوه چې زيات کار کولی شي . ښونکي لا خپلې خبرې نه وې خلاصې کړي چې دښوونځې دتفريح زنګ ووهل شو دښوونځی په انګړ کې ګڼه کونه جوړه شوه ښونکې وويل : دسولې پيغام دښونځی په ديوال ،وځړه وئ ښونکی اول له ټولګي نه ووت بيا پسې شاګردان روان و. حيدر دسولې پيغام په دواړو لاسو جک نيولی و حيدر چې دښوونځی په انګړ کې ښکاره شو شاګردانو را چاپير کړ _حيدره ! دا څه شی دی ؟ اوهو! کوترې په هوا الوزي.جبار وويل: حيدره ! په دې څۀ کوې؟ _ځړه وم يې [حيدر وويل] زه به درسره مرسته وکړم [جبار وويل]_ وکړه ! له هغې بلې څوکې يې ونيسه!:دادی دلته يې وځړه وه. _ همدا ښه ځای دی ټول شاګردانو ته معلوميږي .ښونکی ستار لښته په لاس نزدی شو _ هلکو څه کوی؟دا دشيطاني پاڼې دلته مه ځړه وئ _ ښونکی صاحب ! وهاب ښونکي وويل دسولې پيغام وځړه وئ چې شاګردان او ښونکي يې وکوري. دا کوري دا دوه کوترې په خلاصو وزرو پروازونه کوي .وايې چې جنګ مه کوئ سوله وکړئ .ستار چې دياغيانو پشان بمبلی ږيره لرله عينې خواص او کړه وړه يې دياغيانو پشان و. دهغه څنې په غوږ، چپه و سترګې به

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

يې دانجنو پشان دشپې له خوا په رنجو توره ولې .په خبرو کې يې زشت او قهر زيات و .خشن برخورد يې درلود لښته يې دجبار داوړو په منځ کې حواله کړ.ستار وويل: وهاب خوتل داسې پاڼې ښونځۍ ته راوړي چې شاګردان پر ې وغلوي.ستار چې قهرجنې سترګې دسولې پيغام خوا ته واړلوې وويل: داڅه ؟ سوله څه؟ چې جنګ وي ښه ده.دا دکفر حکومت چې په جنګ نابود نشي په بل څه نه نابوديږي . ستار هم ډاريده او هم يې خبرې کولې رباني چې هوښيار او بيدار هلک و پلار يې دديموکرات ځوانانو غړی و لفظي حمله يې په ستار وکړ: ښونکی صاحب ! ته په جنګ کې خوشاله يې؟جنګ ښه ده ګه سوله؟ په جنګ کې ښه ژوند کيږي که په سوله کې ؟رباني جدي شو لکه څوک چې له چاسره په جنګ کې وي له قهر ورته شونډې وچيچي . : دا دددې هيواد اولادونه ،پلارو نه او ميندې چې مري ستا زړه پرې نه خوږيږي ؟زباني زياته کړ: هغه څوک چې وجدان نه لري هغه چا چې خپل وجدان خرڅ کړی وي دهغه وجدان به نه خوږيږي .دهغه وجدان به نه شرميږي په ورځځکې ۲۰_ ۳۰ تنه افغانان وژل کيږي ،دوينو سيندونه روانيږي ،دښتو دانسان په وينو سور کفن په تن کړی ، دغرو تيږي دانسان په وينو ککړې دي دکليو باغچې وينو په سر اخستی دښارو په سرکو دانسان دوينو خاپونه له لري ښکاري. ،هر ماشوم دپلار په مړي ژاړي هرښځه دخپل ميړه او زوی په مړي سينه لکوي فرياد کوي ،دهر چا سترګې له ژړا سرې دي ، دهر چا ګريوان اوښکو لوند کړی . خوهغه کسان چې وجدان يې خرڅ کړې وي وايي [پريږده چې جنګ وي ] ياني پريږدۍ چې دانسانانو وينې وبهيږي . ، پيږدي چې ښځې کونډې شي،پريږدي چې له ماشومانو پلارو واخستل شي،پريږدي چې خلک وږي او لوڅ وګرځي او دپيسو خاوندان يې په سپيږو ووهي رباني په ستار ښونکي تيز لاړ خو ستار چې ملامت و سترګې يې ټيټې واچولې دشاګردانو له ډلې بيرون شو خو شاګردانوشعارونه ورکول ـ:موږ سوله غواړومږ دوي هغوی چې جنګ غواړي شاګردانو په چوش او خروش نارې وهلې همدا وخت و چې دمکتب مدير هک پک له خپل دفتر

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

نه ووت په داسې حال کې چې دکورتۍ اوږده څنډه يې په کوناټي وزر واهه دشاګردنو په خوا روان شو دهغه وتلی تندی ، کوپه ملا ،او اوږده غاښونه دخندا وړ و په هغه وخت ک په شاګردانو په ده خندل چې دی دمکتب په انګړ داخل شو دلاس جرمي بکس يې دده دقد په اندازه وپه تندو سترګو يې شاګردانو ته وکتل.: دا دغم تاويز چا دې ښوونځۍ ته راوړی دی ؟اوهو! غم به جوړ کړي.دمدير له خبرو سره لياړې يې له خلې باديدې . لاسونه يې ښورول و ويل يې: همدا ټپوسان په دې تيکې انځور شوی و [کوترې] چې ياغيانو دانجنو ښوونځۍ ته اور واچولو. هغه وويل: غواړئ چې دا مکتب هم په ياغيانو بر باد کړئ؟شاکر چې ددولسم ټولګې ممتاز شاګرد و په عقل پوخ هلک و وويل: مدير صاحب ! وهاب ښونکي دا دسولې پيغام ښوونحۍ ته راوکړی دی هغه وايې [ په سوله کې ښه زده کړه کيږي ،. په سوله کې دخلکو ژوندښه تيريږي .مدير په وتلې تندي لاس کش کړ: ژوند که په سوله کې وي او که په جنګ کې خو تيريږي نه کورئ لمر او سپوږمۍ هم په سوله کې خپله لار وهي او هم په جنګ کې مدير په لوړ اواز په چپړاسي غږ وکړ: ميرګله! وشکوه دا دغم تاويز ،اوس به اورو نه په مکتب کې لمبې پورته کړي ميرګل چپړاسي چې په ږيره لاس تير کړ ځو کامه مخې لاړ خو چې په څټ يې شاګردانو ته وکتل په ځيره کې يې دخفګان نښې معلوميدې دميرګل زړه نه وچې دسولې پيغام وشکوي.ځکه چې دهغه زوی [ګل محمد ] هم دديموکراتانو غړی و ګل محمد به هره شپه خپل پلار ته دسولې په باب خبرې کولې پلار ته به يې زيری ورکاو [که په هيواد کې سوله راشي خلک به ارام ژوند ولري.دشپې له خوا به په ډاډه زړه ويده کيږي ] نو ځکه ميرګل دسولې طرفدار و.خو چې دشاګردانو په خوا يې وکتل شاګردان وپوهيدل چې دميرګل ا کا زړه نه دی چې دا دخلکو لپاره دسولې زيری وشکوي. شاګردانو په لوړ اواز وويل: هيڅوک: حق نه لري چې دا دسولې پيغام وشکوي. دا پيغام دخلکو دزړونو اواز ده.دا هغه ځلانده ستوری ده چې خلک دتيارونه را وباسي.روښانه نړۍ خلکو ته ښکاره کوي ، دولس دزړونه حال په دې پيغام کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

نغښتی دی په غبرو اوازو ویل کیده: موږ سوله غواړو ، نفرت له جنګ نه. شاګر په لوړ ځای کې ودرید وویل وهاب ښونکی ـ دا یو میړنی ښونکی دی ، دا دسولې طرفدار ښونکی دی دده ماغزه دسقرات پشان دي .دا ښونکی سوله غواړي ،ارامي غواړي، رښتیا وایې ،دانصاف او دعدالت طرفدار سړی دی ، رښتیا ویونکی دی .څوک چې رښتیا وایې هغه سوله غوښتونکی وي ، جنګ ګونکي اوجنګ غوښتونکي پردي کسان دي یو دورند اواز پورته شو :راځئ دسولې له کاروان سره یو ځای شوشاګر په طمطراق اواز وویل: هر خوک چې دسولې په خوا نه وي سر به یې پریک وي دشاګر له دې خبرې سره وهاب ښونکی و ړاندې شو ـ ګرانو شاګردانو! استادانو! سوله دچا غاړه نه پریکوي .بلکه دټول خلکو ژوند سلامت غواړي .هغو چې دپردو هیوادو توپک په اوږه کړی دی ودغورزوي .دتوپک په ځای دقلم واخلې زده کړه دوکړي دراکت په ځای بیل ، کولنګ واخلي خپل هیواد داباد کړي هغه پیسې چې یاغیان له پردو نه اخلي خپل سیندونه د په خړو دښتو پورته کړئ غلې دانې دپکې وکري.خپله کیده دپه خپو متو مړه کړي . وهاب ګرد چاپیر سترګې وغړولې دشاکر دانو څیرې یې له سترګو تیرې کړې : زه وایم ای دوطن خلکو! سره یو شئ ،ای هغه کسانو! تاسو چې دبل هیواد توپک په اوږه ایښی دی ورته اور واچوئ خپل هیواد ته راشئ خپلو ورونو سره متې ورکړ ئ خپل وطن اباد کړئ تاسو چې داسلام، دین او مزهب تر نامه لاندې غلوي هغوی کاملا مسلمانان نه دي .دلته دپردو هیواد ولاس شته دین ، اسلام ، مزهب دتوپک پشان استعمالوي ، تاسو پرې وژني ،په خپله سلامت ګرځي .پوهه په کار ده،دسلیم عقل نه کار واخلئ دا چې دوی داسلام ددین نقاب پرمخ اچولی ، دا چې اوږدې ږیرې پر مخ لري ، داچې څنې یې په څټ اړولې په دې چل خلک غلوي.ګڼ اوازپورته شو [مرک په دروغجنو نقاب پوشانو، مرک په هغه چا چې له دین نه بده استفاده کوي او خلک وژني ] دشاګردانو خبرې په خپلو کې رواني وې : ښونکي ښې خبرې وکړې رښتیا وایې که سوله راشي وطن ابادیږي ،ټول خلک به کار کوي ، موږ به ښه په ارامه سبقونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

وایوو.جانان وویل: یاره حنانه ! په ولا چې ته ښه پوه شوی یې،هغه بله ورځ چې له ښونځۍ را تلم ددوکان په مخکې انفجار وشوڅوکسان مړه اوڅو زخمیان شول .په تیزه له هغه ځایه لاړم زړه مې په درزاو دشپې چې مې کتاب لوستو دانفجار غږ به مې تر غوږ شو ماغزه به مې خراب شو کتاب مې پند کړ خوب هم ورک و ټوله شپه مې دافجار له غږ سره تیره شوه.بدن به مې په لرزه شو همدا وخت وچې وهاب ښونکي په مدیر غږ وکړ_ یوازې ته یې چې جنګ غواړې ،ځکه چې په جنګ کې ستا چوکۍ ستا دکوناټو لپاره په ځای ناست ده وهاب زیاته کړه:زه پوهیږم چې په دولت کې جنګ غوښتونکي شته.چې په جنګ کې ځانونه چاغوي .ځکه چې هغوی جنایت کړی دی په جنګ کې خپل ژوند ته دوام ورکوي جنایت کاران پوهیږي که نن په هیواد کې سوله راشي عدالت تطبیق کیږي ښه حکومت به منح ته راشي بیا به جنایت کاران په دار وځړه وي .خلک به له جنایت کارانو ، غلو او انسان وژونکو نه انتقام واخلي دا سرې وینې چې بهیدلي دا بې انتقام نه پاتې کیږي .نو هغه کسان چې دنقاب لاندې په حکومت کې ځای نیولی هغوی جنګ غواړي .، نه سوله. چې یو دهغه جملې نه ته دمکتب مدیر یې.[غلامیر] . ټولو شاګردانو په چیچکو دوهاب ښونکي خبرې بد رکه کړې ناریې یې وهلې [سوله، سوله ،سوله، موږ سوله غواړو دسولې له کاروان سره یو ځای کیږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۷)

واحد  په جلال ابا د کې دنارنجو ونې لاندې خلک را غونډ کړي و.دا دپسرلي وخت ودنارنجو گلانو عطرونه پاشل.دشنو پاڼو په منځ کې دنارنج گل څومره ښایسته ښکاریده لکه پیغله چې شنه جامې په تن کړي او دنرکس گل په پیکي وتمبي دسپین مخ سره دځوانانو په منځ کې ولاړه وي، زلفې یې دسنبل دلښتو پشان په اوږو را ماتې وي. باغ خوشبوۍ په سر اخستی و خلک له جکو شملو سره په جرکه بوخت وو.چا دیاغیانو نه سر ټکاو،چا دحکومت له کمزورۍ نه.رحمان اکا په یاغیانو خوله خلاصه کړه:موږ ته ښه معلوم شو چې دا ددې وطن سړي نه دي .او که ځینې یې دي خو دپردو په غیږ کې لوی شوي د.خپل ایمان یې خرڅ کړی رحمان اکا دوام ورکړ: هغه به پښتون اوافغان نه وي چې ځان په پردوخرڅ کړي دپښتنو جکې شملې خو ټولو نړۍ ته معلوم دی کله چې زموږ دهیواد درې رنگه بیرغ په نړۍ کې په رپا وي نړې افغانان پیژني رحما اکا سر ته حرکت ورکړ:هو ! دنا مه یې څرگند ده [ افغان ، پښتون یانې پهلوان ، زړه ور ، تور زن] بیا چې دیو تورزن زوی دومره بې هیمته شي چې ځان په پیسو خرڅ کړي ژو ند یې نه ده په کار احمد جان درحمان اکا له خبرو سره خپلې خبرې غبرکې کړې :په ولا چې زما دزړه خبرې دوکړې احمد جان دوام ورکړ: که دتاریخ پاڼې را واړول شي ټولې پاڼې یې دافغانانو  تورو ، او میړانې کیسې دي دا چې څنگه له مغلو سره مو موټې وارول ، دا چې څنگه مو  له انگریزانو سر پهلواني کولو  بیا چې غلام حکومت دپاکستان  زموږ په خاوره یې لنگته واړه وله افغانان بیا تر ټولو دپښتون قوم دازادۍ او خپلې خاورې ددفاع لپاره وینې ورکړې خو یرغلگرو ته یې سر ټیټ نه کړو نو دا اوس په ځینو کسانو څه بلا لکیدلی ده ځانونه یې دبل چا غلامان کړي دي خپل هیواد ورانوي ، خپل افغان وژني ،سلیم چې یو ځوان هلک و تعلیم یافته هم و  دخپل دبریتو څوکې سمې کړې درحمان اکا او احمد جان په خبرو کې ولوید : ستا سو خبرې مې په خلاصو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو ګام د سولې پر خوا

غوړو واوریدې خوږې خبرې مو وکړې ښه تاریخ مو مخې ته خلاص کړی و څه به زه هم روښانه کړم : چیرې چې نالوستي کسان ډیر وي یانې په هیواد کې چې دبې سوادۍ کجه لوړه وي یانې دتمن نه خلک لري وي .هلته دین او مزهب خپلې ریشې ډیرې غزوي .دخلکو ذهنونه په مزهبي تارو کې بند پاتې داسې کسان ژر تحریک کیږي .بې له دې نه چې فکر وړي او یا تحلیل وکړي حملې کوي پردي هیوادو نه ، دپسو خاوندان له همدغو مزهبي کسانونه دوسلې په توپک کار اخلي دجنت دپیغام سره یې ځان وژنې ، انسان وژنې ته اړم کړي . سلیم دوام ورکړ: دا چې نن زموږ په هیواد کې جنګ دی دپیسوخاوندانو بیا تر ټولو همسایه هیوادو خپل دګټو په خاطر دا مزهبي کسان په پیسو اخستي زموږ دهیواد تمدن په اور سوزوي . دجکو شملو خاوندان، ښایست مخور افغانان، او پښتانه وژني .سلیم پوره معلومات ورکړ: دا چې نن موږ راغونډ شوي یوو او دنارنجو ګلان موږ ته دسولې زیری راکوي خلک به پریکړه وکړي چې څنګه دجنګ مخه ونیول شي؟ څنګه هغه افغانا ن چې دپردو په غیږ کې پراته دي او دښمن یې زموږ په ضد استعمالوي پوه کړل شي تر څو له جنګ نه لاس واخلي اودسولې له کاروان سره یو ځای شي.دحلقه حلقه خلکو په منځ کې همدا خبرې روانې وې یو سپین ږیری چې دامسا په زور به ګرځیده سترګې یې ښې نه ښکاریدې تردې ځایه یې ځان رسولی و په لوړ اواز یې وویل: انسان وژنه ګناه ده،دسپین ږیری [سرور اکا] شونډې مری مری شوې خبره یې په ستوني کې غوټه شو سرور اکا دجک اندام خاوند و ډیرې پخواني خبرې یې په زړه را یادې وې ببرې وروځې یې لا دځوانۍ دوخت نښې وې.خو دږیرې سپین تارونه یې په نقد دځوانۍ په بیه اخستی و وویل: څنګه دوی ته مسلمانان وویل شي؟یو ماشوم چې دځو ورځو و له لاسو او پښو یې ونیو دوه چیرې یې کړسپین ږیرې دلاس امسا ښوروله همدا یې ویل: تاسو دې ته اسلام وایې؟نه.! انسان ته په سپکه کتل دي ، انساني کرامت تر پښو لاندې کول دي هغه سر وښورا دسپین ږیري توب په جزبه یې وویل: دا کار په شینوارو کې وشو.هو ! دننګرهار په شینوارو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

.سپين ږيری په خبرو کې دمه شو سترړی سترړی نفس يې ويسته خو چې په ږيره يې لاش کش کړ وې ويل: په همدې شينوارو کې لس تنه سپين ږيري په بمو والوزول شول دې ته اسلامې عمل وايې او نوم پرې دجهاد کيږدي .دخلکو خبرې دوام درلود چې واحد ښکاره شو دواحد چې زيږه شتري خوله په سر و تور بريتو نه يې دشونډو له پاسه لکه پسرلي کې چې ځمکه له خپلې کيدې وانښه را وباسي.همدا نن يې ږيره خريلې وه هغه چې په خپل ځای کې ودريد خلکو لاسو نه وپړقول .لکه يو سياسي رهبر ته چې څوک لاسونه وپړقوي او داحترام لپاره ورته پورته شي.ټول ناست خلک په پښو ودريدل واحد په ښار کې دښاريانود اتحادي مشروپه انصاف او عدل کې دښو کسانو په قطار کې يادېده. هغه به دخلکو معاملې په جرکو فيصله کولې .په ښاريانو کې منلی سړی و.ببرې وروځې يې دسترګو له پاسه لکه غشي داسې نيغې وې واحد چې ناست کسان له نظره تيرکړغږ يې پورته شو ـ سوله غاړی که جنګ؟په چپه خوله يې دخلکو ننداره کولو دې ته منتظر و چې خلک څه وايې .نبي کاکا چې تور واسکت يې په تن و له دريم قطار نه پورته شو : په کوم کې چې دانسان نيک مرغی وي خلک هغه غواړي ګڼ اواز پورته شو : [نيک مرغی خو په سوله کي ده ] بيا غبرک اواز واوريدل شو :[سوله غواړ له جنګ نه نفرت کوو] نصير کوته ښوروله ويل: جنګ دياغيانو لپاره ښه ده .ځکه چې هغوی نالوستي کسان دي څوک غل دی او څوک ترياکي .يا به خلک وژني او يابه ماشومان تښتوي .ښوځکه د هغو لپاره جنګ پوره نعمت دی که سوله وي نو ياغيان په بل چا لاس نشي پورته کولی .[چيجکي] تر ډيره يې دوام وکړ.خو چې دواحد غږ دخلکو په منځ کې ولولې جوړې کړې چيتيا حکمفرما شودا وخت کې تندباد لکيده چې دواحد اواز سره به يوځای شو دخلکو په غوږوبه ننوت . واحد په ډاکه وويل: دسولې لپار ه دخلکو يوالی په کار دی ياغيان په دې نه دي را ضي چې سوله راشي.او دياغيانو باداران دا هم نه غواړي .زموږ په هيواد کې سوله وي. اوس سولې وزرونه غوړه ولي خو چې سوله خپل وزرونه په هيواد کې وغوړه وي هيواد ورسره غوړيږي ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو گام د سولې پر خوا

زرغونیږي ، ابادیږ ي،خلک په کیدہ مړیږي ، په متهو کې قوت پیدا کیږي ،بیا دښمن هیوادونه موږ ته په بدو سترگو نشي لیدای .زموږ حق چې چا تر پښو لاندې کړی دمتهو په زوې یې ځینې اخلو. له دې خبرو سره دگل محمد په وجود کې چوش پیدا شو په رکو کې یې وینې ځپې وهلې هو ! دوطن دازادۍ دمینې ځپې . هغه دواړه لاسونه پورته کړ په نځا یې پیل وکړ چې دناستو خلکو په چیچکو ،شپیلاقو بدرکه شو. واحد لا خپلو خبرو ته دوام نه و ورکړی یو سړی پورته شو دهغه لوړ قد ، لاغر اندام ، غتې سترگې ، جزابه ځیره خلکو ولیددهغه خبرو ته تهول په یو غوږو.هغه خال محمد و چې دښار په یوه تنگه کوڅه کې یې دوکان درلود خال محمد کوته ښوراوله ویل یې: _سړی په وطن کې پاتې نشو.چا چې دسولې لپاره خوله وازه کړه خوله یې ماته شوه ،چا چې یو کام دوطن دابادۍ لپاره پوته کړه پښه یې ماته شوه،ښځې کونډې شوې ،ماشومان بې پلاره شول ،دتعلیم ځای داور په لمبو وسوزول شو، ښځې له کوره دوتلو په تور سنگسارې شوې ،دا نوځه غیرت او عزت موږ ته پاتې دی .هغه په لوړ اواز وویل چې سره یوځای نشو او دسولې لپاره کامونه پورته نه کړو بله لار نشته.هغه کسان چې له موږ سره دسولې په کاروان کې برخه اخلي زموږ سینه ورته خلاصه ده.او که څوک دسولې په عوص جنگ کوي زموږ سوک ورته تیارده [چیچکې] غبرک اواز پرته شو [مرک دوي په جنگ غوښتونکو، مرک دوي په هغو چې موږ ته یاغیان دجنگ لپاره لیږي ] دواحد غږ بیا دخلکو په منځ کې پورته شو : همتناک هغه خوک دی چې سوله غواړي .افرین او شاباس په هغه چا چې دخلکو دارام ژوند لپاره مبارزه کوي ، هغه کس په تهولنه کې دیاد وړدی چې دنور دگتهو دساتلو لپاره له ځانه تېریږي ، باتور هغه څوک د ی چې خپل وطن اباده وي،خپلې خاورې ساتنه کوي ، زرغون جنت جنت گلان دهغو په شملو او پیکي چې دانسان کرامت ته احترام کوي .: راځئ ! لاسونه سر یوځای کړو دسولې کاروان پر مخ بوزو ترڅو وطن زرغون شي دیاغیانو او دښمن مخ تور شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو ګام د سولې پر خوا

. . .

واحد هسې ساده سړی نه و هغه تعلیم کړی و خو چې په حکومت کې فساد و ډیر تعلیم یافته کسان وزګار پاتې و.څه به یې کاو دوکانداري .دحکومت په چوکیو کې خو دچارواکو دوستان، خپلوان او اشنایان نیغ ناست وو.پوهیږي یا نه پوهیږي کوټه خو یې ښه رنګ کړی و میز ، چوکۍ یې په منظم اینبي و دمیزو له پاسه سپین کاغذونه یوپر بل پراته ووخو قلم چا پرې نه وکش کړی ،او نه یې دکاغذ مخ تور کړی و،ځکه چې څه یې نه و زده.واحد چې له پوهنځۍ نه فارغ شوی و دا چې دیو بزګر زوی و او په حکومت کې یې کوم نزدې نفر نه پیژندخکه بې کاره پاتې و احدهم متې بډې وهلې دژوند دوام په خاطر یې په ښار کې څه واخله او څه خرخ کا همدا کار یې مخکې اچولی و واحد هم له دیموکراتانو سره یو ځای شوی و.دسولې له کاروان سره یې مرسته کولو. له واحد سره لس تنه و چې غواړي له یاغیانو سره دسولې په باب خبرې وکړي هغوی سولې ته را وبولي. دښار دناحېه مشران [فیص محمد ، انار ګل ، فتح، سهر ګل ، میرمحمد،سید رحیم، حنان،۰۰۰ ] ورسره و دښار نه کلي ته شول دکلي نه په دښته کې ښکاري ،لویه دښته بې اوبو.انارګل ځای په ځای ودرید امسایې په لاس تاو شو._ دا یوه دښته او هغه یو مست سیند او زموږ خلک په جنګ اخته، په نس وږي، دې ته وایې بدبختي هغه چې په ږیره لاس کش کړ جدي شو: هلکه ! کوره وطن له نعمتو ډک ته پکې وږی دپردو توپک په اوږه ،ږیره اوږده کړه ، ګرځه انسان وژنه.، وطن وران کړ،. فیص محمد ورسره خبره تاید کړه_ په وطن چې جهل ، ناپوهي وزرونه وغوړه وي دهغه وطن خلک به له داسې ناخوالو سره مخامخ وي خپل هیوادپه سینه سوری کا دپردي خبره منه فیص محمد زیاته کړ: زموږ دحکومت چار واکي لا تر اوسه نه پوهیږي ..میر محمد خبره واخسته: ښه پوهیږي ، دځان لپاره پوهیږي .په خپلو اولادو په خارج کې تعلیم کوي دنور اولادونه دپاده پیایې. خې روان و دښته یې له پوښو تیره کړه دغره په لمن پورته کیدل .حنان ډیر ستومانه شو دتندي خولې یې په سپیړې پاک

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړ پوښتنه يې وکړه: هلکو ! روان ياست فکر مو وي چې ياغيان په لار ماينونه ښخ کړي نه چې بې ځايه دسولې قرباني شو. رحيم وخندل [ هغه چې وايې نعمت دنه د ی خوړلی شکر وباسې ] موږ به سوله نه وي راوړی پښې به مو له لاسه ورکړې وي . فتح په لاس اشاره وکړ:هغه وينې ؟دهغه کنډونه چې تير شوو هلته په غره کې سورې دي دسوريو په خوا څو ونې خدايې شنه دي دغره له څوکو داوبو دارې همدې ونوته رسيږي .دياغيانو ځاله همدلته ده. دونو مخکې يو ميدان شته ياغيان ځان وژونکي همدلته تربيه کوي . بيا ښارزوته دځان وژنې ، سرې وژنې لپاره ليږي . واحدغږ کړ: ستړي خو نه ياست؟ دهغه ډنډوکې تر خوا لږه دمه شئ بيا به ديا غيانو له مشر سره دسولې خبرو ته ځانونه اماده کړو انار ګل خوله فتح ته خلاصه کړه: هلکه ! اول به ته خبرې پيل کړې ځکه په خبرو کې چالاکه يې . خو پا م لره چې دخبرو په خت کې خولې ته نسوار وانه چوې .بيا يې وخندل : ياره ! ډير کسان مې ليدلي کې يې نسوار وي خبرې کوي لياړې يې دشنو نسوارو سره له خولې بهيږي . دسړي زړه بد شي. سهار کل وويل: ياره انار ګله ! په فتح دڅه کمان وکړ ؟څه دا خوليونی نه دی يا دکو دکلي کوم ساده سړی دی فتح جرکه مار سړی دی کورې به چې ياغيانو ته قناعت ورکړي سولې ته يې وبولي خپل منځي خبرې لا خلاصې نه وې هغه ځای ته ورسيدل چې ونې شنې پاڼې غوړه ولي وې .دونو مخکې ميدانې و ياغاينو دمدرسې هلکانو ته دځان وژنې تربيه ورکوله لس واړه ديوې اوارې تيږ ي له پاسه کينتاستل کوري او تماشا کوي .هلته يو تور رنګه سړی دياغيانو مخې ته ولاړ دی دځان وژنې واسکت يې په لاس خوله يې خوزيږي څه وايې .کله يې په منډه کړي او کله دپروت امر ورکړي .واحد چې ستونی صاف کړ وويل: کورئ دا پاکسانی منصبدار دی ياغيانو ته دځان وژنې او انفجار تربيه ورکوي دا چې مو ويل [ځينې افغانان خرڅ کړل شوي دي رښتيا خبره ده دا چې مو ويل پردې هيوادونه زموږ په هواد کې لاس وهنه کوي په رښتياده . دادی اوس يې په سترګو کورو .واحد په کوته اشاره وکړه: هغه ده کورئ تندی يې لمر ته ځليږي پنجابی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو ګام د سولې پر خوا

.دواحد لا خبرې نه وې خلاصې یو بمبل ړیره سړی را ووت واحد او ملګرو سره یې روغبړ وکړدیاغیانو دمشر ړیره ډیره اوږده وه تورې تسبې یې چې ددوه سو [۲۰۰]دانونه به زیات و په یوتار کې زیل و په غاړه یې ځوړند و. غټه تنه اوله غوښوډک غمبورې یې لرل.لکه لیوه چې دمرداخره په غوښې ځان چاغ کړې وي .یا لکه سپږه چې دچا په کنده کې ځای نیولي وي دانسان په وینو ځان وپړسوي داسې ښکاریده.کیده یې یو لوشت له دنه مخکې تله.په غاړه یې دتومانچې تسمې پرتې وې دوه کسان به له توپک سره دده تر شا روان و.عجب انسان و !یا ورته بنیادم ووایم.دانسان نوم ته خو هر څوک احترام کوي ځکه چې دمحبت او انس نه اخستل شوی دی دانسان کلمه هغه چا ته استعمالیږي چې دبل انسان سره محبت ولري. او له یاغي سره انسان کلمه استعمالول ښه نه ښکاري.یوازې دبنیادم استعمال ورته بس ده.هغه چې خپله ړیره په موټې ونیوه په تندو سترګویې ولاړ کسانو ته وکتل._ تاسو دجهاد لپاره راغلي یاست؟ _ هو! موږدسولې لپاره جهاد کوو.،دانسان دصفا ژوند لپاره. اوتا سو ۰۰۰ نو څه غواړې؟ دیاغیانو مشر چې چابه ورته مولوي صاحب ویل او چابل ورته ملا صاحب .په وتلې کیده یې لاس تیرکړ :هاو! پوه شوم ! دسولې لپاره.دیاغیانو مشر په لاس اشاره وکړ:دهغه کنډو تر شا ستاسو پشان سوله غوښتونکې ډیر پراته دي .هغه په زور زور وخندل _ لکه چې له ژونده په تنګ راغلي یاست که څنګه؟مشر یاغي تند شو_ دکافر حکومت سره دامریکا غلام حکومت سره سوله؟له دوی سره جهاد په کار ده.که غواړې چې جهاد وکړي داده توپک مشر په اوږدو څڼو لاس تیرکړ په څټ یې وغورزول فتح چې خپلې سترګې توپک ته ځیر کړې په کنداغ یې لیکل شوي و[دامریکا مرستې ] فتح بې له ډاره وویل: تاسو خو وایې چې موږ دامریکا سره جهاد کوو خو دا ماشینداره امریکا درکړی دی .یاغي په برکو سترګو وکتل _ چاره چې دهر چا وي ددښمن په کیده یې منده .فتح خبره اوږده کړ: تاسو په چړو جهاد کوی خو موږ یې دسولې په خولې کوو. موږ دانسان دوینو بهولو دریدل غواړو..خو تاسو چې جهاد کوی دانسان وینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهوی.فتح زیاته کړه: موږ انسان ته انساني نړۍ جوړه ووخو تاسو انسانانوته دجنګ نړۍ جوړه وی .یاغي موټی په هوا کې ښوراو له قهر سور او شین ښکاریده هغه چې په څټ وکتل باډیکاردانو یې ماشې ته کوتې وړاندې کړو. خو یاغي ملا موټی خلاص کړ دنه په مانایې کوتې وښورولې دیاغیانو دمشر همدا دقهر علامې وې چې پنچه به یې موټی کړکسانو به یې په دښمن حملې کولې چې موټی په یې ازاد کړ دنه په مانا به ومشر له ځانه سره زوغمبیده _ که له سرونه یې کولۍ تیرې کړم بیا به وایې میلمانه یې ووژل . فتح بیا په خبرو کې ولوید _ دانسان وژنه ګناه ده._ دکافر وژنه روا ده [مشر یاغي وویل] _ تاسو په اسلام کې کم معلومات لرۍ[ فتح وویل] فتح نور هم مخکې لاړ _ تاسو داسلام دپیغمبر هغه پریکړه نه ده لوستی چې ویلې یې و[دیهودو دین او ماله باندې تجاوز مه کوئ بلکه وې ساتئ] فتح واصیح کړ:هرکله چې داسلام پیغمبر مدینې ته ورسید انصار او مهاجر یې را غونډ کړ داسلام دحکومت اول اسلامې اصول ترون یې لاس لیک کړ چې یوه ماده یې همدا دته [دیهودو دین او مال وساتئ] په بله ماده کې ویل شوي[ نامسلمان په زور او جبر اسلام ته مه مجبوره وئ] فتح دوام ورکړ:انسان که دهر دین پیرو وي داسلام په دین کې وژل یې منع ده.یاغي تور ې عینکې سترګو ته کړې ښکاره شو چې په یوه سترګه ړوند دی فتح په کلي کې له خلکواوریدلي و [ څوک چې په یو سترګه ړوند وي هغه بې حیا سړی وي ] دا یاغي ورته سړی و دفتح خبر انارګل به دسر په اشاره تایدولې خو واحد په شونډو کې مسیده.دخبرو نوبت ته تیارو یاغي چپ پاتې شو په فکر لاړ ،څو شیبې یې شونډې خوزولې څه یې له ځانه سره ویل خو چې سترګو ته یې رپ ورکو وویل:_ څه به ووایم! موږ خو جهاد اعلان کړی دی موږ خو خپلواک هم نه لرو .یاغي پاکستاني منصبدار ته اشاره وکړ_ هغه کورئ ! هغه ته دنده ورکړل شوی چې ځان وژونکي وروزي .هغه چې په لاس کې نیولی هغه دځان وژنې واسکت ده دهغه داستعمال چل ورښیې.یاغي زیاته کړه : له ده نه مخکې بل منصبدار دنده تر سره کوله دروزنې په میدان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

امريکاې ، عربي ، پاکستاني ، مشاورين هم ولاړ و ټول دمدرسې هلکانو چې ورته يې دانفجار ښودنه کوله .زه هغه وخت په پاکستان کې وم بې پيلوته الوتکه راغله بمونه يې وغوور زاو يو هم ژوندی پاتې نشو دا دی اوس ددې ځای مسول زه يم او هغه منصبدار هلکان دانتهاري لپاره روزي ياغي زياته کړه : که څوک دسولې لپاره دلته خوله وازه کړي سبا به مړ وي څوک له ډاره څه نشي ويلی ستاسو خبرې پر ما خوږې ولکيدې هغه وويل ـ غرمه ده ډوډۍ به وخورو بيا به خبر ې کوو.

دغرمې ډوډۍ لپاره ټول قومندانان را ټول شوي وودچا ږيره توره ، دچا سپينه ، دچا لنډه ، دچا اوږده دچا ببره وه دهر قومند ان تر شا دوه يادرې ساتونکي روان وو.راکت ، ماشيندارې دهريو په اوږه تا به ويل چې دپاڼي پټ جنګ ته روان دي دواحد په زړه دا خبره وګرځيده[ دا راکت او ماشيندارې دافغانانو دوژلو لپاه ګرځوي .له ماشومانونه پلارونه اخلې له پلارو اومور نه اولادونه. واحد سترګې بلې خاته واړه ولې نفرت يې ځينې وکړ.ډوډۍ په هغه کوټه کې چې دغره په سينه کې جوړه شوې وه دخوړو لپاره تياره وه په کوټه کې پلستيکي سطرنجې اواره وه دواحد ډله په يو خوا دقومنذانانو ډله بلې خواته کيناستل .هريو ته په پلستکې خلطه کې ډوډۍ ورکړل شو غوښه ، کچالو ترکاري او ميوه هم و.دياغيانو دمشر غږ پورته شو :موږ ته همداسې پخه ډوډۍ راځي هغه وړه خندا وکړه:دجنګ په جبهه کې همداسې تياره ډوډۍ راځي .په هر خلطه ليکل شوي و [دامريکا مرسته] مشر يوه خلطه پورته کړه وويل: په دې کې دخرس غوښه ده واحد سر وښوراو.خو دواحد ملګرو يو بل ته سترګه په سترګه شول ياني په اسلام کې خو دخرس غوښه خوړل حرام دی دوی خو ځانوته مسلمانان هم وايې بيا نو دخرس غوښه خوړل ؟مشر دخبرو جلو اوږد کړ: دخرس غوښه په هغه چا خوړل کيږي چې ځان وژني ته تيارېږي ځکه چې قوت پکې ډير ده. هغه وروځې پورته وغورزولې:موږ يې نه خورو.نور نو چپ پاتې شو.لکه څوک چې په کوم شي ملامت وي سترګې ښکته واچوي .په څو شيبو کې ډوډۍ وخوړه شوه.مشر لاس په زنګون کيښود اول يې دواحد

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

ډلې ته وکتل بیایې قوماندانانو ته. هام! دوی راغلي چې سوله وکړو.هغه مسک شو بیا غلی شو.دقوماندانانو څیرې یې له نظره تیرکړ یوه چې ږیره یې سره کړې وه او سترګو ته یې تور رانجه ورکړي و دمخ په کاسه کې یې سترګې کدې وړدې شوې په ځای وښورید هغه چې په کړو سترګو دواحد ملګروته وکتل ماشینداري ته یې لاس تیر کړ خو چې مشر ته یې سترګې واړه لې لاس یې سست شو بدن یې په لرزه شو _ له چاسره سوله؟ دکافرو سره سوله؟ واحد په مشر غږ وکړ:_ داسلامې دحکومت لمړنی اوصل ورته بیان کړه! مشر دروند سر وښوراو _ که هغه تړون رښتیا وي نو صحیح خبره ده بیا یې سور ږیرې ته وویل_ دوی سره هم پوخ منطق شته.سور ږیرې وویل _ دکمونستانو منطق ډیر قوي وي .له دوی سره استدلال کول دسړي ملا ماتوي ځکه چې کمونستان په لړو خبرو سړي ته قناعت ورکوي . واحد غږ کړ_ واوره ! موږ کمونستان نه یو .ته پوهیږ ي چې کمونستي نظام یا حکومت چې تاسو ورته وایې په نړی کې وجود نه لري کمونیزم دچا له دین او مزهب سره کار نه لري هغه تر اوسه دکاغذ پر مخ یو تیوري یا لیکنه ده. په هغه لیکنه کې داسې راغلی دی[ څنګه انسانان په کده کار وکړي او څنګه یې په خپلو منځو کې سره وویشي.] افغانستان چې یو خوار هیواددی دلته نه کمونست شته نه کمونیستي حکومت . هغه مخکې یو دیموکراتیک دولت و [دافغانستان دیموکراتیک جمهوري دولت] دنهضت او ترقي دښمنانو هغه هم په کولو وواهه له منحه یې یوړو. یانې دکمونیزم نوم یې پرې کیښود خلک یې په ضد وپارول په خوا کې هغه کس چې تور بریتونه یې له ږیرې سره یوځای ودهغه مخ یې پټ کړی و په کونډو شو _ موږ له هیچا سره سوله نه کووموږ په جنګ کې ښه یوو چې شهیدان شوو له هر چا به زر جنت ته ځو.واحد په بریتو کې وخندل اوملګرو ته یې وکتل هغه چې دکوک بوتل په سرواړو شوندې یې په لاس پاک کړ _ هغه کوری ! ټول متوجه شول واحد دلاس اشاره وکړه _ هغه خو ټول دمدرسې ماشومان دي پلارو یې ددین زده کړې لپاره لیږلي تاسو یې دتوپ خولې ته برابروی.واحد زیاته کړ: زه چې پوهیږم په افغان حکومت

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو گام د سولې پر خوا

ستاسو زور نه رسيږي واحد بې له ډاره  په جرات خبرې کولې._ هغه مخکې کالو کې خوهم تاسو په هيواد حجوم راوړو هيوادمو لکه هديره داسې کړ دولت چوکات مو له منځ يوړو.دښځو ، نارينه و سره ستاسو بد چلند دټول افغانانو په ماغزو کې پاتې او دا به تل پاتې وي خلک تاسو نه غواړي .څوک چې دخلکو په منځ کې منفور شي هغه په خلکو حکومت نشي کولی .په زور څوک په يو ازاد ملت حکومت نشي کولی واحد دتاريخ پاڼې مخې ته خلاصې کړې دمغلو ، انگرزانو دوخت جکړې اودافغانانو تورې، او مبارزې يې ورته يو په يو وويل. و مغلو هم مخ توري لاړل ، انگريزان هم .اوس  پاکستان دانگريزانو کانې کوي تاسو اوس هم دپاکستان [isi ] په شا ډبولي ياست واحد پلستيکي خلطه په کوتو وينوويل: دا ډوډۍ چې خورئ دا له کومه  راوړل کيږي ؟واحد په بريتو کوتې ووهلې : څوک چې دچا ډوډۍ خور شي بيا دهغه کس غلام وي .دانسان لپاره دغلامۍ نه مرک ښه ده ولې يو انسان ازاده مفکوره  ونه لري؟ ، ولې  يو انسان له خپلو ماغزو کار و انه خلي؟دا چې دبل  تر شا روان يې اخر لغتې خورې.هغه متل ده چې وايې [ داس شاته مه ځه ، دزوره ور مخې ته] تاسو داس تر شا روان ياست.بيا هغه قرتکي  اس چې دبل  چا په وربشو لوی شوی وي .واحد زياته کړه: ښه دادی چې دخپل عقل نه کار واخلئ ، دعقل ازادي  حاصله کړئ،دا ستاسو لپاره يو چانس ده. ګنې دهمدې ْغرو ، ځنګلو، دښتوپه منځ کې به مړ پراته ياست. کارغان به ستاسو غوښې خوري پاکستانی  منصبدار په ستاسو ننداره کوي . واحد دوام ورکړ: بيا چې تاسو وايې چې ژر به جنت ته ځو تاسو خو په خپله په کورو ناست ياست ژوند کوي دا واړه ماشومان غلوئ جنګ ته يې ليږي او دجنت زيری ورته ورکوئ يو قوماندان خو ځان دجنت لپاره مړ نه کړ دخلکو اولادونه  وژ نی واحد سوال وکړ: ايا تاسو جنت  نه غواړئ ؟که په جنت ايمان لرۍ خو نواول تاسو خپل ځانونه جنتيان  کړئ تاسو خو واړه ماشومان  دجنت په وعدو مړه کوئ دا دشرم ځای دی .راځي توپک په ځمکه کيږدي دسولې له کاروان سره يووځای شئ .دواحد له خبرو سره لنډی قوماندان په کونه تاو شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شونډې يې چيچلې.ـ دوی ته چا اجازه ورکړ چې تر دې ځا يه راشي.؟هغه خپله ببره ږيره په موټې کې ونيو پورته شو په داسې حال کې چې په کوټه کې يې قدم واهه دواحد ملګرو ته يې په برکو سترګو کتل ويل يې : زه به تر اخره جهاد کوم،يو کافر چې په افغانستان کې پاتې وې زما توپک به په اوږه وي . ـ سوله وکړئ ها! سوله وکړئ لنډی ملا دکوټې په کونج ګې ودريد ـ ستاسو پشان ډيرو ويلي[سوله وکړئ ] خو هغوی روغ خپل کورو ته نه دي تللي.لنډي ملا خپل مشر ته وکتل ـ هيرد شو!ملا تور به همدا ويل [سوله ښه ده] سبا يې مړی په ځنګل کې وموندل شو.لنډي ملا وويل: ته خپلواک لرې؟ څۀ چې پاکستانی جنرال وايې هغه کوی که نن در باندې ډوډی بنده کړي له ولږې مړ کيږي . بيا به دنه هلته ځای وي نه دلته. دواحد ملګرو په خپلو کې وبرڼکيدل ـ دا خو په رښتيا دبل چا نوکران دي .رحيم کاکا له واسکت نه تسبې وويستل واحد ته يې وکتل : ستا خبره روغه ده. هغه څوک چې دبل ډوډی خور وي هغه خپلواک نه لري. غلام مجبوره ده چې دبادار دامر لاندې منډې ووهي. واحد څوشيبې غلی و په کراره يې سر ته حرکت ورکو: اخر څه غواړئ ؟ دانسان وينې تويه وئ يا دانسان لپاره روغه دنيادجوړه وئ ؟ لنډی ملا دقهر په څپو کې غرق و لکه ترياکي چې په نيشه کې خپل اوري دبل نه. هغه په طمطراق ډول وويل: ـدا توپک به سوله راوړي.رحيم کاکا ته دخبرو نوبت پياتې شو: سوله په قلم ، په کتاب منځ ته راځي . نه په توپک. دا څوکاله شو چې توپک په اوږه ګرځوی کوم ځآی مو جوړ کړ ؟دکوم يتم اوښکې مو پاکې کړې ؟دکومې کونډې په سر مو ټکری واچولو؟ رحيم کاکا په جزبه کې راغلی و ـ کوم کلی مو ودان کړ؟ ،کومه دښته مو دسيند په اوبو خړوبه کړه؟کوم ښوونځی دجوړه کړه؟ رحيم کاکا دسپين ږيرتوب په زور خپله سپيره په ځمکه ووهله دوام يې ورکړ: ښونځيو ته مو اور واچولو ، ښونکي مو ووژل ،په شاګردانو مو دتعليم دروازې بندې کړې ، روغتونونه مو ويجاړ کړل ،دروغتيا کارکونکي مو ووژل ،په ښارو مو انفجار وکړ، اخرکوم جناپت چې ستاسو زده و هغه مو په خپلو خلکو تطبيق کړاوس هم وايې توپک کرځوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

جهاد کوم، رحیم کاکا په غوسه شو وویل: جهاد دخلکودګټو لپاره کیږي که دخلو دوژلو لپاره ؟ جهاد دهیواد دابادولو لپاره کیږي که دهیواددورانولو لپاره؟ ټول یا غیان چپه خوله ناست و له چا سره ځواب نه و.دټول قومندانانو سترګې دځمکې خواته وې لکه قاضي چې دجنایت کار جرم ثابت کړي په سزایې محکوم کړي او مجرم ددقاضي په مخکې چپه خوله پاتې شي دځمکې خوا ته یې سترګې وي او دکوتو پواسطه رد بدل په ځمکه خطونه وکاږي . مشر یا غي لاس پورته کړ ناست کسان یې ځان ته متوجه کړ.لندی ملا دا وخت داحساساتو له څپو سوړشوی و دمشر غږ پورته شو_ددې خلکو منطق قوي دی هرهغه څوک چې حق وایې منطق یې قوي وي . په منطق او داستدلال انسان ته لار ښونه کوي مشر عینکې سترګو ته کړې دوام یې وکړ: زموږ ژو ند خو په غرو،دښتو کې تیر شو کوم کسان چې له موږه سره دي هغوی دومره په علم مجهز نه دي په پنج کتاب کې په څومره قوت وي خو بس دومره کوې چې په کلي کې په خلکو ځان وتپې او نس موړ کړي .دنور علمونه وروسته پاتې هغه څوک چې په نور علمو اګاهي ونه لري بې لارې کیږي لکه څوک چې په سیند کې بې کودره ننوځي غرق شي. زموږ حال اوس داسې دی لکه مسافر چې بې لارې لاړ شي. او دکلي سپیان تر چاپیر شي جامې یې پرې وشکوي ،بدن یې په سرو وینو ککړ شي. مشر وویل : همداسې نه ده؟ لنډی ملا او څو تنه پلویان یې تور شول سره شول هغو خپل توپک اوږو ته کړه له کوټې ووتل . پاتې شو دمشر یاغي پلویان او دواحد ملګري.مشر واحد ته وویل: زه به خپلو پلویانو سره مشوره وکړم ځان ته به غټ کروپ جوړکړم که موږ دسولې پیغام نور ته رسوو چې isi پر موږ پرغل ونه کړي .مشر یاغي اعتراف وکړ [ دا ټول جنګ د[ isi ] له خوا رهبري کیږي که څوک دافغان دولت سره دسولې خبرې وکړي بیا یې سر له تنې نه جدا ده ډیر مخور او غټ غټ کسان له منځه لاړل ] هغه دوام ورکو: زه پوهیږم چې دانسان وینه بهول لویه ګناه ده هغه زیاته کړ: هیڅوک حق نه لري چې دیو ژوندي جسم نه دهغه ژوند واخلي که دچرک په غاړه تیغ کش کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

که دحیوان، یا مرغه دا په قتل کې راځي انسان دهغه عقل په استفاده چې له ده سره شته حیوان یا مرغه په ستوني تیغ کش کا مړ ي کا. دا هم جرم دی ځکه چې انسان دخپل دژوند دبقا لپاره بل ژوندي وینې تویه وي .بیا له انسان نه ژوند اخستل دا لویه ګناه ده. مشر په اخر کې زیاته کړ: موږ به په هوښیاري سره خپل کارونه دقومندانانو په منځ کې پرمخ بوزو، تاسو ته به خپل پیغام واستوو، .

له ډیره لرې نه مې دي چا غږ تر غوږو شو.همدابه یې ویل[ په سوله کې ژوند خوند کا ، سوله ابادي ده ، جنګ نابودي دی] غږمې له غوږ،سره اشناو بیا مې له ځانه سره ویل[دا توپاني ، انقلابي غږ دکوم خوږمن له سینې را پورته کیږي ؟]پښې مې اچول دغږ په خوا تلم.دسلو [۱۰۰] مترو په فاصله کې مې یو دغټې تنې سړی له جک قد او ببرې ږیرې سره تر سترګو شو کله به یې دواړه لاشونه خوزول کله به یې موټی په هوا کې پورته کړ عجب شاني سړې را ته معلوم شو . پیکداره خوله یې په سر اړه ولې وه په ځای ولاړ وخو بدن یې په حرکت کې و.یو کام به مخکې لاړ بیا به دوباره خپل ځای ته راغی دده اواز به دسینداوبو له اواز سره نور هم توپاني او خوندور شو هلته ددرونتې دپل لاندې سیند ځپې غورزوي په مستۍ پر مخ تلو . دسیند داوبو په ځپو کې عجب شان ته کیف پروت و دده ځپو مستۍ او حرکت دانسان دوجود وینې په رکو کې په مستۍ راوستې دژوند دهدف لپاره یې انسان ته دحرکت چل خوده ښه ورنزدې شوم معلوم شو چې ستار کارګر دی دکارګرانو په منځ کې په چوش اوخروش وینا کوي هغه به دسولې نړۍ کاګرانو ته ښه ژوند پیغام ورکاو دځو جملو ویلو وروستهٔ به چیچکې شوې په لوړ اواز به وویل شو: [ سوله زموږ ارمان ده ،په سوله کې ژوند خوندور وي ، په سوله کې کارونه ښه تر سره کیږي ]،خو چې په چیچکو کې به دخلکو غږ ورک شو ستار به خوله وازه کړه: څه به کوو؟ هغه چې وایې [بله لار نشته بې له خیبره ] اوس موږ ته بله لار نه ده پاتې .جنګونه خوموډیروکړیاغیان هم ستړي شوي خلک هم .حکومت خو له اوله دجنګ طرفدار نه واوس سوله غواړي یو تعداد کسانو چې دحکومت په چوکیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو ګام د سولې پر خوا

ځانونه ټینک کړي دي او ځانونه یې په کپسول کې پټ کړي دي په یاغیانو کې همداسې وبوله یوتعداد یې چې ځانونه په پردو خرخ کړې دي دهغو ډوډۍ خواره دي دهغو په لاسو دپاکو زړونو افغانانو وینې بهوي هغوی په جنګ کې خپل ژوند ته دوام ورکوي .خو شته یو زیات تعداد چې دخپلې عقیدې لپاره خوزیدلې او لا شعوره دپردو په منګولو کې پراته دي هغوی سوله غواړي .ستار خوله له سره پورته ړکړ په هواکې یې ښوراوچیچکو بیا فضا ښایسته کړه ستار دوام ورکړ: خلک سوله غواړي ، ملت سوله غواړي ، کار سوله غواړي ،ژوند سوله غواړي ،موږ سوله غواړو. داسې اواز ددرونتې فضا توده ساتلې وه.رحمان کارګر دکارګرانو په منځ کې پورته شو دلاس موټی یې ښوراو ویل یې: که دښمن سوله ونه کړي سوک هم شته ..ټولو کارګرانو موټي پورته نیولي وو[دا سوک او دیاغیانو تندی ] دښمن زموږ په جنګ کې خپل اسان چاغوي رحمان دلغمان، کابل دسیند اوبو ته لاس وخوزاو :پاکستان غواړي زموږ اوبه دهمشه لپاره ددوی کام تازه وساتي .هغوی غواړي زموږ اقتصاد کمزوری کړي تر څو دتللي خاورې غوښتنه ونشو کولی رحیم په هیجاني اواز وویل:[ نه یې موږ ډیورن پیژنو ،نه یې پاکستان ]زموږ دهیواد حد معلوم دی څوک نشي کولی لمر په دوه کوتو پټ کړي !دا دافغانانو حق دی که یاغیان هر څو دپردو پر میخ خیز ووهي اخرمیخ به کنده شي، مات به شي،دښمن به نابود شي، حق به دحقدار شي. ستار لاس پورته کړ اوږې یې وښورولې: موږ دسولې کاروان مخکې اچولی دی دا کاروان به پر مخ ځي له دې کاروان سره دسولې زنګونه هم شته په خلکو غږ کوي ،راپوته شي، روان شئ،دسولې له کاروان سره یو ځای شئ دا زنګ خلک ویښه وي ، بیداره وي یې، په پښو یې دروي،په حرکت ي راولي . ستار دوام ورکړ: دخلکو حرکت،پاڅون هغه سمندر دی چې هیڅوک یې مخه نشي نیولی ،دخلکو زور هغه زور دی چې غرونه لرزوي ،سیندونه مهاروي ،.ښه داده چې دتوپک خولې دځمکې خواته ښکته کړئ قلم په لاس واخلئ چکش په موټي کې ونیسئ دهیواد دابادولو لپاره کامونه پورته کړئ . لاسونه یوځای کړئ هیڅاته اجازه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

مه ورکوئ چې زموږ دهيواد په خوا دتوپک خوله وازه کړي.انځرګل په دواړو پښو نيغ ودريدپه داسې حال کې چې چپ لاس دکارګري پطلون په جيب کې و ښی لاس يې ښوراو_ صاحبانو ! واورئ! که زموږ جنګ له داخلي ياغيانو سره وای نو کوم مشکل نه و سره به مو خبرې کولې ياته ملامت يا زه سره غاوړه غړی کيدو دجنګ لمن زموږ له هيواد نه تړولي ده.انځر ګل ټولو ته وکتل اوږې يې پورته واچولې: زموږ په هيواد کې دېردو لاس اوږد شوی دی دا جنګ اوس نړيوال شکل نيولی دی دا هيوادو نه نه غواړي چې جنګ ته خاتمه ورکړي ځکه چې په جنګ کې دهغو ګټې نغښتې دي..انځر ګل چې يو پوه انسان و په کارګري نهضت کې شامل سړی و او هم دکارګرانو داتحادي مشروهغه به تل په منطق برابر استدلال کولو دکارګرانو غوښتنې به يې په فابريکه کې ديسو خاوندانو سره حل فصل کولو هغه جدي سړی و خو په نرمو خبرو هم پوهيده هغه دوام ورکړ: اول امريکا تاسو ته يادوم!هغو ديو غرض لپاره افغانستان ته خپل لښکرې سمې کړې انځر ګل په لوړ اواز وويل: پوهيږي! زموږ دهيواد په کيډه کې تر ځلورو زرو[٤٠٠٠] زيات قيمتي معدنونه شتون لري په هر معدن کې قيمتي مواد په خرورو پراته دي چې دالوتکو او بمو په جوړه ولوکې ترې کار اخستل کيږي دامريکا هدف همدا دی چې جنګ اوږد شي تر څو خپل هدف په دې قاره کې تر لاسه کړي او زموږ قيمتې دانې خپل هيواد ته انتقال کړي انځر ګل په واصيح توکه وويل: تاسو که دجنوبي کوريا له حال نه خبر شئ ټول قيمتې دانې يې هر ورځ دالوتکو پواسطه امريکا ته انتقالوي انګريزان همداسې وبولئ انګريزانو ته خو ښه و خت په لاس راغلی دی تر څو دمکناتن او کيوناري انتقام واخلي . دهغو انګريزانو انتقام ته راوتلي چې افغاني غازيانو له ديرش زرو [٣٠٠٠] لښکرونه يو ډاکتر برايډن او ٢٠ تنه ماشومان او ښځې جلال ابادته ژوندي ورسيدل دا نور يې دغازيانو په تور ټوټې ټوټې شول دانګريزانو هغه پيبنه کله له ياده وځي همدا رنګه پاکستان ، او ايران يې وبولئ دانځر ګل خبرې په چيچکو او شعارو بدرکه شول ستار لاس پورته کړ: دانځرګل خبرې په واقيعت برابرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې ښه استدلال یې وکړ.رښتیا همداسې دی که پردي زموږ په هیواد کې لاس وهنه ونه کړي ؟ژربه سوله  زموږ د هیواد ځمکه مچ کړي.ستار زیاته کړ: په هر صورت ! که انسان خپل لاس وخوزوي ،حرکت وکړي کار تر سره کیدای شي ستار ددرونټې پل ته اشاره وکړ: داپل کورئ ! له ده نه مخکې دلته یو کیبلي پل و چې امیر حبیب  الله جوړ کړی وهغه وخت چې دلغمان په خوا سرک وغزید دا کیبلي پل جوړ شو له دې نه مخکې ویل کیده چې خلک به دغره له پاسه لغمان او خوې ته تلو اسان ، قجرو به دغره له پاسه بارونه وړل . دا چې څنګه غر سوری شو اوبو جریان پیدا کړ بله کیسه داسې وایې [شیرنۍ دنوشیروان عادل میرمنه په هغې فرهاد مین وفرهاد ته شرط کیښودل شو چې ددرونټې غرسوری کا تر څو شیرینه ستا شي فرهاد دکولنګ پواسطه دا کار وکړ ] دا دخلکو دخولې کیسه ده.خو چې دشوروي  مشاویرین افغانستان ته راغلل دافغاني کارګرانو دمټو په قوت دا اوسینی پل جوړ کړل شو چې اوس یې تاسو داوبو دفوارو خوند اخلئ ستار وویل: زما هدف  له داسې اوږدوخبرونه دادو چې حرکت وکړئ دافغانانو په کړو هیوادته سوله راتلی شي.هغه غولیدلي افغانان به پوه شي دسولې له کاروان سره به یوځای شي.اوکه چا ځان په پردو خرڅ کړې وي او جنګ ته دوام ورکوي دهغو ځواب به په جنګ ورکوو په سوک به یې ورکوو. ستار اوږد نفس وویست زیاته یې کړه : زموږ لار دسولې لارده نه دجنګ، که څوک پر موږ جنګ تپي  موږ له ځانه دفاع کولی شو په چیچکو او شعارو ویلو غونډه پای ته ورسیده ټولودا ومنله چې دسولې کاروان به پر مخ  وړو..

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۸)

عزيز دسولې په ارمان په حويلۍ کې قدم وهلو.کله به يې دفرشي ګلانو څنې سمولې،کله به يې په خيال کې دسولې کوترې الوزولې.دا ورځ چې دجمع ورځ و لس بجه دسولې کميټۀ غونډتل شوی و چې دکار راپور کميټې ته وړاندې کړي . دسپيدار ونې لاندې لس چوکۍ ايښودل شوي و.دچوکيو په منځ کې يو ګردی ميزه هم په خپلو پښودرول شوی و دميز په څنډه کې دګلاب ګل دنورسي پيغلې پشان يې شونډې غوړيدلي وې. دګلاب ګل دحويلۍ منظره ته ښکلا ورکړی و مور له عزيز نه ډيره ترپيده کله به دروازې ته شوه کله به يې سر له ديواله پورته کړه شا وخوا به يې له نظره تيرکړ دمور په څيره کې تغير راغلی و ،دمخ په کونځو يې سره رکونه په حرکت کې و هغه چې څو ځله لاړه راغله بيا دعزيز تر خوا دچوکۍ له پاسه کيناسته _ څو کسان زموږ دديوال سيوري لاندې تير شول .لکه چې ياغيان دکميټې نه خبر شوي وي .هو زويه ! انسان هر څه ته بايد په ساده توکه ونه کوري..مور چې دلاس سپيره دميز پر مخ کيښوده وې ويل: خدای انسان ته عقل دهمدې لپاره ورکړی دی چې په کارو کې فکر وکړي . مور ورخطا غوندې وه لاسونه لرزيدل هوزويه ! هغه بله ورځ هم څوکسان په دې لار تيريدل په خپلو کې يې څه ويل بيابه يې زموږ دکور ديوالوته وکتل لکه چې ياغيان خبر دي زموږ کور يې په نښه کړی وي چې له همدې کورنه دسولې پيغام خړول کيږي .عزيز په ويښتانو کوټې تيرې کړې : مور ! مبا رزان بايد دفولاد پشان کلک زړه ولري.نه دا چې دپشو له ميووسره په لرزه شي.دا دمبارزې ميدان دی کله به غورزو ،کله به پرزو ،کله به جکيږو ، کله به حرکت کوواو کله به په خپل ځای ناست يوو. داسياسي کسان چې دهيواد دابادۍ ، دخلکو دښه ژوند او داستبداد دنسکورولو، دتورې ارتجاع له منځه وړلو ،دظالم دولت دچپه کولو ، دسولې دراوستلو لپاره را پورته کيږي مبارزه کوي دا مني

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

چې مخکې يې زندان شته، ددا ر رسۍ ددوی دځوړندولو لپاره اماده ده،خو پرې پورته کيږي هغه چې وايې [دمردانو يا برى وي ياخو دار ] کله مبارزين بريالی شي ،کله غاړه يې په دار کې ځوړند وي ددار حلقه له اول نه استبدادي حکومتو دمبا رزانو لپاره اماده کړی ده مور غنجه شوه، ولرزيده.څو ځله يې همدا کلمه ويل[[دار ،دار ]]بيا مسکه شوه .اوړه يې پورته واچوله له ځانه سره برنکيده ويل يې [ دمردانو يابرى وي ياخودار ]له چوکيه پورته شوه :ـ زه به چای دم کړم له خبرو وروسته خو حتما چای څښل شته.ځکه په کميټۀ کې خوډيرې خبرې کيږي هو ! هسې ساده دپولو ، پټو خبرې خو نه دي! ښې او بدې سره کډې وډې کيږي . عزيز سر وخوزاو :نوره په خپله ښه پوهيږي عزيز دکاغذ پر مخ څه ليکل مور په پخلنځي ننوته اور مړو پخلنځی دود په سر اخستی و ـ تياره دشي لمده لرګي دي اور نه اخلي [موروويل] مور ته په زړه شو :لمده لرګي سخت سري دي . هغې ته خندا راغله:لکه مبارزان چې په سختو کې چا ته نه تسليميږي .چې دحکومت په زندانو کې وي هم لاس وپښې خوزوي .خوله يې دهر وخت لپاره وازه وي او ژبه يې په خوزيدو وي . مور دتيلو دبی واخست په لرګو يې تيل واچولو سره لمبه ترې پورته شوه مور په مسکا ورته کتل : لکه فيوډال پشان دونه سوزوم نه دپريږدم.[موروويل] عزيز څه وليکل بيا لاسونه تر شا نيولي و دفرشي ګلانو په خوايې قدم واهه،عزيز دفطرت ښکلا زړه وړونکی وباله عزيز وليده چې دفطرت په منکولو کې څومره قدرت پورت دی کله دځمکې له سينې نه ګلان را وباسي او کله له سمندر نه وريځې را پورته کړي دسمندر په سينه چتر شي وريځې اوښکې توي کړي ځاځکي دځمکې مخ لوند کړي نباتاتو ته اوبه ورکوي چې دنباتاتو ژبې لمدې او تازه شي بيا نو دځمکې له سينې سر را پورته کړي همدا دوريځو اوښکې دځانګو په رکو کې لار وهي ګلونه شي،ميوه شي،او بيا دميوې په ديننه کې دونې زړه په خوزيدو شي بيا ونه شي بيا زړی شي عزيز له ځانه سره همدا فکر کاو ـ دادی دفطرت دمټو قوت.چې کله نړۍ په ښکلا سنګا ر ګړي او کله نړۍ ته داسې سپيره ورکړي چې مخ يې زيړ شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

دا وخت دخفګان داوښکو په توپان کې هغه ښکلا له سترګو پناه شوه عزيز په سوچو کې و چې دمور غږ يې تر غوږو شومور په ډارن اواز ووېل: زويه !دغفارکی زوی جانان دکلي په باغچه کې دهلکانو په منځ کې ويل[هغه دسولې پيغامونه چې چا په ښوونځی، کليو، ښار کې ځړولي و ياغيانو دشپې له خوا وشکولې] مور رږديده خبرې يې کولې کله به يې خبره په ستوني کې ونښته زبه به يې وچه شوه دا به څنګه شي؟ عزيز يوه پښه په بل واړوله _ حقيقت څوک نشي څيرې کولی ، پدې پاڼو کې هغه حقيقت پروت دی چې دزړه په منځ کې يې ځای نيولی ، دخلکو زړونه څيرې کول کوم اسانه کار نه دی حقيقت پټول لاس غوسول دي او په بد ورته کتل سترګې ړنده وي .. ته مه ويرېږه !خلک زموږ په خوادي .حقيقت پيژني او په هغه لار روانيږي ،دياغيانو لاسونه پښې به ماتې شي.خودخلکو زړونه به ژوندي وي ،دزړه په حرکت کې دانسان مينه خوزيږي ،داخوځښت او دا حرکت دانسان په اراده کې نه ده چې زړه څه غواړي هغه کيږي دزړه له چوش نه توپان را وچتيږي ماغزه هغه لار ښه پيژني چې دسولې په خوا تللی دی .عزيز دمور لمن ونيوه خوا ته يې نزدې کړه :دمور په لمن کې ډير توريالي ، ميړني لوی شوي دي . دمور لمن پاکه ده.ځامن به يې په پاک لار کامونه پورته کوي .دپاکې لار په منځ کې اغزي سرونه نشي پورته کولی ځکه چې داغزو لپاره انسانانو په څپلو بوټانو کې ميخونه ټکوهلي دي که اغزي سروچت کړي ميخ يې په ځمکه ننباسي. عزيزخندل : بيا نو دکاروان لپاره لار خلاصه ده. غوټۍ په منډه راغله _ انا! تا څه ويل؟ _ ويل چې يا غيانو ښوونځۍ وسيزله ؟ها ! زموږ کتابونه ،دقران مجيد ، دنيات، دحساب کتاب ، دا ټول سوي دي ؟ :زموږ دټولګي توره تخته ،هغه چې ما او شاببو به پرې حساب ليکه،ايرې ايرې به وي ! غوټۍ دعزيز په بريتو کوټې ووهلې _ ای پلاره! موږ به چيرې سبق وايو؟عزيز غوټۍ يې ښکل کړه په خوا کې يې کينوله دغوټۍ په غمبوري سپينه اوښکه روانه وه په غټې کوټې يې پاک کړ _ ويريدلې يې لورې! وې خندل_ پلار يې زمری په موټې نيسي لور يې له موږک نه ډاريږي .: دزمری

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو ګام د سولې پر خوا

بچې زمری وي .دمبارز سړي لور مبارزه وي .او دډارن لور ډارنه. پوه شوې ! عزیز دوام ورکړ: مبارزان چې په هیواد کې وي هیڅوک نشي کولی دهیواد دځامنو ځای په اور وسوزوي .غوټۍ یې په شا وډبوله : ډیرې ښوونځی به جوړې شي،هو لورې ! هغه انجنې چې دیاغیانو له ویرې په کورو کې بندې دي او دښوونځی دروازې پرې تړل شوي هغوی به دوباره خپلو زده کړو ته دوام ورکوي انجنوته به دزده کړې حق ورکړل شي.که موله خلکوسره په کډه دسولې کاروان په حرکت راوستو بیا به اسمان شین ځلیږي تورې وریځې په دسپوږمې مخ پټولی ونشي،هو لورې ! ستوري په دسپوږمۍ مخکې په ګډا وي دځمکې مخ به شین وي پسرلی به پرې غوړیږ ي..ګلان به خولې خلاصې کړې ،ها ! دغوټۍ جانې لور په پیکي به ګلان ټمبم.، زه به ورته دسولې سندرې وایم دا به راته نڅا کوي . غوټۍ په خندا شوه._ بابا ته به دسولې مبارکي وایم. .مور دچای پطنوس راړو دعزیز مخې ته یې کیښودو.مور لا پیاله له چای نه ډکه کړې چې دروازه وټکیده.مور عزیز ته وکتل ورخطا شوه._ یاغیان نه وي ؟مورې! یاغیان په توره شپه دخلکو په کورو ننوځي دا خو ورځ ده.عزیز زیاته کړه :ته پوهیږې چې غله په کو وخت کې غلا کوي؟ موروویل: چې سپوږمۍ په وریځو کې ډوبه شي دځمکې مخ تیاره وپوښوي ..عزیز وویل: افرین مورې ! کامیابه شوې. رښتیا چې همداسې ده. غله په رڼا ورځ غلا نه کوي یاغیان همداسې وبوله. څوک خو به وي چې دروازه یې وټکوله؟مور دروازې ته نزدې شوه _ څوک یاست؟_ موږ یوو.مور دستار له دروند او غور اواز سره اشناوه په څټ یې وکتل په کراره یې وویل:_ فکر کوم ملګرې وي ! غږ خودستار کارګر غوندې و_ ورخلاص کړه! [عزیز وویل] مور ددروازې ځنځیر له کونډې وغورزاو ددروازې پټ یې نیمکله شانې کړه اول یې سترګې په ستار ولکیدې دهغه مخ چې ږیرې پوښلی و ښه وپیژندل شو ها ! تاسو ؟ [مور وویل] اول ستار له ببرې ږیرې سره په کور ننوت ،دستار په لیدو غوټۍ ووریده،_ ها پلاره !دا یاغي سړی دی ؟غوټۍ دمیز لاندې پټه شوه.په غور یې ستار ته کتل.په سر یې دکار ګري پفاقه وه زړه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

ډاډه شو سر یې پورته کړ دستار مخې ته لاړه _ کاکا ودې ډاره کړم.ستار غوټۍ غبرګ ته پورته کړه لورې ! هغه چې ماشومان ډاره وي هغه یاغیان دي مور کارګران یوو.له ماشومانو سره مینه لرو، ماشومانو ته ښونځۍ جوړه وو،او هم دلوبو شیان ورله جوړه وو،دخلکو لپاره کتونه چې خوبونه پرې وکړي . لا ځنډ نه وتیر چې دسولې دکمیټې غړو ځانونه ورسول په خپلو ځایو کیناستل . له هر یوه سره ډیرې خبرې وې له چاسره خوږې له چا سره ترخې .مور خو ترټولو له ترخو خاطرو سره دعزیز تر خوا ځای ونیوه. مور چې ټکری په سر کش کړه مسکه شوه.لکه خوک چې په خپل کار بریالی شوي وي او دغرور یوه مسکاوکړي عزیز چې دکمیټې غړې له سترګو تیر کړ ستونی یې صاف کړ په داسې حال چې په څیره کې ي دخوښۍ علامه بریښیده په خبرو یې پیل وکړ: وروسته له دوه میاشتو زمونږ دکار کمیټه په خپلو کې کوري ، دکارونو یاداشت سره پرتله کوي .مور ژر ژر نفس ویسته ،دزړه حرکت یې زیات شوی و.لکه چې یو نطاق داول ځل لپاره ستیج ته پورته شي مور عزیز ته وکتل لیاړې یې تیرې کړې په خبرویې پیل وکړ: په هر کار کې سختي شته هیڅ شی په ارامه لاس ته نه راځي .چې په کار کې بدن خولې نه کړي کار نه کیږي ، په کار کې خوښۍ هم شته شختۍ هم .خو چې څومره انسان ستړی کیږي خوند او مزه یې زیات وي مور په غرور سرته حرکت ورکړ:دښځو لښکرې به وکوړئ ټولې ښځې دې ته اماده دي چې دسولې له کاروان سره یوځای شي، بیا تر ټولو دښوونځۍ انجنې .دسولې له لښکر سره به روانیږي نارې به وهي چې وشرمیږي پردې توپک له اوږو وغورزوئ سولې ته غا ړه کیږدئ .مور شونډې وځټلې ویښتان یې په موټې سره یووځای کړه : انجنې ، ښځې به داسې سره یوځای شي لکه ما چې داتیت ویښتان سره یوځای کړل.مور وخندل : هغه وخت چې ما دسولې پیغام دانجنو ، ښځو مخې ته وغوړوانجنو ،ښځو دسولې شعارونه ورکول تا به ویل چې دښوونځۍ انکړ په لرزه ده خو دښوونځۍ مدیره په غم ناسته وه.ډیره ډارانه رابنکاره شوه.هغې غوښته چې دسولې پیغام ونه څړه وي خو بیدارو انجنو په شوق او

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو گام د سولې پر خوا

جرء ت پيغام وځړاو.مور مسکه شوه:که زما غږ پورته شي دانجنو لښکر راپسې روان ده.خو٠٠٠ ټولو مور ته وکتل دخومانا ته منتظر و مور چې شونډې دغاښو په منځ کې ونيوې وروځې يې پورته واچولې : رښتيا چې په ښو کارو کې مشکل شته.هغې دوام ورکړ: په نور يې خفه نه يم چې په لښتو ، لغتو ، سوکانو يې ووهلم دومره خفه شوې نه يم خو چې دياغيانو مشر ته يې يوړم هغه مې له بدرنگې ځيرې او اوږدې ږيرې سره وليد کرکه مې ځينې راغله بيا چې کنځلي او سپکې يې راته وکړې ډيره خفه شوم .په زړه کې مې ويل:يو انسان چې دومره اوږده ږيره لري يوې مور ته په سپکه سترگه کوري دا خو ښه کار نه ده ځکه چې ښځه دټولو مورده . هر انسان دمور له کيډې پيدا ده بيا چې يې په ځنگل کې له پښو ځوړنده کړم دا عمل يې نه ښنم. .هغه بهادر خان نارينه سړی و چې په اس يې واچولم روغتونه ته يې يوړم.افرين پرې .مور دمخ په ټپ کوته کيښوده : دا ټپ به دښځو لپاره بل پيغام وي هغوی به وهڅوي دسولې لپاره به کامونه پورته کړي .عزيز خندا کې وويل: ښه چې مړه نه يې اوس به زموږ کميټۀ بې له تا خالي وای ټولو وخندل خو مور غنجه شوه.: ما ستاسو حال اخستو چې څنگه دناهيد پوزه ياغيانو پريکه کړه او نيکه چې دياغيانو په کولو سوری شو مړ شو ،ټول به په تاريخ کې وليکل شي.دنيکه ځلی به جوړ شي، دا به دسولې په لار کې ديو باتور شهيد په توکه دخلکو په زړونو کې ياد پاتې وي [عزيز وويل] .مور خوله خلاصه کړه : په خپل ځان دومره خفه نه يم خو په ناهيد او نيکه مې زړه بريښي .روف شمله سمه کړه لږ وړاندې شودخپل دکار ريپورت يې کميټې ته بيان کړ عزيز په دقت خبرې اوريدې چې روف دبزگرانو غيرت او وحدت په هکله خبرې کولې روف په اطمنان کميټې ته وعده ورکړه چې کليوال سوله غواړي .خلک سوله غواړي ، له جنگ نه نفرت کوي .دروف کار ښه ارزيابي شوپسې وهاب ځان وښوراو _شاگردان لکه داور لمبه داسې سره راغلي وچې مې پيغام وغوړاو لکه په شرينبي چې مچان را غونډ شي.په هيجان او ولولو راغلي وو.ښه پرې پوه شوم چې شاگردانو سياسي شعور موندلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

او احساس پکې موجود دی .پاخه سوالو نه يې کول اوما دنر زوی پوره ځوابو نه ويل. ټول اماده شول چې دسولې له کاروان سره يوځای شي.واحد چې په بريتو کوتې تيرې کړې تندي ته يې ټپ ورکړ په خپلو سترګو مې وليد چې دپردو په ډوډۍ نس مړه وي .او دپردو توپک ګرځوي .يو پنجابی منصبدار دمدرسې هلکانو ته دانتهاري تربيه ورکولو.واحد دوام ورکړ: ما چې نتيجه واخسته داسې و[ يو تعداد يا غيان غواړي دسولې له کاروان سره يو ځای شي خو ډير کم کسان شته چې خپل ژوند په جنګ کې کوري.هغوی تر نابودۍ پورې نه غواړي سوله وکړي] ستار سوک وښوراو :دهغو لپاره سوک په کار ده.ستار خبرې اوږدې کړې : دا معلومه خبره ده چې په ټولنه کې ټول خلک په يو لار نه ځي ، څوک په سمه لار ځي څوک په کندو او ژورو پورته کيږي او دچا لار بيا داغزو او ځنګلو په منځ کې وي هغه کسان چې په سمه لار نه ځي په غرو او ځنګلو کې روان وي هغوی دليوانو دخوراک شي.. مور به کله خفه شوه ،کله خوشاله.چې سخت به يې زړه شوه غنجه به شوه خو چې به يې په زړه راغله ټول حلک به په سوله کې ژوند کوي خوشاله به شوه.عزيزخبرې په خلاصو غوږو واوريدې خپلې خبرې يې داسې پيل کړې : څوک چې په غرمو کې دغنمو لو کوي حتما دلمر له وړانګو نه متا ثره کيږي ،څوک چې ځان له نوی کور جوړه وي لاسونه يې ټناکې کيږي .، څوک چې له شاړو دښتو نه دښکلو باغ سيل ته روان وي سترړيا ورسره مل وي ، هر څه په زحمت لاس ته راځي . که څوک غواړي دخپل دجانان سر دځنځلو دسيوريو لاندې خوبونه وکړي اول بايد دځنځلو ونې کينوي ، که څوک غواړي دجانان په سرو شونډو ځان نيشه کړي اول بايد ځان ته جانان پيدا کړي .دجانان پيدا کول دلار په سر نه کيږي اول به ددې جل زده کوي چې څنګه دجانان سره خبرې وکړي ؟خو چې دخبرو جل يې زده کړ بيا يې خپلولی شي.او دجانان په پلنګ پورت کيدای شي.. عزيز په غرور خپلې خبرې کولې : موږ دسولې دراوستو جل زده کړی ده اوس يې پلې کوو.هغه جل دادی چې ولس خپل کړو ،خلک دځان پسې روان کړو، خلکو ته پوه ورکړو،او

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

دسولې ددنيا مزې ورته په کوټه کړ، بيانو دخلکو زور ته ياغيان نشي دريدى .عزيز اصافه کړ: دخلکو زور به دکارګرو دپيوستون په ورځ چې دمى دمياشتې اول او د ثور دمياشتې له يولسم[۱۱] سره برابره ده په خپلو سترګو وکورو، چې ځومره خلک دسولې له کاروان سره برخه اخلي دا به اخره ورځ وي که څوک دسولې له کاروان سره يو ځاى کيږي هغه به په مينه خپلو وطنوالو سره ژوند کوي او که څوک له دې کاروان نه پاتې شو هغو و ته به داسې دسوک ګزار ورکوچې ياغيان او دهغوو پلويان بيا زموږ هيوادپه خوا سترګې وانه ړوي .

ہ ہ ہ

دکارګردپيوستون دورځې چشن پيل ودا ورځ په ټولنه نړۍ کې لما نځل کيږي له کارګرانو سره ديوالي اعلان کوي دجلال اباد ښار دغازي امان الله خان پاچا په باغ کې دکارګرانو سور بيرغ او دسولې سپين بيرغ چې دوه کوترې په خلاصو وزرو دپرواز په حال کې وي کښل شوي وي له هرې خوا نه خلک په چوپوچوپوراتلل بيرغو نه رپيدل ،نارې يې وهل[ سوله، سوله سوله ، ژوندي دوي کارګران،موږ دکارګرانو ددفاع په خاطر دسولې له پيغام سره را وتلي يوو] دهريو په لاس بيرغ ليده کيده چې پکې ليکل شوي و[زموږ وطن سوله غواړي ، زموږ خلک سوله غواړي ] په ځينو بيرغو کې داسې ليکل شويو[راشي دسولې بيرغ لاندې حرکت وکړو تر څو چې هيواد مو ارام او زرغون شي،] دښځو لښکر دنارينه و کم نه و پخې ښځې ، انجنې په احساساتي څپو کې رواني وې بيرغونه يې رپول .په باغ کې داسې شور او زوږ جوړ و چې تابه ويل هيواد همدا اوس له انګريزانو نه ازاد کړل شوى دى دسولې کميټه چې مور دعزيز خوا ته روانه وه دچشن ځاى ته راتلل.مور دسولې بيرغ په خلاصو وزرو نيولې وه تله.دکور ښځې څوک په بامو پورته شوي وو هغو ليده چې [نارينه ، زنانه] څومره په هيجان روان دي مور وچت وچت کامونه پورته کول بدن يې له غروره ډک و کله چې په کوڅه تيريده ديو کور دانکړ دروازه نيم کښه وه يوې ښځې ددروازې له قاته وکتل خو چې په مور يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو ګام د سولې پر خوا

سترګې ولکیدې غبر یې کړ: ای ښځې ! ته شرم نه لرې دسړو سره روانه یې ؟ که یاغیان خبر شي غوښې به دپه سپو وخوري.مور چې خوله یې له خندا ډکه وه بدن یې له خوشالۍ نه لرزید په دواړو پښو ودریده ویل یې : [دا وطن هم دسړو ده هم دښځو] .داسې نه کیږي چې سړي به وینه ورکوي او ښځې په ځانونه چاغوي . په کور کې پټیدل دکیدړو کار ده . مور روانه شوه خو ددروازې ښځې خجالته شوې مور چې له بلې کوڅې تاوه شوه نورو ښځو پرې غبرکړ: ای تاسو نه ویریږي ؟چې یاغیان به په تاسو بمونه واچوي ؟ عزیز مسکی شو وویل: مبارزان له چا ویره نه لري .چې وینه ور نه کړې ګلان نه غوړیږ ي!مور دلاس پنچه ښورولو په مستۍ مستۍ روانه وه دکوڅو ښځو په خپلو کې ویل: څومره زړه وره ښځه ده! نه له یاغیانو ډاریږي نه له پولیسو .نادرې پرې غبر کړ: پولیس هم سوله غواړي . شمایلې پیکی سم کړ: رښتیا وایې ،په جنګ کې خوله ټولوپولیس ډیر مړه کیږي دډیرو پولیسو ښځې کونډې شوې وږمې په کوټۀ اشاره وکړه:: هغه ښځې وینې! ټولې کونډې دي میړونه یې پولیسان و اوس دوۍ دهغو لباس په تن کړ ي دخپلو میړونو سنګرونه ساتي .کوثر غاړه تاوه کړه: وۍ څومره شرم د ی ښځې دسړو سره یوځای روانې دي . لاجبرو وویل: څه شرم دي ؟ ته نه غواړې په هیوادکې سوله وي لونګې وویل: داسې چې ده راځې چې ټولې په چشن کې برخه واخلو. دلونګې خبره په نور ښځو ښه تا ثر وکړلکه دتوپک ډز چې په نښه ولکیږي ټولې ښځې روانې شوې دسولې بیرغونه یې په لاسو نارې یې وهلې : موږ ښځې دسړو سره یوځای دسولې کاروان پر مخه بیا یوو. وږمې په لاس دسولې بیرغ نیولی وچې سپین مړوند یې دبیرغ له لرګي سره ښه ښکاریده . هغه چې دپیغلتوب په کالو کې مسته پیغله وه لکه مست اس به یې پښې غورزولې تله .دکمیټې غړې چې دچشن ځای ته ورسیدل په چیچکو بدرکه شول .دسولې په نارو کې دچا غبر نه پیژندل کیده.فضا داسې ښایسته وه چې دبل هر وخت نه ښه ښګاریده دا چې تول خلک دحقیقت موندلو لپاره را غونډ شوي و خوشاله ښکاریدل مور داسې ښکلې شوې وه چې تابه ویل دځوانۍ وخت او

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو ګام د سولې پر خوا

دواده شپه یې ده. عزیز دڅیچکو په څپو کې په ستیج پورته شو مور په خوا یې ودریده.او خندل یې.عزیز چې ټولوته وکتل موټی یې پورته کړمور دسولې بیرغ په هوا کې رپاوه دټولو خلکو موټې په هوا کې خوزیده عزیز په لوړ اواز وویل:[ سوله غواړئ که جنګ ؟ ] شور ماشور جوړ شو همدا اواز اوریدل کیده [ سوله غواړو، سوله غواړو ] عزیز چپ و هغه چې لکه باز سترګې شاوخوا وغوړه ولې دا چپتیایې ماته کړه : ژوند په سوله کې ښه ده که په جنګ کې ؟ لکه تندر اوازونه اوریدل کیده : نفرت له جنګه .مو ر دسولې بیرغ په هوا رپاو ، په عزیز نازیده چې دده زوی د ی او د ټولوخلکو په مخ کې ولاړدی او دسولې پیغام خلکو ته رسوي.ستار کارګر موټې یې خوزاول ناري یې وهلې : ژوندي دوي کار ګران، موږ دټول سوله غوښتونکو سره کډ ژوند غواړدو.[غواړو یې ] داسې ناري به پسې واوریدې شوې .خبرروانې وي عزیز داحساساتو په څپو کې و چې ولیده شو څو ډلې چې هره ډله به یا ۳۰۰یابه ۲۰۰ تنه و دسولې له بیرغو سره دچشن میدان ته راغلل دهغو جامې دجنګ جامې وې چې په غرو او ځنګلو کې یې په تن وې . هغوو چې دتوپک خولې دځمکې خوا ته نیولې و په بل لاس کې یې دسولې بیرغ و دسولې له کاروان سره یوځای شول لس کامه به دچشن کډونکونکوته نزدې شوي وو چې توپک یې په ځمکه کیښودل بیرغونه یې پورته کړل په چشن کې یې برخه واخسته.هر یو ته به یې غیږ ورکاو دسولې مبارکي به یې ویل. جان داد دټول مشر عزیز ته غیږ ورکړ ورته یې وویل[ سوله دمبارک شه!] جانداد دمور لاسونه ښکل کړل بیا په ستیج پورته شو: ـ موږ وبښئ ! : موږ لویه ګناه کړې ده دبل چا په لمسون مو دخپل هیوادسره جنګ کاو،دخپلو خلکو سره مو جنګ کاو،دا چې دسولې کمیټې دسولې پیغامو نه هر ې خواته خپاره کړل او تر موږ ورسیدل بیا نو پوه شوو چې دوطن ورانول ګناه ده . دا دبې غیرتو کسانو کار دی ،. جانداد چې ببره ږیره په موټي ونیوه په ملامتو سترګو یې خلکو ته کتل همدا به یې ویل[ بې علمي لویه بلا ده موږ کې علم نه و دپردو په خبرو ژر وغولیدو.او خپل وطن سره مو جنګ پیل کړ] جانداد زیاته کړه : هر

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ګام د سولې پر خوا

چاته لازم دی چې علم زده کړي . زه يې په ډاکه وايم چې په جنګ کې دپردو لاس شته .لکه امريکا، سعودي عرب ، انګريز، پاکستان ، ايران،۰۰۰ دا هيوادونه افغانان لمسوي پيسې ،توپک ورکوي جنګ ته يې ليږي .او که څوک له جنګ نه سر غړونه وکړي سر يې غوسيږي .موږ هم دپاکستان [isi ] دتعقيب لاندې وو.خو هوښياري مو وکړ خپل هيواد ته مو ځانونه ورسول دسولې له کاروان سره يو ځای شوو.جانداد چې عزيز ته وکتل وويل: ډيرې ډلې به نور هم راشي دسولې له کاروان سره په يوځای شي.خو ډير کم کسان به تر ډيره د[isi] په قيد کې وي يا به مړه کيږي يابه خپل هيواد ته راځي .جانداد دمور له فعا ليتونه مننه وکړه هغه يې په ښو الفاظو وستايله،وې ويل: هر زوی د داسې مبارزه مور ولري چې زوی پرې افتخار وکړي داسې مور چې دهر ډول شکنجو نه ونه ډاره شوه .موږ ليده چې دسولې پيېغام يې په کليو ګرځولو.دحق په ژبه به يې نارې وهلې [ سوله دانسان لپاره ښايته ژوند راولي ] جاندان يو ګل دعزيز په اوږه وټمبه،او بل ګل يې دمور په لاس ورکړ،هغه چې خپله سينه دعزيز له سينې سره يوځای کړ ويل يې[ سوله ددټولو افغانانو مبارک وي ،مور ته دهم مبارک وي ] جانداد دمور لاسونه ښکل کړ ستيج يې عزيز ته پريښودو.عزيز په ټولو غږ وکړ: _ [ سوله ددټول مبارک وي ] مور لاسونه ښورول ويل يې [ سوله مو مبتارک] دچشن کډونکونکو دسولې په کميټې ګلان وپاشل همدا به يې ويل[ سوله مو مبارک ] عزيز ، مور او دسولې کميټې ته يې دغازي امان الله خان دسولې مډآل په ټټر وټمبه ] عزيز او مور لاسونه پورته کړ چې نور خلکو هم ورسره لاسونه پورته کړي ووپه کډ او غبرک اواز وويل شو [ سوله ددټولوافغانانو مبارک وي ]

(c) ketabton.com: The Digital Library



پای

٤_ ١_ ١٣٩٥ [ډاکټر موج په خپل کور کې ]

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**